انصافی، بـه خـرج دادن خشـونت بـا کـوچکترین بهانـه ای، افسـردگی، اضـطراب، اخـتلال عواطـف، سعی در تحمل عقایـد و افکـار خـود بـه دیگـران، عـدم تـوان حـل مشـکلات خـود، برخـورداری از لحـن و سـخنان نیشـدار و زشـت و ناراحـت کننـده، علاقـه بـه قـدرت، نداشـتن رابطـۀ خـوب بـا والدین و دوسـتان خـود، عـدم توجـه بـه آینـده، زود خسـته و دلسـرد شـدن، توقعـات بـی مـورد و حـریص بـودن، قبـول هـر خطـری بـرای رسـیدن بـه اهـداف خـود، اغلـب شـدیداً ناراضـی، دارای حـس جـاه طلبـی، انعطـاف ناپـذیری و تنـد خـویی، تسـلیم و بـی اراده بـودن در برابـر رفتـار دیگران، غالباً دارای مواضع افراطی، برتر و بالا دانستن خود از دیگران و ....

نتـایج پـژوهش راجـع بـه خشـونت علیـه کودکـان نشـان مـی دهـد کـه آغـاز رفتـار هـای نـا مطلـوب علیـه کودکـان در محـیط خـانواده از جانـب والـدین و سـایر اعضـای بزرگسـال ایـن کـانون کوچـک انجـام مـی یابـد. در مراحـل بعـدی رفتارهـای نـامطلوب یـا خشـونت در سـایر محیط های اجتمـاعی ماننـد: کودکسـتان، محـل زیسـت، مکتـب، محـل کـار، مارکیـت هـا و غیـره صورت می گیرد که بر مبنـای ایـن خشـونت هـا آسـیب هـای فـراوان روانـی و بـدنی متوجـه آنهـا می شود. آسـیب هـای وارده برکودکـان را در مرحلـۀ بزرگسـالی مواجـه بـه مشـکلات عدیـدۀ مـی سـازد. بنـابراین بـرای کـاهش خشـونت و راه هـای بیـرون رفـت از ایـن معضـل اجتمـاعی پیشنهادات ذیل ارایه می گردد:

۱- از طریق رسـانه هـا، شـبکه هـای اجتمـاعی، منـابر و مسـاجد، جامعـۀ مـدنی و شـورای اولیـای شـاگردان و معلمـان، بـرای والـدین، خـانواده هـا و کـل جامعـه در مـورد عواقـب نـاگوار خشـونت علیـه کودکـان آگـاهی داده شـود و راه هـای حـل ایـن معضـل نیـز بـر مبنـای یافتـه هـای روان شناسی و جامعه شناسی ارائـه گـردد و همچنـان در ایـن راسـتا بـرای والـدین و سـایر گـروه هـای اجتماعی ورکشاپ های نوبتی نیز در نظر گرفته شود.

۲- برای کـاهش خشـونت علیـه کودکـان در کودکسـتانها و مکاتـب، دیـدگاه هـا و نتـایج پـژوهش های دانشـمندان روان شناسـی در مـورد خشـونت بـه طـور کـل و بـه طـور اخـص خشـونت علیـه کودکان و عواقب ناگوار آن شامل نصاب درسی تربیت معلم گردد.

**منابع:**

۱- ابوالقاسم، اکبری (داکتر)، آسیب شناسی اجتماعی، تهران، رشد و توسعه، ساوالان، ۱۳۹۰.

۲- احمد وند، محمد علی ، روانشناسی کودکی و نوجوانی، چاپ سوم، دانشگاه پیام نور، ۱۳۷۰.

۳- احدی، حسن و داکتر شکوه السادات بنی جمالی، روان شناسی رشد، تهران، پردیس، چاپ شانزدهم، ۱۳۸۵.

۴- ادهم، علی اکبر ، تاثیر خشونت و بدرفتاری والدین برکودکان،۸/۸/۲۵، ۱۳۹۵/۳/۱۳۹۱، .۷۵.mihanblog.com/post/category/۲۰http://hamyari

۵- انوری، حسن (داکتر)، فرهنگ بزرگ سخن، تهران، سخن،۱۳۸۱.

۶- بنکارت، پیتر ، رهایی ازخشم، ترجمه آزاده غرقی، تهران، مهتاب،۱۳۸۶.

۷-پایگاه اطلاع رسانی حوزه، خشونت خانوادگی و رفتار های خشونت آمیز علیه کودکان، ۱۶آبان ۱۳۸۸، استخراج شده ۱۳۹۵/۲/۲۵، www. Hawzah. Net/ fa/Magazine/ view/ 3814/ 86428/ 7108/ .

۸-سایت خانواده و مشاور خانواده، عواقب تنبیه بدنی در کودکان، ۱۳۹۳/۱۲/۵، ۱۳۹۵/۳/۱، www.Akairan.com/khanevadeh/ravanshenasi-koodakan/2012825164712.html.

۹-سلام (داکتر) ، /htmI تأثیرات مخرب روحی و روانی خشونت برکودک،۲۸ دی ۱۳۹۳، استخراج ۱۳۹۵/۱/۲۸، www.Hidoctor.ir/5889.

۱۰- گیدنز، انتونی ، جامعه شناسی، ترجمه منوچهر صبوری، تهران، غزال، چاپ دوازدهم، ۱۳۸۱.

۱۱- نجاتی، حسین ، روانشناسی کودک، تهران، بیکران، چاپ نهم، ۱۳۸۶.

مؤلف میرویس ځدران

# په معلم محوره او شاګرد محوره زده کړه کې د ټولګي مدیریت

مدیریت په لغت کې د یوې موسسې یا ادارې اداره کولو او منظمولو ته وایي او په اصطلاح کې هغه لاربښوونې او هغو منظمو معلوماتو ته ویل کیږي چې یو کس دهغې په وسیله د چارو ترمنځ هماهنګي اویوالی را منځته کوي او ادارې ته پر مختګ ورکوي. په هره ټولنه کې دا اړینه ده چې یوکس دې یوې ډلې او ادارې مشر ووسي ترڅو دغه ډله اواداره په بریالیتوب سره کارونه سرته ورسوي. همدارنګه ما پدې مقاله کې د ښوونیزمدیریت په اړه یوځه رڼا اچولي چې لوستلو ته یې ستاسې پام را اړوم.

**په معلم محوره زده کړه کې د ټولګي مدیریت:**

**تعریف:** له معلم محوره زده کړې څخه مطلب هغه زده کړه ده چې په هغې کې د ښوونې او زده کړې ټول فعالیتونه د معلم په واسطه ترسره کیږي. په دې میتود کې د زده کړې اصلي فعالیتونه معلم پر غاړه لري. لکه، د لکچریا وینا وړاندې کول چې دا یوه معلم محوره زده کړه ده چې اصلي موخه یکې زده کوونکوته د ښوونکي د معلوماتو لیږدول دي. د ټولګي مدیریت د تدریس او زده کړې له مهمو کاري عناصرو څخه حسابیږي، درسي ټولګی تل یوه مدیر ته اړتیا لري چې هغه ښوونکی دی.

دا څرګنده خبره ده چې درس او معلومات هغه وخت با ارزښته او ګټور وي چې زده کړه منظمه وي.په ټولګي کې غال مغال او هرج مرج یا بې نظمي د دې سبب کیږي چې د زده کوونکو او ښوونکي معلومات د فکري اختلال د را منځته کېدو سبب شي. ښوونکي باید دا په یاد ولري چې مدیریت وسیله ده، نه هدف. په هر صورت که د تدریس روش ښوونکی محوره یا شاګرد محوره وي، نو معلم د یوه مدیر او لارښود رول په ټولګي کې پر غاړه لري.

ښوونکی محوره زده کړې ته مستقیمه زده کړه هم ویل کیږي، چې د مدیریت په برخه کې یې زده کوونکي باید ټولګي ته په وخت حاضریدل، زده کوونکو په ټولګي کې د درس له پیل څخه تر پایه پورې په یو ځای کې ناست وي، هر زده کوونکی د ښوونکي په اجازه خبرې کوي.د معلم محوره زده کړې په مدیریت کې هغه زده کوونکي چې په ټولګي کې پوهه او مهارت لري، ښوونکی هماغه انتخابوي، د بیلګې په توګه: سوال او ځواب هرڅه له همدوی څخه کوي نور زده کوونکي همداسې پاتې کیږي. په دې زده کړه کې د زده کوونکو منظم ترتیب هغوی دې ته چمتو کوي چې په راتلونکي کې منظم وي.

په معلم محوره زده کړه کې مدیریت دیکتاتورانه دی اعتماد په نفس ته څوك درناوی نه لري، او زده کوونکي ته وخت نه ورکول کیږي، ښوونکي دا تصمیم نیسي چې یوه موضوع څه ډول زده کوونکو ته وښیي او شاګردان که موضوع زده هم کړي، نو ژر یې هیریږي ښوونکي کوښښ کوي چې ټولګی با نظمه وي، په ټولګي کې خبرې او شور نه وي. ښه مدیریت لرونکی ښوونکی په ټولګي کنټرول لري او ټول کار په خپله کوي او زده کوونکي یوازې ورته غوږ نیسي او ورته ګوري.

دیکتاتوري او قوي مدیریت پکې دی چې په قوي مدیریت، نظم او دیکتاتوري کې د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ لرې والی رامنځته کوي خو په شاګرد محوری کې واټن کمیږي.- په معلم محوره زده کړه کې زده کوونکي د ښوونکي تندي ته ګوري او درس ته نه متوجه کیږي، له ښوونکي او ښوونځي څخه یې زړه توریږي، په شاګرد محوره زده کړه کې ټول زده کوونکي په کار اچول کیږي. په معلم محوره زده کړه کې انګیزه نشته، اکثره د لیکچر له میتود څخه کار اخیستل کیږي، ډیره په لیکچرډډه لګول کیږي. زیاتره اتکا په لکیچر ده. په بیلابیلو میتودونو سره زده کوونکي تختې او درس ته متوجه کوي.- ښوونکی او زده کوونکي هریو خپل خپل کار کوي او یو د بل په کارونو کې کار نه لري، په معلم محوره زده کړه کې کله چې صنف ښه مدیریت شي په زده کوونکو کې د زده کړې ښه فرصتونه منځته راځي،

**شاګرد محوره زده کړه کې مديريت:**

**تعریف:**شاګرد محوره زده کړه د کارونو په تر سره کولو او فکر کولو سره د زده کوونکو شاملول په زده کړه کې فعاله زده کړه ده او هغه څه چې دوی زده کوي احساسوي يې. دا زده کړه په ټوله نړۍ کې د تاييد او منلووړ ده او عملا تر تطبيق لاندې ده

په دې زده کړه کې پر مطالبو د پوهېدو مسؤوليت او درک ټول د زده کوونکو پر غاړه وي او په ګروپي ډول فعاليتونه سرته رسوي، ځکه مديريت پکې ضعيف وي. ښوونکی يوازې مرسته کوونکی دی. شاګرد محوره زده کړه د غيرې مستقيمې زده کړې په نامه هم ياديږي.

شاګرد محوره زده کړه بېلابېل ميتودونه لري چې په دې ميتودونو کې مديريت کم دی، چې مهم ټکي يې دادي: د ډله ييز بحث په مرسته زده کړه، د زده کړې ګډ ميتود، پروژيي ميتود، د زده کړې تحقيقي ميتود.په شاګرد محوره زده کړه کې د بدني او دماغي فعاليتونو توازن ته په پام سره دواړه تر تمرين لاندې نيول کيږي

**په معلم محوره او شاګرد محوره زده کړې کې د مديريت توپيرونه په لاندې ډول دي.**

**معلم محوره زده کړه:**

- زده کوونکي غلي او بې حرکته وي، مديريت پکې قوي دی.
- زده کړه د لکيچر په بڼه وچه او بې خونده وي.
- زده کوونکي متن په خپل سر لولي او فقط حافظې ته يې سپاري.
- دا زده کړه تحملي بڼه لري چې دا يو ديکتاتورانه مديريت دی.
- په دې زده کړه کې د حواسو ونډه لږ وي.
- په تدريس کې د زده کوونکو رواني حالت چندان په پام کې نه نيول کيږي.
- د زده کوونکو چمتوالی چندان په پام کې نه نيول کيږي.
- زده کوونکي د ستومانی احساس کوي.

**شاګرد محوره زده کړه:**

- په دې زده کړه کې زده کوونکي فعال، خوځند، ويښ او ژوندي وي، خو مديريت پکې ضعيف وي.
- زده کړه د تجربې او مشاهدې په بڼه وي او اداره پکې کمزورې وي.
- زده کوونکي په عملي توګه کار کوي چې د ټولګي اداره يوڅه کمزورې وي.
- زده کړه تحليلي بڼه لري.
- ټول حواس پکې برخه لري او رواني حالت په پام کې نيول کيږي.

- د زده کوونکو زده کړه د زده کوونکي پر چمتو والي پورې اړه لري.
- زده کوونکي خوښ او د قوي احساس لرونکي وي.
- لوست د ورځني ژوند اړتیا بولي او په علا قمندۍ اومينې سره يې زده کوي.

ښوونکی یوازې د لارښوود او مرسته کوونکي حيثيت لري نه د حاکم او امرپه شان .

**د درسي ټولګيو د مديريت بېلابېل سبکونه:**

تعريف: د يوه درسي ټولګي مديريت دې ته ويل کيږي چې د زده کړې د څېړنې لپاره اړين شرايط برابروي. د ښوونکي په وسيله د درسي ټولګي اداره يوې خاصې پوهې، مهارت او هنر ته اړتيا لري. د ټولګي د مديريت سبکونه توپير لري. ښوونکي کولای شي ښوونې او روزنې موخو ته د رسيدو لپاره، د زده کوونکو د پوره پېژندنې او درسي فضا په پام کې نيولو سره بيلابيل مېتودونه يا سبکونه تجربه کړي. په عمومي ډول د ټولګي د مديريت (۳) ډوله ميتودونه شته چې هغه عبارت دي له:

**الف: پر ديموکراسی و لاړ مديريت:**

دا سبک د ټولګي د مديريت لپاره يو ډېر ښه مېتود دی، ځکه چې زده کوونکي له ښوونيز او تحصيلي اړخه ډېر پرمختګ کوي او څومره چې د ښوونکي او زده کوونکو ترمنځ ښې اړيکې او درناوی موجود وي، په همانغه اندازه زده کوونکو ته درس مهم او د پام وړ ګرځي. هغوی کولای شي له خپل ښوونکي څخه په يوه ازاده فضا کې د درس په هکله پوښتنې وکړي او د خپلې پوهې کچه لوړه کړي او د دې ترڅنګ، دوی خپله د ټولګي په مديريت کې مرسته وکړي. د ښوونکي په لارښوونې سره په فعاليتونو ګمارل کيږي، په دې ډول ټولګيو کې د زده کوونکو او ښوونکي ترمنځ ګډ تفاهم موجود وي او انضباطي ستونزې ډېرې نه رامنځته کيږي.

په دې کې عاقلانه برخورد د کار معيار ټاکي، د کار تقسيم، د زده کوونکو ګروپ بندي، عملي کارونه، روزنيز پروګرامونه او درسي مسؤوليتونه د ښوونکي او زده کوونکو په مشوره او ګډه همکارۍ پلانګذاري کيږي. د زده کوونکو ابتکاري قوه او تخليقي صلاحيتونه په واقعي ډول د خپل پرمختګ مراحل طی کوي، زده کوونکي په پوره ډاډ سره د ښوونکي په مرسته خپلې ستونزې حل کولای شي.

**ب: پر نه دخالت ولاړ( مطلق ازادۍ) مديريت:**

په دې ډول ټولګي کې د ښوونکي د ادارې موخې مشخصې نه وي، ښوونکی د ښوونيزو او روزنيزو موخو په ترسره کولو کې نيمګړتيا احساسوي. د تدريس او ټولګي د مديريت لپاره **چمتووالی نه لري، زده کوونکي آزاد پرېږدي،** ترڅو کوم کار چې يې زړه و غواړي سر ته يې ورسوي. هر کار د دوی

په خپله خوښه وي. همدارنګه، په دې مېتود کې د ځانګړو موخو د نه شتون او درسي ټولګي د مديريت د ضعف په سبب زده کړه کمېږي، په پايله کې د زده کړې فضا په بې بندوبارۍ او هرج مرج تبدليږي، زده کوونکي د تعليمي او تربيتي قانون او چوکاټ څخه خارجيږي او د مسؤوليت احساس نه کوي، نو په همدې خاطر تر ټولو ناوړه مېتود همدا مېتود دی.

**ج: استبدادي يا د زور زياتي مديريت:**

په دې ډول مديريت کې زده کوونکي د پوښتنې کولو اجازه نه لري، ټول تصميمونه د ښوونکي پر غاړه وي، زده کوونکو ته ډېر احترام نه کيږي، زده کوونکی د هيجان او اضطراب لرلو په خاطر د مسؤوليت احساس نه کوي او زده کړه چندان نه ترسره کيږي. هغوی د ښوونکي په حضور کې د فعاليتونو د ترسره کولو لپاره هڅې کوي، ولې کله چې ښوونکی شتون ونه لري، هېڅ فعاليت او کوښښ نه کوي، په داسې حال کې چې پر ډيموکراسۍ و لاړ مديريت کې زده کوونکي هڅې کوي، څو خپلې چارې په سم ډول ترسره کړي. په ديکتاتورانه چلند کې ويره او تردد په زده کوونکو حاکم وي، د زده کونکو علايق او اړ تياوې په نظر کې نه نيول کيږي، د امنيت او اطمينان احساس يې سلبيږي، په زده کوونکو کې د سوال کولو جرات کميږي.
په دې سبک کې ښوونکی د مديريت په برخه کې اصلي رول لوبوي، نو په دې سره، ښوونکو ته لازمه ده چې د مديريت د ميتودونو په اړه معلومات ولري.
**لنډه دا چې دا مديريت** د ډيمو کراسۍ د مديريت برعکس دی، زده کوونکو ته پکې ارزښت ورکول کيږي او زده کړه په آسانۍ سره ترسره کيږي. په دې ډول اداره کې زده کوونکي له ښوونکي سره علاقه نه لري، زده کوونکو ته ښوونځی او لوست د علاقې وړ نه وي، نو دوی نشي کولای چې په دغه ډول محيط کې په لازمه توګه ښوونې ته لاسرسی ولري او په درسونو کې پرمختګ وکړي.
مديريت د ټولو چارو لپاره ضروري دی، لکه: کورنی ژوند، توليدي مؤسسات، سياسي سازمانونه، ټولنيز سازمانونه سپورتي پروګرامونه اونور... په کوم ښوونيز او روزنيز واحد کې چې مديريت موجود نه وي د زده کړې واقعي انتقال ستونزمن او درسي پروګرام لانجمن وي.په لنډ ډول بايد ووايم: د يوه منظم تدريس لپاره په ټولګي کې درې شرطونه اړين دي: مناسب درسی ميتود، د ښوونکي شخصيتي ځانګړنې او د تدريس له فنونو څخه ګټه اخيستل.
په ډيموکراسۍ ولاړمديريت کې زده کوونکي هغه وخت ښه او په زړه پورې زده کړه کولای شي چې د پوښتنې او تبصرې کولو زمينه ورته برابره شي، درناوی ورته وشي، جرات ورکړل شي، ټولو زده کوونکو ته بايد په مساوي ډول په لوست کې ونډه ورکړل شي، تشويق کړل شي، نو خپله زده کوونکي هم بايد هڅه او هاند وکړي چې په لوست کې په فعالانه ډول ګډون وکړي په تکل کولو کې يې په خپله ونډه ولري، دښه مديريت لپاره ښوونکي ته پکاره ده چې د لوست او زده کوونکو د

ژوند تر منځ اړيکه ټينګه کړي ترڅو هغه څه چې زده کوي د هغې په واسطه د خپل ژوند ورځنی علمي ستونزې او ربړې هوارې کړي. ښه مهارتونه زده او په خپل ځان باورمن شي.

په زده کوونکو کې د مثبتو انګيزو پياوړتيا، زده کړې ته ډيره اغيزمنتيا ورکوي، ځکه چې هغه مهال هغوی ښه زده کړه کولای شي چې د پوهې زده کړه او ددغې زده کړې ګټې يې له خپلو هيلو سره سمې وي، په دغه صورت کې زده کړه ډيره اغيزمنه په زړه پورې او ګټوره کيږي.

ښوونکی بايد تل د زده کړې په بيلا بيلو برخوکې د زده کوونکو ذهني پرمختيا مطالعه او ترڅارنې لاندې ولري او د امکان په صورت کې نور ښوونکي او دغه راز د زده کوونکو مور او پلار په دغه بهير کې شريک کړي ښه او ارام چاپيريال د زده کوونکو د زده کړې پر وړتيا ډيره اغيزه لري او ښه زده کړه ترسره کيدای شي. لکه د خوشحالی اوخوښی نه ډک چاپيريال،مناسب درسي توکي او داسې نور...

**اخځليکونه**:

۱- بغلايی، حيدر محمدی:(۱۳۸۸). مديريت کلاس درس سالم انګيزش، ارتباط و انضباط، طلوع دانش، تهران..

۲- حسرت ښوونيار ضيا الرحمان :(۱۳۹۴). د ښوونيز مديريت اصول، يار خپرندويه ټولنه، جلال آباد.

۳- حقيار عبدالمنان:(۱۳۹۰). روانشناسی تربيتی، انتشارات سعيد، کابل.

۴- خپلواک، محمد طاهر:(۱۳۹۶). د ښوونې او روزنې بنسټونه او اصول، وايګل ارشاد کتابپلورنځی.

۵- صالح علی اکبر:(۱۳۹۵). ښوونيزه اداره، ختيځ خپرندويه ټولنه- جلال کوټ، ننګرهار.

ګل رحمان رحمان

# له انګرېزانو سره درېیمه جګړه

**آزادي تر پاچاهیه لا تیری کا**
**چې د بل تر حکم لاندې شي زندان شي**

**د خپلواکۍ د ۹۹ یمې کلیزې په ویاړ**:

هندوستان ته زمو د ګران هیواد افغانستان بنسټ ایښودونکي اعلیحضرت احمد شاه بابا د پوځي سفرونو په وروستیو کې انګلیسي کمپنۍ د سوداګرۍ په نوم هندوستان ته ننوتلې او ورو ورو یې په خپلو استعماري او ښکېلاکي فعالیتونو پیل وکړ، ویل کیږي چې د پاني پت په مشهوره جګړه کې هم ۱۶۰۰ انګریزانو له همدغه شمېر توپونو سره ګډون درلود. انګریزانو له احمد شاه بابا وروسته د هغه ځامنو او لمسیانو په تېره د اعلیحضرت تیمور شاه دراني او اعلیحضرت شاه زمان د پاچاهي په وخت له افغانانو سره د خپل رقیب په توګه په پوځي، سیاسي او اقتصادي ډګرونو کې فعال وو تر هغه پورې چې د تفرقې اچولو له لارې یې په افغاني سردارانو کې درز رامنځته او د یوې خوا او بلې خوا په پلوي یې وکړای شول په افغاني حکومتونو کې لاره پیدا او بیا وروسته د لوی افغانستان د خاورې یوه یوه ټوټه له هغې له بدنې څخه جلا او د نفاق د اور په بلولو د افغانستان

خپلواکي او استقلال تر پوښتنې لاندې راولي؛ خو افغانان چې آزادي او خپلواکي يې په څټه کې نغښته هيڅکله دوی ته د تسليم سر ټيټ نکړ او د افغان او انګليس په دريو جګړو کې يې، انګريزانو ته داسې سبق ورکړ چې نظير يې په نړۍ او سيمه کې ډېر لږ ليدل کيږي.

د يو روسي جنرال په کتاب کې «جنګ در جګدلک» کې مې لوستي و چې د افغان او انګليس په دويمه جګړه د انګريزانو اولس نيم زره پوځ په داسې حال کې چې د جګدلک له لارې د جلال آباد په لور د تېښتې په حال کې و د غازيانو له خوا ټول تباه شول او يوازې ډاکټر برايډن جلال آباد ته په داسې حال کې چې ټپي او حال يې ډېر بد و، ورسېده.

افغانانو په جګړه کې له جزائيل ټوپک څخه کار اخيسته هغه ټوپک چې د افغاني پښانو (اهنګرانو) له خوا جوړ شوی و، افغاني جزائيل ټوپک له انګليسي مسکت ټوپکو څخه لرې او رسا ويشتل کول....(۱)

د افغان او انګليس دريمه جګړه چې د خپلواکي په جګړه مشهوره ده، افغانان د بريتانيا د وخت د ستر زبرځواک چې امپراتوري کې يې لمر نه ډوبېده مخ وو، هغه هم په داسې حال کې چې بريتانيا د دويمې نړيوالې جګړې د فتحې نشه يې لا په سر کې وه د ميړنيو افغانانو سره چې په سر کې يې په هيواد او خاورې مين سردار، غازي اميرامان الله ولاړ و، مخ شول.

ښاغلي قدرت الله حداد په خپل کتاب «افغان ملي تاريخ» کې په دې اړه داسې ليکي:

«د (۱۲۹۶ هـ ش) د کب په نهمه امان الله خان په کابل کې د پادشاهي اعلان وکړ.

د همدغه کال د حوت په ديارلسمه يې انګليسانو ته وليکل: وروسته له القابو، زما پلار د يو شمېر خائينانو له لاسه ووژل شو. د خدای په اُميد او مرسته د پادشاهي خولۍ مې په کابل کې د افغانستان په پايتخت کې پر سر کېښوده. په دغه وخت کې ټولو خلکو او عسکري قطعاتو په شور او ځوږ زما هر کلی وکړ. دا خبره بايد زياته کړم چې خپلواک او مستقل افغانستان په هره ګړۍ او موسم کې چمتو دی چې د دوستۍ د ټولو قاعدو په نظر کې لرلو سره هر ډول د دوستۍ او تجارتي تړون او قرارداد او نور چې د دواړو هيوادو لپاره ګټور وي د مساوي او برابرو حقوقو له ساتلو سره د انګلستان له عاليه حکومت سره لاسليک کړي.

په دغه ليک کې امان الله خان د خپلواکۍ او مساوي حقوقو مسأله د خپلې پادشاهي مسأله او د پلار د وژل کېدو مسأله په ښه صورت ځای کړې او ليک هم ډېر لنډ دی»....(۲)

د افغانستان دولت د امير امان الله خان له پاچا کېدو لس ورځې وروسته د ۱۹۱۹ کال د مارچ په ۳ مه د هند انګليسي نائيب السلطنه لارد چلسفور ته يو ليک واستاوه چې د افغان او انګليس ۱۹۰۵ کال په تړون کې تجديد نظر وکړي او دواړو خواو تر منځ يې د حقوقو د مساوي والي خبره کړې وه؛ خو شاه امان الله د انګليس ځواب ته په تمه نشو او عملاً يې پوځي نقل حرکات پيل او د سفر برى امر يې صادر کړ او دغه راز يې خپل استازي شوروي اتحاد ته واستاول او د افغانستان د آزادي پېژندلو غوښتنه يې وکړه، د شوروي د وخوت حکومت د ۱۹۱۹ د مارچ په ۲۷ مه د نړۍ د لومړني دولت په توګه د افغانستان دولت او خپلواکي په رسميت وپېژندله؛ خو دا په داسې وخت کې و چې په همدې کال کې افغانانو له انګريزانو سره په جګړه کې تر دې مهاله ډېر برياليتوبونه تر لاسه کړي و او د پکتيا په محاذ يې د انګريزانو پوځونه مات کړي و او پوځي کلاګانې يې فتح کړې وې او خپل بيرغونه يې ورباندې درولي وو....(۳)

د خپلواکۍ اعلاميه هم ډېره مختصره ده؛ چې د اعليحضرت امان الله خان له خوا اعلان شوه: «زه ځان او خپل هيواد له کورني او بهرني پلوه په تمامه معنی خپلواک، مستقل او خود مختاره اعلانوم. زما هيواد به وروسته لدې لکه د نړۍ د نورو قدرتونو او هيوادونو په څېر خپلواک وي. هيڅ خارجي قدرت ته به د سر د يوه وېښته په اندازه اجازه ورنه کړم، چې زموږ په داخلي او خارجي مسايلو کې لاس وهنه وکړي. که څوک وغواړي په دې کار لاس پورې کړي (توره يې پورته کړه) په دې توره به يې سرپرې کړم» حاضرينو نعره کړه الله اکبر او نصر من الله و فتح قريب. تل دې وي افغانستان! ژوندی دې وي امان الله غازي.

د افغانستان د خپلواکۍ اعلان په هيواد کې د ننه او د باندې يوه زلزله پيداکړه، په ټول هندوستان کې په عربي هيوادو کې د افغانستان دې مهم اقدام ته ټول حيران وو. ځکه انګليس په نړۍ کې يوازينی طاقت و چې په نيول شوو ځمکو کې يې لمر نه ډوبېده. د هندوستان د مسلمانانو، هندوانو هيجان زيات شو. انګريزانو يو نوی سخت قانون جاري کړ. ډېر خلک يې بنديان کړل او عام قتل يې شروع کړ. د همدغې مياشتې په پای کې امان الله د انګريزانو پر ضد په يوه عامه جلسه کې يوه هيجاني وينا وکړه او په هغه کې يې د امرتسر عام قتل وغانده. په دغې پېښې

کې انګلیسي جنرال «دیر» د خلکو په ګڼه ګوڼه باندې داور امر وکړ. په لسو مینټو کې یې ۳۷۹ کسان ووژل. (۱۲۰۰۰) کسان زخمیان شول امان الله خان چې دغه واقعات بیانول؛ نو ویې ژړل او زیاته یې کړه دا څه ظلم او ستم دی چې زموږ پر هندي ګاونډیانو باندې کیږي. یوازې دانه دی ټول مقدس ځایونه او بغداد د دغو ظالمانو په لاس کې لویدلي دي. زه تاسو ته وایم چې که جهاد کوئ دغه یې وخت دی. (ټولو نعره وکړه الله اکبر جهاد او غزا کوو. امان الله خان وویل: تاسو نه مالیه نه اخلم. تاسو خوراکي شیان د جهاد لپاره برابر کړئ. بدایان دې وسله په بیه واخلي او بې وزلو ته دې د ضمانت په مقابل کې ورکړي. په ټول هیواد کې د ډیورند له کرښې آپلو او دې پلو غوغا جوړه شوه. نارینه ښځې واړه او زاړه په یوه صف کې ودرېدل....(۴)

د (۱۹۱۹) د اپریل په ۱۵ ویکټوریا د انګلیستان ټولواکمنې امان الله خان ته ولیکل چې انګلیستان د پخوانیو تړونونو له دوام سره علاقه لري. یعنې چې خپلواکي په د پلوماتیکو لارونه تر لاسه کیږي او ښایي چې تورې ته لاس شي. همدا و چې د جګړې لپاره ملت چمتو و. عکسري قطعي هم چمتو شوې چې د هند یعنې انګلیس پر خاورو برید وشي. طبیعي ده چې لومړی شرقي او جنوبي خاورې مخې ته راتلې. چې ټول پښتانه او خپل خلک و. هغوی هم په ټول قوت جهاد ته حاضر وو. لکه چې څرګنده ده سپه سالار صالح محمد جلال آباد ته، سپه سالار محمد نادر پکتیا ته او سردار عبدالقدوس کندهار ته ټاکل شوی وو. لومړني ترتیبات داسې وو چې یوه پلا دغه قوې د اور کرښو خطونو ته ورسیږي او هلته دې د مرکز د امر انتظار وکړي. دلارو په اوږدو کې نارینه او ښځو پر دغو ملي قوتونو ګلونه او خواږه شیان شیندل او داسې جوش او هیجان و چې د هر چا په سترګو کې د افغاني غیرت اوښکې ولاړې وې.

اعلیحضرت امان الله خان د یوه سپاهي جامې په ځان کړې؛ د حرب په وزارت کې د عمومي قوماندان په حیث ناست او پخپله به یې د چارو څارنه کوله. نقلیه عصري وسایل نه و. له ټانګو، آسونو او اوښانو څخه استفاده کېده؛ خو ملت عزم کړی و د جنګ تیاری کېده. ځوانانو په بازارونو، جوماتونو کې شعارونه ورکول. هر چا به په تورو او ټوپکو لاس واهه. ځینې لیکوالان وایي چې د چارو تنظیم په سمه توګه کېده او جاسوسانو بدې آوازې نه خپرولې؛ نو نه یوازې لوی افغانستان آزادیده؛ بلکې هندوستان به هم د انګریزانو له پنجو وتلی وای. د افسوس خبره دا ده چې وسایل لږ وو. ارتباط سم نه تأمینده.

مؤرخ وايي چې يوه سپين ږيري را ته د خپل سترګو ليدلی حال داسې بيان کړ: په ټانګو کې پخه ډوډۍ او غوښه جلال آباد ته لېږل کېده. عبدالعزيز خان حربيه وزير يو ټانګيوان چې چټکې يې نه کوله په ښپېړه وواهه. امان الله خان دغه وخت له کومې را پيدا شو. ټانګه وان يې په غېږ کې ونيو او دلاسايي کړ وروسته يې وزير ته وويل دلته يې چې ته په ښپېړه ووهې؛ په لار کې يې عسکر وژني. د هر افغان قدر پر خپل ځای دی. په تاريخ کې هر لوستونکی بايد هغه زمانه او وسايل په نظر کې ولري.

لومړی سړی او قوه چې سرحد ته ژر ورسېده؛ د صالح محمد سپه سالار قوه وه. که څه هم چې د لاور قومانده نه وه ورکړې. شرقي قوه لږ د ډيورنډ له تحميلي کرښې ورتېره شوه، له انګريزانو نه يې د اوبو چينه هم ونيوله. زر شاه شينواري د انګليس محلي پلويان ووژل. د سرحد کميشنر روز کيپل امان الله خان ته د هند د وايسرای له لار ي وليکل چې زرشاه شينواری چې د هند او افغانستان دښمن دی؛ بايد ووژل شي؛ خو امان الله خان ونه منله.

امان الله خان انګريزانو ته داسې وليکل: «ستاسو حکومت ښايي چې زموږ حکومت د يوه خپلواک حکومت په حيث وپېژني او دهغه جغرافيايي او سياسي اهميت ته دې د احترام په نظر وګوري. داسې ښکاري چې تاسو زموږ هيلې په نظر کې نه نيسئ. له زرو افسوسونو سره بايد وويل شي چې ستاسو له ليک نه داسې څرګنديږي چې تاسو دغه حقيقت نه منئ. افغانستان چمتو دی چې د مساوی حقوقو پر بنسټ له تاسو سره قراردادونه امضاء کړي او ستاسو له حکومت سره د دوستۍ اړيکي ولري. که تاسو حاضر شئ خپل ظالمانه قوانين فسخ کړئ او د خلکو حقوق په رسميت وپېژنئ. اوسني خطرناک حالات به په مثبته توګه بدلون ومومي او دنړۍ پر مخ به د بدمرغيو دروازې وتړلی شي. دا يو حق دی چې بايد وغوښتل شي. هيله لرم چې ستاسو حکومت به له ژور او بشپړ پوخ فکر څخه کار واخلي او د خبرې په ژورتيا پوه شي.

خو انګليسان حاضر نه شول چې دغه ليک ته مثبت ځواب ورکړي. بله لاره پاتې نه شوه. د (۱۹۱۹) د مې په دريمه جګړه پيل شوه. انګريزانو پېښور د افغاني پوسته خانې آمر غلام حيدر چې د امان الله خان ابلاغيې يې په پښتنواو مسلمانانو کې وېشلې وې او دهند خپلواکي غوښتونکی لکه ملاپ سنګهـ عبدالجليل ډاکټر کوش يې ونيول او ډهلي ته يې ولېږل.

افغانانو په باغ کافرکوټ کې انګليسي چاونۍ. ټل، وانه د توچي دره د سپين وام کلا، شيوا، درسمند ونيول. افغاني قواوې د پرمختګ په حال کې وې. له پېښوره عافيت غوښتونکي د وتلو په حال کې وو. له سپين بولدك سره افغاني عکسرو تر وروستي سرې پورې تن په تن، برچه په برچه جګړه وکړه. افغاني قواوې يو نيم ميل له کرښې ور واوښتلې. چمن هم ونيول شو او کوېټه تر فشار لاندې راغله. د فقيرزي مرغه او د هندو باغ شا او خوا تپې او غونډۍ ونيول شوې. اپريديو او اکاخيلو د درې بازار ونيو. بارلي علي مسجد کې انګريزي، تهاڼې ونيولې شوې.

دلته د دې خبرې ذکر ضروري دی چې دغه پرمختګونه وړاندې وروسته و او سرحدي پښتانه يا شرقي او جنوبي افغانانو په جوش او پښتنې غيرت يرغلونه او بريدونه کول؛ خو افسوس چې مرکز يعنې کابل کمزوری و. دلته دولتی مامورين او راحت غوښتونکي مشران ووېرېدل او د سولې لپاره هلې ځلې رواني وې.

په داسې حال کې په همدغه وخت يعنې کله دا ورځ نه وي؛ يوه ورځ وړاندې وروسته انګليسي کميشنر روزکيپل په ديارلسم د مې (۱۹۱۹) د هند وايسرای ته وليکل: «افغانان په زړورتيا جنګيږي؛ خو د هغوی د قوماندې کادرکمزوری دی او ټرانسپورټي وسايل نه لري. پراخې مانورې نه شي کولای. موږ زياتره د قومونو او ځايي خلکو له خوا وېره لرو. هغوی ټول د جهاد په نامه خپله لوړه ايماني وظيفه بولي چې وجنګيږي او داوطلبانه د جګړې ډګر ته رادانګي».

نوموړي کميشنر بيا ليکي: په لنډيکوتل کې د تهاڼې له اووسوو څخه يوازې سل تنه پاتې دي او د هغو افسران وايي چې د دغو افرادو ضمانت نه شي کولای. په جمرورد کې د پنځو سوو عسکرو له جملې نه يو پنځوس تنه حاضر دي. موږ غواړو چې دغه افراد هم خلع سلاح کړو. څو د عمومي قيام په صورت کې خلکو سره يو ځای نه شي»

جان منې د انګليس پولټيکل ايجنټ په شمله کې وايسرای ته وليکل: «د ټل ښار له لاسه وتلی؛ نو د جلال آباد د نيولو پلان دې وځنډيږي؛ ځکه دومره ټرانسپورټي وسيلې نه لرو چې دواړو جبهو ته ورسيږو. موږ بايد د افغانستان په خاوره کې له پرمختګ څخه ډډه وکړو. ځکه د افغانستان ټولو خلکو د سرحد په دواړو خواو کې پټيلې چې د افغانستان د حکومت په نظر ګوري او موږ تيري کوونکي بولي».

له دغو لنډو راپورو څرګندېږي چې په دریم جنګ کې افغانان بریالي وو. چې ټول افغانستان یا لوی افغانستان آزاد کړي او بالاخره هند له انګلیسانو آزاد شي؛ خو همدغه وخت یو شاعر د امان الله خان په باب وایي:

دلم بپاکی دامان غنچه می لرزد
که بلبلان همه مستند و باغبان تنهاست

دا ټول د ملي تاریخ هغه برخې دي چې که پاملرنه ورته وشي او راتلونکي وسنجول شي لې تر لږه به مستقبل سم شي. د مثال په توګه که موږ د استقلال اعلامیه په سرو زرو لیکلې وای او هغه مو سرمشق ګرځولی وای؛ هیڅوک د خارج نوکران نه جوړېدل...

**اعلامیه:**

«هیڅ خارجي قدرت ته به د سر د یوه وېښته په اندازه اجازه ورنه کړی شي چې زموږ په داخلي او خارجي مسایلو کې لاس وهنه وکړي. که څوک وغواړي په دې کار لاس پورې کړي؛ په دې توره به یې سر پرې کړو».

انګلیسي جنرال مونرو په خپلو یادداشتونو کې لیکلي دي: «وضع ډېره خطرناکه ده، که چېرې محمد نادر له څو محدودو کسانو سره په دغه عمل لاس پورې کړي افغانان خپلو هدفونو ته رسیږي»....(۵)

د هیواد نامتو مؤرخ غبار لیکي:« کله چې د خپلواکي خبره د امیرامان الله خان له خوا راپورته شوه په ټول هیواد کې په زرونو خلکو د انګلیسانو خلاف د جهاد ملا وتړله او له خپلو مشرانو او علماوو سره یې د جګړې ډګر ته راووتل دغه راز د ډیورنډ د تحمیلي کرښې په اوږدو کې له پېښوره رانیولې بیا تر کوټې پورې ټول خلك له انګریزانو سره جګړې ته تیار شول، د دوی وسلې، مهمات او اذوقه ټوله په خپله غاړه وه او دولت له خوا څه نه ورکول کېدل.

غبار دغه راز لیکي کله چې سپه سالار محمد نادر خان د ۱۹۱۹ کال د اپریل په ۲۴ مه د ګردیز ښار ته ورسېده او له انګلیسانو سره یې د جګړې نیت څرګند کړ په ټوله پکتیا کې د خلکو شور او ځوږ را پورته شو او غورځنګ پیل شو د افغاني قوماندانانو پلاوي پولې ته د تلو په وخت کې د زرونو ټوپکو په ډزو، ډول او

سرني بدرګه کېده، داسې انګېرل کېده چې ګويا له انګليسانو سره جګړه د دغو باتورو قومونو په منځ کې د واده د جشن حيثيت لري، دغه و چې د پکتيا ټول شته قومونه، لکه اکاخېل، سليمانخېل، احمدزي، منګل، ځاځي، ځدراڼ، تڼي، څمکني، خروټي، حسن خېل، هاشم خېل... راووتل او بيرغونه يې وتړل او جنګ ته تيار شول، جنګ ته دغه شان راوتل لکه څرنګه چې په نړۍ کې معمول ده د دفاع د وزارت له خوا کومه قوماندده نه وه ورکړل شوې او نه د جنګ لګښت او اذوقه چا په غاړه اخيستې وه، دغه احضار زموږ د خلکو د آزادي غوښتنې او خپلواکي د لوړ احساس زېږنده ده چې د تاريخ پاڼې ورباندې رنګينې دي....(۶)

«د انګليس ۳۴۰ زره کسيز پوځ چې ۱۸۵ زره حيوانات، د اوسپنې لارې، سرکونه، موټر، مخابرات او الوتکې يې هم په واک کې درلودې له افغانانو سره په يوه نابرابره جګړه کې ماته وخوړه د ټل کلا له خپل جنګي ساز او باز سره تسليم شوه او انګليسانو د ډيورنډ د کرښې په اوږدو کې خپلې ټولې تاڼې او پوځي چوڼۍ له لاسه ورکړې او د سولې وړانديز يې وکړ د بريتانيا دولت د افغانستان له دولت سره د يو مساوي او همتا دولت په توګه د سولې تړون لاسليک کړ او افغانانو د توري په زور خپله خپلواکي تر لاسه کړه د سولې تړون د سردار علي احمد خان له خوا لاسليک شو، چې ځينې مواد يې د روښن فکرانو د تائيد وړ ونه ګرځېدل»....(۷)

افغانستان د تاريخ په اوږدو کې د اشغالګرو او تيري کوونکو هديره وه او هر چا چې زموږ خاورې ته په سپکه کتلي الله(ج) په شرمونو شرمولي او په ټيټ سر يې له دې خاورې ښنې سپکې کړې دي چې د شلمې پېړۍ په وروستيو کې د شوروي اتحاد سور پوځ ماتي چې يو وخت امريکايانو د هغوی د حملې له وېرې د شپې خوب نشو کولای زموږ د ولس او مېړنيو خلکو په مېړانه او نارينتوب داسې مات او ټوټې ټوټې شو چې نه شوروي اتحاد پاتې شو او نه يې هم په مدارونو کې سپوږمۍ، شوروي جمهوريتونه آزاد شول او نورو ټولو سوسياليستي هيوادونو خپل رنګ، نوم او نښان بدل کړ چې لاتر اوسه نظم او ټيکاو نلري. په شلمه پېړۍ کې افغانانو دوه امپراتورۍ يوه لويه بريتانيا او بل شوروي اتحاد مات کړ او د نړۍ هيوادونو ته يې دا وښوده چې که غر لوړ دی په سر يې لار شته اوالله(ج) د هر فرعون لپاره يو موسی زېږوي او ظالم په ظالم دفعه کوي؛ څو د ځمکې نظام فاسد نشي.

د افغان او انګليس دريمه جګړه چې په هيواد کې د خپلواکي د بيا لاسته راوړلو سبب وګرځېده د نړۍ او سيمې د هيوادونو لپاره د عبرت ستر درس او زموږ د هيواد د تاريخ زريني کرښې جوړوي، موږ د هيواد د خپلواکي د ۹۹ يمې کليزې په وياړ د خپلواکي د جګړې دا څو لنډې کرښې د هيواد د وياړلي تاريخ له پاڼو را ټولې کړې هيله ده، چې د آزادۍ روح مو وربانديې ښاد او تنده مو وربانديې ماته شوې وي.

**سرچينې**:


۱ـ حداد قدرت الله، افغان ملي تاريخ، ۱۳۸۲ هـ ش، امام الدين ساپي مطبعه ۲، ۶ مخونه

۲ـ حداد قدرت الله، افغان ملي تاريخ، ۱۳۸۲ هـ ش، امام الدين ساپي مطبعه ۴۹۷ مخ

۳ـ غبار مير غلام محمد، افغانستان در مسير تاريخ ۷۵۶ مخ

۴ـ حداد قدرت الله، افغان ملي تاريخ، ۱۳۸۲ هـ ش، امام الدين ساپي مطبعه ۵۰۴ مخ

۵ـ حداد قدرت الله، افغان ملي تاريخ ۵۰۲ مخ

۶ـ غبار مير غلام محمد، افغانستان در مسير تاريخ ۷۶۴ مخ

۷ـ غبار مير غلام محمد، افغانستان در مسير تاريخ ۷۷۴ مخ

د سرمؤلف مرستیاله فروزان خاموش

# د فردوسی په شاهنامه کې د ښځو ژوند

**دوهمه برخه:**

دشاهنامې په یوې بلې برخې کې د جریری داسې یادونه شویده چې خپل اتل زوی فرود ته بـه یـې پـه جنګي چارو کې لارښوونه کوله، حال کې:

جریره زني بود مام فرود — زبهر سیاوش دلش پر ز دود
برمادر آمد فرود جوان — بدو گفت کای مام روشن روان
از ایران سپاه آمد وپیل وکوس — به پیش سپه در، سر افراز طوس
چه گویي چه باید کنون ساختن — نباید که آرد یکی تاختن
جریره بدو گفت کای درمساز — بدین روز هرگز مبادت نیاز
به ایران برادرت شاه نوست — جهاندار وبیدار کیخسروست
ترانیک داند بنام گوهر — زهم خون وز مهر یک پدر ۳۳۴:۲

**فرنګیس:** د افراسیاب لور،د سیاوش مېرمن او کیخسرو مور وه.

سیاوخش را دل پرآزرم شد — زپیران رخ او پر از شرم شد
بدو گفت او هرچه خواهی بساز — تو دانی که از تو مرا نیست راز
چو بشنید پیران سوی خانه رفت — دل وجان ببست اندر آن کار تفت
درِ خانه ی جامه نابرید — به گلشهر بسپرد پیران کلید
که او بود کد بانوی پهلوان — ستوده زنی بود و روشن روان
به گنج اندرون آنچه بود نامدار — گزیدند زربفت چینی هزار

بیاورد بانو زبهر نثار ز دینار با خویشتن ده هزار
به نزد فرنگیس بردند چیز زبان ها پر از آفرین بود نیز
بدادند دختر به آیین خویش چنان، چون بود در خور دین خویش
پیامی فرستاد پیران چو دود به گلشهر تازی فرنگیس زود
شود تا رساند سوی شاهزاد بگفت آن زمان با فرنگیس شاد
بیامد فرنگیس، چون ماه نو به نزدیك آن تاجور شاه نو ۳۳۷:۲

**سودابه** : دهاماوران دپاچا لور او د کاووس میرمن وه.
نخستین سپهدار هاماوران بفگند شمشیر وگرز گران
به پیمان که ازشهر هاماوران سپهر دهد ساو وباژ گران
ز اسپ و سیلح وزتخت وکلاه فرستد بنزدیک کاووس شاه
چو این داده باشد برو بگذرد سپاهش برو بوم او نسپرد
از آن پس بکاووس گوینده گفت که او دختری دارد اندر نهفت
که از سرو، بالاش زیباترست زمشك سیه بر سرش افسرست
نشاید که باشد بجز جفت شاه چه نیکو بود شاه را جفت ماه
بشد مرد بیدار روشن روان بنزدیک سالار هاماوران
زبان کرد گویا ودل کرد گرم بیا راست لب را به گفتار نرم
غمی شد و سودابه را پیش خواند زکاووس با او سخن ها براند
چه گویی تو اکنون هوای تو چیست؟ بدین کار بیدار رای تو چیست؟
بدو گفت سودابه، زین چاره نیست ازو بهتر امروز غمخواره نیست

کله چی هاماوران پاچا پدی وپوهېده چې سودابې هم زړه ده، نو لاس په کار شو او خپل ایلچـي یـې راوغوښت او دخپل دین او آیین په اساس یې په یوې هفتې کې د مهترانو او کارپوهـانو پـه لاس کـار کارجوړ کړ. په زرها و اوښان او آسونه یـې لـه دیبـا او دینـار ښخه بـارکړي او د کـاووس دربـار تـه راولېږل شاهنامه پدې اړه داسې وایي:

یکی لشکر آراسته، چون بهشت تو گفتی که روی زمین، لاله کِشت
چو آمد به نزدیک کاوس شاه دل آرام با زیب و با فَر و جاه
دو یاقوت خندان دو نرگس دژم ستون دو ابرو چو سیمین قلم
نگه کرد کاووس وخیره ماند به سودابه برنام یزدان بخواند
یکی انجمن ساخت از بخردان زبیدار دل پیر سرموبدان
سزا دید سودابه را جفت خویش ببستند عهدی بر آیین و کیش ۱۷۱:۱

**روشنک:** د دارا لور او د سکندر میرمن وه.

بفرمود، تا پیش او شد دبیر قلم خواست رومي و چینی حریر
نویسنده از کلک، چون خامه کرد سوی مادر روشنک نامه کرد
چو جفت ترا روز برگشته شد بدست یکی بنده برکشته شد
بر آیین شاهان کفن ساختم ورا زین جهان تیز پرداختم
نیابد کسی چاره از چنگ مرگ چو باد خزان است و ما، همچو برگ
جهان یکسر اکنون پیش شماست براندازد دارا فراوان گواست
که او روشنک را بمن داد و گفت که، چون او بباید ترا در نهفت
دل خویش را پر مدارا کنید مرا در جهان نام دارا کنید
سوی روشنک همچنین نامه یی زشاه جهاندار خود کامه یی
چو آیی شبستان ومشکوی من ببینی توباشی جهانجوی من
سر بانوانی وزیبایی تاج فروزندهٔباره و تخت عاج
مر آن نامه راخوب پاسخ نوشت سخن های بامغز وفرُخ نوشت
بجای شاهنشاه مارا تویی چه خورشید شد، ماه مارا تویی
دگر آنک از روشنک یاد کرد دل ما بدان آرزو شاد کرد
پرستنده تست ما بنده ایم بفرمان ورایت سرافگنده ایم
چو رومی بنزد سکندر رسید همه یاد کرد آنچه دید و شنید
سکندر زگفتار او گشت شاد باآرام تاج کسبی بر سر نهاد

دشاهنامې په يوې بلې برخې کې راغلي دي:

ز دیوان پرستنده گان خواستند چهل مهد زرین بیاراستند
یکی مهد باچتر وبا خاد مان نشست اندرو روشنک شاد مان
ز کاخ دلارای تانیم راه درم بود ودینار واسپ وسپاه
چو ماه اندر آمد به مشکوی شاه سکندر بدو کرد چندی نگاه
برآن بزر بالا وآن خوب چهر توگفتی خرد پروریدش بمهر ۸۳۰:۱

**شیرین او مریم:** دخسرو میرمنې او مریم د قیصر دپاچا لور وه.

(شیرین د فردوسی په شاهنامه کې منفی څهره ښودل شوېده، خو دنظامیگنجوي په خمسه او ځینو نورو داستانونو کې دخپلې ټولې خورې مینې سره سپیڅلې او پاک لمنه څېره ګڼل شوېده. په ډېرو

داستانونوکې یوه بزرگواره، وفاداره،هنرپوهه او خپل ټولنیز مقام او موقعیت ته پابنده او دخپلې کورنۍ د درناوي ساتونکې ښځه بلل شوېده.) ۵۰۶:۳
په شاهنامه کې د شیرین یادونه داسې شوېده:

چو آگاهي آمدزخسرو براه بنزد بزرگان ونزد سپاه
که شیرین به مشکوی خسرو شدست کهن بود کار جهان نوشدست
همه شهر زان کار غمگین شدند پر اندیشه ودرد ونفرین شدند
نرفتند نزدیک خسرو سه روز چهارم چو بفروخت گیتی فروز
فرستاد خسرو مهان را بخواند بگاه وگرانمایگان برنشاند
بدیشان چنین گفت کاین روز چند ندیدم شما را شدم مستمند
بیازردم از بهر آزار تان پر اندیشه گشتم زتیمارتان ۱۳۴۶:۱

وروسته تر ډېرو خبرو، له موبدانو څخه یو تن دریږی او خسرو ته وایی: دتا له پاک گوهر څخه موږ دا طمع نه درلوده چې ته دې په خپل مشکوی کې شیرین ته آفرین ووایې وروسته د اعتراض په ډول یو یو پاڅېد او ټول ولاړل. بله ورځ موبدان له لازمو آدابو سره د خسرو مجلس ته راغلل، او له بوینې وینې ډک یو جام یې هم له ځان سره راوړ او دخلکو په مینځ کې یې کېښود. ټولو یوبل او بیا خسرو ته وکتل، خسرو وپوښتل: چې دا بوینه وینه د چا ده؟ او دڅه لپاره مو دلته راوړې ده؟
موبد وویل:چې دا ددښمن کثیفه وینه ده، تشت یې لاس په لاس وگرځاوه او هریوه به ورڅخه مخ آړاوه، بیایې تشت تش او پاک کړاو د میو او مشک وگلاب څخه یې ډک کړ چې دلمر په شان وځلېده. موبد ورته وویل:

زشیرین بدان تشت بُد رهنمون که آغاز، چون بود و فرجام چون
بموبد چنین گفت خسرو که تشت همانا بر این گر دگرگونه گشت
چنین گفت خسرو که شیرین به شهر چنان بد که آن بی منش تشت زهر
کنون تشت می شد بمشکوی ما برین گونه پر بو شد از بوی ما
از آن پس فزون شد بزرگی شاه که خورشید شد آن،کجا بود ماه ۱۳۴۶:۱

همدارنگه:د مریم یادونه هم دلته داسې شویده:

زمریم همی بود شیرین به درد همیشه زرشکش دو رخساره زرد
بفرجام شیرین ورا زهر داد شد آن نامور دخت قیصر نژاد
چوسالې برآمد که مریم بمرد شبستان زرین به شیرین سپرد ۱۲:۵

**شهرنوازو درنواز:** دجمشید لورگانې او د ضحاک میرمنې وې.

چو ضحاک بر تخت شد شهریار برو سالیان انجمن شد هزار

سراسر زمانه بدوگشت باز برآمد برین روزگار دراز
نهان گشت آیین فرزانه گان پراگنده شد کام دیوانه گان
شده بربدی دست دیوان دراز زینکی نبودی سخن، جز به راز
دو پاکیزه از خانه یی جمشید برون آوریدند لرزان چوبید
که جمشید را هردو دختر بُدند سربانوان را چو افسر بدند
زپوشیده رویان یکی شهرناز دگر ماهروی به نام ارنواز
به ایوان ضحاك بردند شان بدان اژدها فش سپردند شان
بپروردشان از ره بدخویی بیاموختشان کژی وجادویی
ندانست خود جز بدآموختن جز از کشتن وغارت وسوختن
چنان بُد که هرشب دومرد جوان چه کهتر چه از تخمه پهلوان
خورشگر ببردی به ایوان شاه وزو ساختی راه درمان شاه
بکشتی و مغزش بپرداختی مرآن اژدها را خورش ساختی ۵۱:۲

**مهناز:** دجمشید مېرمن وه.

کله چې مهناز خبره شوه چې مېړه یې جمشید په هندوستان کې د ضحاك له خوا ووژل شو، نو دومره یې د خپل مېړه په ماتم کې وژړل او خاورې یې په سرباد کړې چې په خاص او عام کې یې نوم پاتې شو او په پای کې یې له ډېره غمه زهر وخوړل او ځان یې وواژه.

په شاهنامه کې داسې راغلي دي:

باسی روز بی خواب وخور زیستی زمانی نبودی که نگریستی
سرانجام هم خویشتن را به زهر بکشت از پی جفت بیداد بهر ؟:۴

**تاجور:** په شاهنامه کې د تاجور یادونه داسې راغلې ده:

جو انداز بنوشت فرخ دبیر بیاورد وبنهاد پیش وزیر
جهان دار برزد یکی باد سرد پس آن لعل رخسارگان کرد زرد
چو رنگین رخ تاجور تیره شد از آن درد بهرام، دل خیره شد
چهل روز بُد سوگوار و نژند پر از گرد وبیکار تخت بلند
چنین بود تا بود گردان سپهر گهې پر ز درد و گهی پر ز مهر
چو شد پادشاهی برسال بیست یکی کم برو زنده گانی گریست
شد آن تاجورشاه باخاك جفت زخرم جهان دخمه بودش نهفت
جهان را چنین است آیین وساز ندارد بمرگ از کسی چنگ باز ۹۳۱:۱

**مشك، سيسنك، نار او سوسنك:** د بهرام گور میرمنې.

یکی آسیا دید در پیش ده نشسته پراگنده مردان مه
وزان سوی آتش، همه دختران یکی جشنگه ساخته برکران
همی چامه رزم خسرو زدند وزان جایگه، هر زمان نو زدند
همه ماهروی و همه جعد موی همه جامه گوهر، همه مشك بوی
جهاندار کاواز ایشان شنید عنان را بپیچید وزان سوکشید
چو آمد به نزدیکی دختران نگه کرد جای از کران تا کران
همه دشت یکسر پر از ماه دید بشهر آمدن راه کوتاه دید
از آن دختران آنك بُد نامدار برون آمدند از میانه، چهار
یکی مشك نام ودگر سیسنك یکی نام نار و دگر سوسنك
بشاه رفتند با دست بند برخ چون بهار وبه بالا بلند
یکی چامه گفتد بهرام را شهنشاه با دانش و نام را
زهرچار پرسید بهرام گور گزینشان بدلش اندر افتاد شور
که ای گلرخان، دختران که آید؟ وزین آتش افروختن برچه آید؟ ۹۸۸:۱

**فغستان:** دهند د پاچا لوراو د سكندر مېرمن وه.

فغستان، چو آید به مشکوی شاه یکی تاج برسر زمشك سیاه
به سان زرهِ بر گل ارغوان برافگنده بُد ماهرخ گیسوان
چو سروسهی بر سرش گرد ماه نشایست کردن بدو در نگاه
دو ابرو کمان دونرگس دژم سر زلف را تاب داده به خم
دوچشمش، چو دونرگس اندر بهشت تو گفتی: که از ناز دارد سرشت
سکندر نگه کرد بالای اوی همان موی و روی وسراپای اوی
همی گفت کاینت چراغ جهان همی آفرین خواند اندر نهان
بدان داد گر کو سپهر آفرید بدین گونه بالا و چهر آفرید
برو ریخت دینار چندان زگنج که شد ماه را راه رفتن به رنج ۸۳۷:۱

**پوران دخت و آرزم دخت:** دخسرو پرويز خوينډې وې.

شاهنامې ددوی په اړه ليکي:

یکی دختری بود پوران بنام چو زن شاه شد کارها گشت تمام

بران تخت شاهی بنشاندند بزرگان برو گوهر افشاندند
چنین گفت پس دخت پوران که من نخواهم پراگندن انجمن
کسی را که درویش باشد زگنج توانگر کنم،تا نماند برنج
مبادا زگیتی کسی مستند که از درد او برمن آید گزند
زکشور کنم دور بدخواه را برآیین شاهان کنم گاه را ۱۳۸۲:۱

د آرزمِ دخت په هکله شاهنامی راوړی دي:

یکی دخت دیگر بُد آزرم نام زتاج بزرگان رسیده بکام
بیامد بتخت کیان برنشست گرفت این جهان جهان را بدست
نخستین چنین گفت کای بخردان جهان گشته وکار کرده ردان
همه کار بر داد وآیین کنم کزین پس همه خشت بالین کنم
هرآنکس که باشه مرا دوستدار چنانم مر اورا، چو پروردگار
کسی کو زپیمان من بگذرد بپیچد زآیین و راه خرد
بخواری تنش را بر آرم بدار زدهقان و تازی و رومی شمار
همی بود برتخت بر چهار ماه به پنجم شکست اندر آمد بگاه
از آزرم گیتی بی آرزم گشت پی اختر رفتنش نرم گشت
شد او نیز و آن تخت بی شاه ماند بکام دل مرد بدخواه ماند
همه کار گردنده چرخ این بُوَد ز پروردهٔ خویش پر کین بود ۱۳۸۳:۱

**سپینود:** د هند د پاچا لور او د بهرام گور میرمن وه.

فرود ماند از آن کاخ شنگل شگفت به می خوردن اندیشه اندر گرفت
که ایران، بهشت است یا بوستان همی بوی مشک آید از دوستان
چنین گفت با شاه ایران به راز که با دخترم راه دیدار بساز
بفرمود، تا خاد مان نامدار سرای دگر دید چون نو بهار
چو دخترش را دید بر تخت عاج به سر بر نهاده ز بیجاده تاج
بیآمد پدر برسرش بوسه داد رخسان را به رخسار او بر نهاد
پدر زار بگریست از مهر اوی همان بر پدر دختر خوبروی
همی دست برسود شنگل بدست از آن کاخ و ایوان و جای نشست
سپینود را گفت اینست بهشت برستی زکاخ بد وجای زشت
همان هدیه هایی که آورده بود اگر بدره و تاج و اگر برده بود
بدو داد با هدیه ی شهریار شد آن خرم دیوان چون نوبهار ۱۱۸۹:۲

**یادونه:**

ابوالقاسم فردوسی په ۳۲۹ - ۳۳۰ د طوس په ښار کې زیږیدلی دی. په ۳۵ کلنۍ کې یې د شاهنامې په ویلو پیل کړی او وروسته تر ۳۵ کلونو یی په ۷۱ کلنۍ کې پای ته رسولې ده.
شاهنامه شپیته زره (۶۰۰۰۰) بیتونه لری، د فارسی ژبې له ډېرو لوړو او لویو حماسو څخه ګڼل کیږي.
شاهنامه د ادبی او هنري ځانګړنو له مخې په نورو ادبي آثارو کې ځانته ځای او ځانګړی ارزښت لري.
فردوسی په ۴۱۱-۴۱۶ ه ق کلونو کې وفات شوی دی.

## مأخذ:


۱- فردوسی ابوالقاسم. شاهنامه، براساس نسخه چاپ مسکو، چاپ هفتم، تهران:پیمان ۱۳۸۸، ص ۱۳۸۳،۱۳۴۶،۹۸۸،۹۳۱،۸۳۷،۸۳۰،۸۰۳،۷۹۵،۱۸۷،۱۷۱، ۱۳۰، ۳۱.

۲- فردوسی ابوالقاسم. شاهنامه، براساس نسخه ژرل مل، تهران:ابهام. ص ۵۱، ۳۳۴، ۳۳۷، ۷۸۶، ۹۴۳، ۱۵۰۵،۱۱۸۹.

۳- آریانا.دایره المعارف(۱۳۸۹هکال دریم ټوک ، ث، ذ) دعلومو د اکادیمی، ددایره المعارف ریاست، ص ۵۰۶.

۴- طغیان ساکایي.محمدیونس(۱۳۹۵ه)، فردوسی شناسی، سمنګان، دولتی مطبعه، ص ۱۴۶،۱۲۵، ۱۴۵، ۱۵۱.

۵- زهیر.عبدالرزاق(۱۳۵۳ه)کال،درسی نوټونه او لکچر نوت، ص ۸ او ۱۲.

۶- د انترنت پاڼې.

**بنفشه بهار سنا**

# نقش وسایل تدریس در آموزش و تدریس

**بخش دوم:**

**وسایل ممد سمعی و بصری:** اینگونه وسایل از لحاظ کیفی از کیفیت بالای برخوردار میباشند چون ۲ حس مهم شاگردان که دیداری و شنیداری است همزمان فعال بوده و در جستجوی حقایق و در تکاپوی یادگیری میباشند. فلهذا هر وسیلهء آموزشی که حس شنوایی و دیداری شاگردان را همزمان فعال نگهدارد, وسایل ممد آموشی دیداری و شنیداری نامیده میشود. این وسایل از قبیل, فلم های آموزشی, کارتونی های تربیتی و امثال اینها بوده که از طریق تلویزیون, کمپیوتر و یا هم پروجکتور مورد استفاده قرار میگیرند و نتایج بسیار خوبی را نیز در قبال میداشته باشند(۳ تکنولوژی تعلیمی)

**اثرات مثبت کاربرد فناوری آموزشی ( وسایل کمک آموزشی )** در جریان تدریس توسط معلمان

۱- موجب تسهیل در فرایندآموزشی در فرایندیاددهی – یادگیری وافزایش آموخته های فراگیران می گردد.

۲- افزایش اعتماد به نفس معلمان ودانش آموزان را به دنبال دارد.

۳- یادگیری برای دانش آموزان لذت بخش وجذاب تر می گردد.
۴- ثبات واستحکام آموخته ها ومعنادار شدن یادگیری فراگیران را فراهم میسازد .
۵- توانایی اندیشدن وا ستدلال رادر دانش آموزان افزایش می دهد.
۶- یادگیری را سریع تر، آسان تروبا دوام ترمی سازد.
۷- آموزش را از حالت ذهنی خارج نموده ، یادگیری رابرای دانش آموزان ملموس وعینی می کند.
۸- فرایند آموزش را از حالت تک رسانه ای بودن خارج میکند.
۹- دست یابی به نتایج سریع از آموزش را عملی می سازد .
۷- بازده آموزشی را از نظرکمی وکیفی برای دانش آموزان ومعلمان افزایش می دهد.
۸- اثر خستگی جسمی وذهنی رادرهنگام یادگیری کاهش می دهد.
۹ – معلم را ازحالت انتقال دهنده صرف اطلاعات به فراگیران خارج می کند.
۱۰ – معلم را به عنوان عامل اثر گذار در حین تدریس وتسهیل کننده جریان یادگیری معرفی می نماید.
۱۱- زمینه رشدوشکوفایی تفکروخلاقیت دانش آموزان را فراهم میسازد.
۱۲- یادگیری مؤثرومفیدرا برای عده بیشتری از دانش آموزان ممکن می سازد.
۱۳- موجب بر انگیختن حس کنجکاوی وتفکرخلاق فراگیران می گردد
۱۴. - یادگیری را سریع , موثر تر وپایدا ر تر می کند.
۱۵. - توجه وعلاقه فراگیران را جلب میکنند.
۱۶. - تجارب عینی وواقعی رادر اختیار شاگردان قرار میدهد.
۱۷. - پیوستگی افکاررادرفرایند یادگیری فراهم می کند .
۱۸. - اساس قابل لمس را برای تفکر وساختن مفاهیم فراهم می کند.
۱۹. – پایه های لازم را برای یادگیری تدریجی وتکمیلی فراهم می سازند. (۴ اثرات مثبت کاربرد فناوری آموزشی ( وسایل کمک آموزشی ) در جریان تدریس توسط معلمان, (http://sina.khschool.ir/articles/viewArticle.asp?ID=14780

**میزانهای انتخاب مواد دری**

داکتر علی شریعتمداری در کتاب جامعه و تعلیم تربیب خود (مبانی تربیت جدید) انتخاب مواد درسی را به چهار قسمت زیر تقسیم بندی کرده است.

**الف. میزانهای مربوط وضع اجتماعی:**

--مواد درسی باید طوری انتخاب شود که شاگردان را به درک و ارزش سنجی و توسعه میراث فرهنگی کمک کند.

-- مواد درسی باید شاگردان را به مشکلات و مسائل مهم اجتماعی آشنا سازد و آنها را برای برخورد به این مسائل آماده نماید.

--مواد درسی باید اصول و مبانی رشته های مختلف علمی را در برداشته باشد و شاگردان را به نقش و تاثیر علوم مختلف در زندگی اجتماعی آشنا سازد.

--مواد درسی باید در ایجاد مهارتهای اجتماعی از قبیل خواندن و نوشتن, حساب کردن و مهارت در حل مسائل مختلف شاگردان را کمک نماید. و مواد درسی باید شاگردان را برای احراز شغل و حرفه ای که مورد نیاز جامعه می باشد آماده سازد.

پس از معلمین محترم تقاضا میشود که موقع انتخاب مواد درسی به مسائل بالا توجه جدی داشته باشد که بعدا از استفاده مواد درسی در هر درس, شاگردان با فرهنگ خود آشنا شده و جهت توسعه آن گام بردارند نیز شاگردان را قادر به حل مشکلات عادی در خانه و محیط بیرون از خانه سازد. هر قدر که مواد درسی برای شاگردان آموزشی باشد, همانقدر مهارت خواندن, نوشتن, حساب کردن و مسائل همانند اینها را که در زندگی روزمره قابل استفاده اند تقویت میکند.

**ب. میزانهای مربوط به وضع افراد:**

--مواد درسی باید رشد بدنی, عقلانی, اجتماعی و عاطفی شاگردان را تسهیل کند.

--مواد درسی باید متناسب با احتیاجات, استعدادها و علایق و رغبتهای شاگردان باشد.

--مواد درسی باید در توسعه و پرورش وظایف مربوط به رشد شاگردان مؤثر باشد و در تامین احتیاجات اساسی روانی آنها از قبیل بستگی به گروه, ابراز نظر, مورد محبت واقع شدن و امنیت و نظم و هدف در زندگی به شاگردان کمک کند.

--مواد درسی باید متناسب با اختلافات فردی شاگردان باشد. یعنی هر شاگرد به تناسب توانایی خود بتواند از آنها بهره جویند.

بهترین مواد درسی از نظر روانشناسان همان موادی است که به رشد عقلانی و اجتماعی شاگردان توجه صورت گرفته باشد. همچنان اگر مواد درسی متناسب با استعداد و توانایی برداشت شاگردان نباشد و نیز احتیاجات ایشان را مرفوع ساخته نتواند, از جمله مواد درسی به درد نابخور به شمار میرود. در قسمت مواد درسی به اختلافات فردی شاگردان توجه جدی صورت گردد و با مشوره از یک روانشناس مواد درسی را انتخاب کرد تا رضایت تمامی شاگردان را به دست آورده بتوانیم.

**ج. میزانهای مربوط به اصول یادگیری:**

--مواد درسی باید متناسب با آمادگی و تجربیات قبلی شاگردان باشد.

--مواد درسی باید طوری انتخاب شود که راه فعالیت و تجربه را برای شاگردان باز گذارد.

--مواد درسی باید با رغبت, میل و احتیاجات شاگردان که اینها عوامل مؤثر در جریان یادگیری میباشند متناسب باشد.

--مطالب یا مواد درسی باید طوری انتخاب شود که شاگرد فهمی از حقایق علمی بدست آورد و بتواند آنچه را که در مکتب یاد می گیرد در زندگی فردی و جتماعی بکار برد.

--هر مواد درسی باید به دلیل به تجربه قرار گرفتن انتخاب شود, میل و رغبت شاگردان را به آموزش بیدار کند و نیز شاگرد را قادر سازد تا هر آن چیزی را که می آموزد در زندگی عملی استفاده کرده بتواند.(۵ شریعتمداری, علی(۱۳۸۱) جامعه و تعلیم و تربیت)

**فواید استفاده از وسایل کمک آموزشی**

۱- وسایل کمک آموزشی بازده آموزشی را از لحاظ کمی و کیفی افزایش میدهد.

۲- وسایل کمک آموزشی می تواند یادگیری را انفرادی کند.

۳- وسایل کمک آموزشی آموزش را با قدرت بیشتری عملی می سازد.

۴- وسایل کمک آموزشی دسترسی به فرهنگ و آموزش را به طور یکسان برای همه میسر می سازد.

۵- وسایل کمک آموزشی اساس قابل لمس را برای تفکر و ساختن مفاهیم فراهم می سازد و در نتیجه از میزان عکس العمل گفتاری دانش آموز می کاهد.

۶- مورد علاقه زیاد و فراون شاگردان هستند و توجه به آنها را به موضوع اصلی معطوف می سازد.

۷- اساس لازم را برای یادگیری تدریجی و تکمیلی آماده می سازد و در نتیجه یادگیری را دائمی می کند.

۸- تجارب واقعی و حقیقی را در اختیار شاگردان قرار می دهد و در نتیجه موجب فعالیت ایشان می شود.

۹- پیوستگی افکار را موجب می گردد.

۱۰- در توسعه و رشد معنی در ذهن شاگرد مؤثر هستند.

۱۱- مهارتی را به طور کامل و مؤثر به دانش آموزان می آموزد.

۱۲- تجاربی را در اختیار شاگردان قرار میدهد که از راههای دیگر امکان ندارد.استفاده از وسایل آموزشی موجب می شود که دانش آموزان از همه حواس خود جهت یادگیری مطالب استفاده کنند . از آنجا که ٪ ۷۵ از یادگیری مطالب توسط چشم و بینایی یادگرفته می شود، این موضوع باعث شد که معلمان بیشتری به استفاده از وسایل کمک آموزشی و وسایل بصری روی آوردند. یکی از عللی که تعدادی از معلمان از وسایل کمک آموزشی استفاده نمی کنند این است که فکر می کنند که منظور از وسایل کمک آموزشی همان وسایلی است که فقط به منظور آموزش دانش آموزان و با هدف وسیله کمک آموزشی از قبل ساخته شده می باشد. ولی این فکر اشتباهی می باشد، زیرا با وسایل دور ریختنی و مازاد نیز می توان یک وسیله کمک آموزشی ساخت که به اهداف مورد نظر درس برسیم.

اگر بخواهیم نتیجه تحقیقات پیاژه و سایر محققین ارزشمند رادر مورد تدریس ریاضیات به کودکـان، در یک جمله خلاصه کنیم باید بگوئیم: وسایل کمک آموزشی را به مدارس ببریم. هیچ معلمی نبایـد در تدریس ریاضیات بویژه در سالهای اولیه مکتب، بدون وسیله کمک آموزشی باشـد. البتـه بیـدرنگ باید تذکر دهیم که منظور ما این نیست که معلم نمی تواند بدون داشتن وسـایل از پـیش سـاخته و تعیین شده ریاضیات را تدریس کند، بلکه یک معلم در صورتی که مفاهیم را به درستی درک کند و روش تدریس صحیح داشته باشد، می تواندحتی از نخودولوبیا و چوب گوگرد نیز در تدریس ریاضیات استفاده کند(۶ ارسال توسط نصرالله غلامی بروجنی.)

**خلاصه و نتیجه گیری**

در تدریس ۳ عنصر مهم و از هم نا گسستنی وجود دارد که یکی معلم, دیگری مکتـب و دیگـری آن مواد درسی است. این سه, بخشهای مهم تدریس مؤثر شمرده میشوند و هیچ وقـت از یکـدیگر نبایـد دور باشند و اگر دور باشند, بدین معنی که تدریس مؤثر نبوده و نتیجه مثبت از خود به جای نمانـده است. اینکه به چی نوع تدریس ما میتوانیم تدریس مؤثر بگوییم سوالی اسـت کـه در ذهـن اکثریـت معلمین و شاگردان میباشد چون معلمین هم به این باور اند که خود زحمت زیـادی در امـر تـدریس میکشند و حقیقت هم است که معلمین از جمله زحمتکشترین قشر یک جامعه میباشند و شـاگردان به این باورند که بیش از حد تلاش به خرچ داده اند و چیزهای زیادی را آموختـه انـد. امـا تـدریس و همچنان آموزش موثر از نظر دانشمندان به آن نوع آموزشی گفته میشود که در بخش عمل و زندگی روزمره کارا باشد. نه تنها در ذهن شاگرد جا داشته باشد بلکه در وقت مناسب از آن استفاده گردد.

مثلا اگر مضمون انگلیسی را در نظر بگیریم, شاگرد بعد از فراغت از مکتب قادر به صحبت کردن بـه زبان انگلیسی, خواند متون انگلیسی و نیز ترجمه متن دری به انگلیسی و بر عکس آن باشد امـا اگـر شاگرد توانایی خط خوانی به جز از ورقهای کتاب درسی را به صورت طوطی وار نباشد, همـان اسـت که زحمت معلم و تلاش شاگرد هردو به درد نابخور شمرده میشود. معلم, فضای صنف درسی و مـواد درسی به هم گره خورده استند. همانطوری که اگر فضای درسی مسـاعد باشـد, معلـم مسـلکی هـم موجود باشد, اما مواد درسی که باید تدریس شود در دسترس نباشد و یا هـم کتـاب موجـود باشـد و وسایل کمکی وجود نداشته باشد, درس شکل حقیقی را به خود نمیگیرد. بدین لحاظ مواد درسـی و مواد ممد درسی در امر تدریس از نقش والای برخوردار استند و باید از آنها به شیوه درسـت اسـتفاده گردد. مواد درسی انواع گوناگون دارد اما از هر کدام میتوان در جایش استفاده برد. طوریکه از لابرتوار میتوان در مضامین کیمیا و بیولوژی کار گرفت از چارت و تصویر و پوستر میتوان در مضـامین دیگـر

کار گرفت. از هر نوع مواد که معلم استفاده کند, شرط اساسی آن کمک به یادگیری شاگردان باید باشد. طوری که در صفحات قبل ذکر شد حتی مواد درسی باید تعیین کننده رشد عقلانی و عاطفی شاگردان باشد. مواد درسی باید بر اساس معیارهای توانایی برداشت شاگردان انتخاب شود تا نتیجه مؤثر دهد.

به صورت عموم میتوان گفت که ما مواد درسی و مواد فراوان ممد درسی را بر معلمین به معرفی گذاشتیم تا بتوانند از آنها در جاهای مناسب استفاده کنند و نیز موضوع که به نظرم جالب خورد تفکیک بین مواد درسی و مواد ممد درسی است که ممکن در شناخت این دو ذهنم قبلا درست کار نمیکد اما حالا دانستم که مواد درسی همان کتاب و چپتر که شرط مهم تدریس مؤثر است میباشند اما مواد ممد درسی بر تطبیق محتوای داخل همین کتاب میباشد که هم معلم و هم شاگرد را کمک میکند و درس را شیوه عملی داده و شاگردان زودتر به هدف میرسند که مواد ممد میتواند از قبیل چارت, پوستر, تصویر و همچنان مواد ممد شنیداری مانند مکالمه های صوتی و غیره و نیز مواد که باعث مشغول ساختن حس شنوایی و حس بینایی همزمان میباشند مانند فیلم های آموزشی, کارتون های تربیتی و غیره میباشد که نتیجه بسیار خوب در امر یادگیری میداشته باشند.

**فهرست ماخذ:**

۱ نقش وسایل آموزشی درتدریس زبان انگلیسی http://www.rezayi.org/post/109

۲. http://afghaneducation.blogfa.com/post/3

۳.تعریف تکنالوژی تعلیمی,

https://www.google.com/#q=%D8%AA%D8%B9%D8%B1%DB%8C%D9%81+%D8%AA%DA%A9%D9%86%D8%A7%D9%84%D9%88%DA%98%D9%8A+%D8%AA%D8%B9%D9%84%D9%8A%D9%85%D9%8A

۴. اثرات مثبت کاربرد فناوری آموزشی ( وسایل کمک آموزشی )

در جریان تدریس توسط معلمان,

http://sina.khschool.ir/articles/viewArticle.asp?ID=14780

۵. شریعتمداری, علی(۱۳۸۱) جامعه و تعلیم و تربیت, چاپ بیستم, چاپ و صحافی, سپهر تهران: موسسه انتشارات امیر کبیر

۶. http://elementary-e.vcp.ir/0-بدون-موضوع/۵۱۹۷۴۲-فـــــواید-استفاده-از-وسـایل-کمک-آموزشـــی.html ارسال توسط نصرالله غلامی بروجنی

# خاوره

محمد جان فنا

توریمه په رنګ خو سره لعلونه سره ګلان لرم
غېږ کې د شیرینې او لیلا په شان خوبان لرم
یو سر کې می بڼ بوستان او شنه شنه چمنونه دي
بل سر کې می وچ دښت و بیدیا او شاړ ډاګونه دي
ځان که دې لږ خوار کړ زه به جوړ درته ګلزار شمه
زه که دې له یاده ووتم نو به خار زار شمه
لاس دې کړه ټناکې ځان خولې چې زه آباد شمه
وکړم پرمختګ نړۍ کې ډېر په ښه نوم یاد شمه
سر له مانه جار کړه ومې ساته له دښمن څنې
لاره کې دننګ ناموس ویریږه مه کشتن څنې
مانه پیدا شوی یې فنا زه ستا جوهر یمه
ما ته کم نظر مه کوه ګنج د سیم او زر یمه

عشقری

# به این تمکین

به این تمکین که ساقی باده در پیمانه میریــزد
رسد تا دور مــا دیــوار ایــن میخانــه میریــزد
گرفتی چون پی مجنون ز رسوای مرنج ایــدل
که دایم سنگ طفلان بر ســر دیوانــه میریــزد
بیــاد شــمع رخســار کــه میســوزد دل زارم
که امشب بر سرم از هر طرف پروانــه میریــزد
زلیخــا گــر بیــرون آرد ز دل آه پشــیمانی
زپــای یوســف زنــدانیش زولانــه میریــزد
شود هر کس به کوه عشــقبازی پیــرو فرهــاد
بروز جان فشانی خون خــود مردانــه میریــزد
رسانی بر من ای مشاط تــا زنــار خــود ســازم
ز زلف یار هر تــاری کــه وقــت شــانه میریــزد
اگر سیم و زر عــالم بدســت عشــقری افتــد
شب دعوت به پیش پــای آن جانانــه میریــزد

د سرمؤلف مرستیال ګل آقا شائق

# د حج فضیلتونه او حکمتونه

**د حج تعریف:**
حج په لغت کې ارادې،عزم، تکل یا د سپیڅلو او مقدسو ځایونو د لیدلو هوډ کولو ته وايي.
علامه ابن همام وايي: حج د معظم کار قصد کول دي.
حج په اصطلاح کې: په ځانګړي او معین وخت کې،د ځانګړو ځایونو زیارت کول دي په ځانګړو کړو وړو او اعمالو سره، یا په بله وینا: حج د ځانګړو کړو وړو نوم دی، د فرضي طواف، سعی او د عرفات له دریدلو او نورو څخه په خپلو ټاکلو وختونو (اشهر الحج) کې په داسې حال کې چې د حج په نیت سره یې احرام تړلی وي.
**د حج د فرضیت دلیل:** حج په قرآن ،احادیثو،اجماع، عقل (قیاس) ثابت دی.
ژباړه: پر خلکو د الله دا حق(فرض)دی چې که څوک هغه کور ته د رسیدو وس ولري د هغه حج دې وکړي او که څوک ددې فرمان له عملي کولو نه انکار وکړي نو هغه دې په دې پوه شي چې الله له ټولو نړیوالو څخه بې نیازه دی. آل عمران: 97
ابو هریره رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي فرمايي: الله په تاسو حج فرض کړی دی نو حج اداء کړئ.
او حج په عمر کې یو ځل فرض دی ځکه د امر صیغه تکرار نه واجبوي او نه د تکرار احتمال لري او ثابته عبادتونه چې په امر سره تکراریږي هغه د هغو د سببونو په تکرار سره دي او د حج سبب واحده بیته ده.

همدارنګه د ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې وايي: د نبی کريم صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې کوم عملونه غوره دي؟ ده وفرمايل: ايمان په الله او دده په رسول.ورته وويل شوه بيا کوم عمل؟ ده وفرمايل: دالله په لاره کې جهاد،وويل شوه بيا کوم عمل؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: قبول شوی حج.

په بل حديث کې راځي: يوه عمره تر بلې عمرې پورې د مينځني وخت لپاره کفاره ده او د مقبول حج بدله جنت دی.([1])

په بل حديث کې راغلي: څوک چې يوازې د الله د خوښې او رضا لپاره حج وکړي او له جماع او د جماع له دواعيو اونورو ګناهونو څخه ځان وساتي نو داسې پاک به راستون شي لکه د مور څخه چې د پيدا کيدو په ورځ پاک ؤ.

حضرت سعيد بن جبير،ابراهيم نخعي، مجاهد او طاووس رحمهم الله د مشهورو تابعينو علماوو څخه دي وايي: د کوم شخص په باره کې چې څرګنده شي چې بډای دی او له حج پرته وفات شي نو پر ده د جنازې لمونځ نه اداء کيږي.

همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې د حج څخه څرګنده اړتيا يا ظالم پاچا يا بندوونکې بيماري منع نکړي نو پرته له حج اداء کولو مړ شي، نو خوښه دده ده يهودي مري او که نصراني. رواه الدارمي والبيهقي.

او په بل روايت کې راغلي: څوک چې ظاهري حاجت يا ظالم پاچا يا بندوونکی مرض د حج نه منع نکړي نو مړ شي او حج ونکړي نو خوښه يې يهودي مري او که نصراني . رواه الترمذي وبخاري.

همدارنګه نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې د توښې او سپرلۍ مالک وي چې دی بيت الله ته ورسوي او حج ونکړي نوڅه پروا پرې نشته يهودي مري او که نصراني.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: حج او عمره فقر او نيستي داسې له منځه وړي لکه د آهنګر کوره چې د اوسپنې خيری له منځه وړي.

×حضرت عمر رضی الله عنه فرمايلي دي: قصد لرم څه سړي ښارونو ته واستوم څو د هغو خلکو پلټنه وکړي چې مال درلودلو سره يې د حج فريضه نه وي اداء کړې په هغوی جزيه مقرره کړم.

×علامه مفتي محمد شفيع رحمه الله په خپل معارف القرآن تفسير کې ليکلي: يو بزرګ وايي چې کله د حج څخه راستون شوم نو په زړه کې مې د يوې ګناه وسوسه راغله، نو ناڅاپه يو غيبي آواز راغی

---

[1] مبرور حج: هغه دی چې په هغه کې ګناه نه وي يا مبرور حج مقبول حج ته وايي يا هغه حج دی چې د ريا او نامه لپاره نه وي يا هغه حج دی چې له هغه وروسته ګناه ونه کړي. حسن بصري رحمه الله وايي: مبرور حج هغه دی چې د هغه نه وروسته له دنيا څخه بې توجهي او آخرت سره يې مينه او رغبت پيدا شي.

چې تا حج نه دی کړی؟ نو دغه آواز زما او ګناه تر منځ د يوه ديوال حيثيت غوره کړاو الله تعالی زه دهغې ګناه څخه وژغورلم.

×حضرت حسن بصري رحمه الله وايي: په حرم شريف کې يوه روژه د سلوزرو روژو برابر ثواب لري، يوه روپۍ صدقه د سلوزرو روپيو ثواب لري همدارنګه يوه نيکي په حرم کې د سلوزرو نيکيو سره پرته له حرمه برابره ده.

او دا خبره هم د يادلو وړ ده چې په حرم کې د ګناه وبال هم همداسې زيات دی ـ همدا وجه ده چې ځينو علماوو په مکه مکرمه کې اوسيدنه مکروه ګڼلې ده.

×همدارنګه حسن بصري رحمه الله «من کفر فان الله غنی عن العلمين» آيت په ظاهر حمل کړی او په دې جمله کې يې يوې عجيبې نکتې ته اشاره کړيده فرمايي: دا چې د بيت الله په هکله الله فرمايلي دي: «هدی للعلمين» او بيا د حج پرېښودو په صورت کې هم «عالمين» کلمه ياده شوې ده دا په دې دلالت کوي چې د دنيا بقاء د بيت الله تر بقاء پورې اړيکې لري تر څو چې د ځمکې په سر کعبه شتون لري او د هغه درناوی کيږي دنيا به آباده وي.

همدارنګه په بل آيت کې الله تعالی فرمايي: الله د درناوي وړ ځای کعبه د خلکو لپاره(د ټولنيز ژوندانه) د سمبالښت وسيله ګرځولې ده. المائده :۹۷

×رسول الله صلی الله عليه وسلم د بريده رضی الله عنه په روايت فرمايلي دي: مال لګول په حج کې لکه د الله په لاره کې مال لګول دي په اووه سوه چنده مال لګولو سره. رواه احمد

همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم د ابن عمر په روايت سره فرمايلي دي: د حاجي اوښ پښه نه جګوي او نه يې په ځمکه ايږدي مګر الله يوه نيکي پرې ليکي او يوه ګناه پرې محوه کوي او يوه درجه يې پرې لوړيږي. رواه البيهقی وابن حبان.

همدارنګه ابوهريره رضی الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه فرمايي:حج کوونکي او عمره کوونکي د الله تعالی ډله ده که چيرې د ا لله نه څه غواړي قبولتيا يې کوي (ورکوي يې) او که بخښنه ترې غواړي بخښنه ورته کوي. رواه النسائی وابن ماجه.

رسول الله صلی الله عليه وسلم د حج د مناسکو د ثواب په هکله فرمايلي دي: کله چې ته له خپل کوره د بيت الحرام په نيت وځې نو ستا اوښه (سپرلۍ) قدم نه پورته کوي او نه يې ايږدي مګر الله پاک تاته يوه نيکي ليکي او يوه ګناه دې محوه کوي.

او کله چې له طواف وروسته دوه رکعته لمونځ کوې نو لکه د بنی اسماعيل عليه السلام له اولادې څخه دې يو غلام آزاد کړی وي او کله چې د صفا او مروه تر منځ سعی کوې لکه اويا غلامان دې چې آزاد کړي وي.

او کله چې په ماسپښين کې په عرفات ودريږې نو الله تعالی د دنيا آسمان ته راکوزيږي او د پرېښتو په وړاندې په تاسو وياړي.

الله فرمايي: زما بندګان ګردونو وهلي له لرې لرې ځایونو څخه راغلي او زما د جنت هیلمن دي نو که ستاسو ګناهونه د ریګ د دانو په اندازه وي یا د باران د څاڅکو په اندازه وي یا د بحرد ځګونو په اندازه وي خوامخا مې دربښلي دي.کوز شئ اې زما بندګانو له عرفات څخه په داسې حال کې چې ښښه درته شویده او چاته چې تاسو سپارښت کوئ هغه ته هم ښښنه شویده.

د جمرو په ويشتلو هره شګه د يوې لويې ګناه کفاره ده.او پسه حلالول درته د الله په وړاندې ذخيره ده او د سرپه خرېيلو سره د هر ويښته په مقابل کې يوه نيکي درکول کيږي، يوه بدي او ګناه دې محوه کيږي او بيا چې کله فرضي طواف اداء کوې نو ته به په داسې حالت کې طواف کوې چې هيڅ ګناه به دې پاتې نه وي او يوه پرښته به ستا د وليو په منځ کې لاس کيږدي او درته وايي به: په راتلونکې کې کړه وړه کوه تير شوي ګناهونه دې ټول ښښل شوي دي.

همدارنګه ابو هريره رضی الله عنه روايت کوي : رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: کله چې حاجي په حلاله نفقه د حج په نيت له کوره وځي او پښه د سپرلۍ په رکاب کې ايږدي او وايي: لبيك اللهم لبيك، نو يو آواز کوونکی آواز کوي: حج دې قبول دی او په ګناه کې دې نه اچوي. او کله چې حاجي په حرامه نفقه له کوره وځي او پښه د سپرلۍ په رکاب کې ايږدي او لبيك وايي نو د آسمان څخه يو آواز کوونکی آواز کوي: لا لبيك ولا سعديك . يعنی حج دې قبول نه دی او نه ته نيکمرغه يې، ځکه توښه دې حرامه ده، خرڅه دې حرامه ده او حج دې هنوز ګناه راجلبوي او قبول نه دی.

يو شاعر وايي:

اذا حججت بمال اصله سحت ××× فما حججت ولكن حج العير

لا يقبل الله الا كل طيبة ××× ما كل من حج بيت الله مبرور

يعنی کله چې ته په حرام مال حج اداء کوې نو ګواکي تا حج ندی کړی بلکې قافلې (سپرليو) حج کړی دی.

الله نه قبلوي مګر هر پاکيزه پاك او د بيت الله ټول حجونه مقبول نه دي.

د امت علما وايي : ان الامة اجتمعت على فريضته، الحج فرض مرة بالاجماع على من استجمعت فيه الشرائط.

يعنی: ټول امت د حج په فرضيت اجماع کړې ده وايي حج په ټول عمر کې يو ځل فرض شوی دی په چا کې چې د حج شرائط را جمع شوي وي. هو! حج يو نوی حکم او رکن نه دی بلکې د آدم عليه السلام څخه اووه زره کاله مخکې ملايکو د دې کور طواف کړی دی، آدم عليه السلام (40) ځله د دې کعبې په زيارت مشرف شوی دی او هرپيغمبر دا فريضه اداء کړيده .

د حج د فرضیت په هکله عقلي دلیل دادی: کله چې حج د بندګۍ د څرګندونې لویه ذریعه ده او د عبودیت اظهار واجب دی نو حج هم واجب دی. بل دا چې په حج سره د مالي او ځاني عبادتونو او د دې دواړو نعمتونو شکر اداء کیږي او د نعمت شکر هم په عقل، هم په شرع او هم په دود او عرف سره فرض دی نو حج هم فرض دی.

**دحج د اداء کولو وخت:**

د امام ابو یوسف په وړاندې د حج ادء کول فوراً واجب دي (کله چې د حج شرطونه پوره شي).
او امام ابو حنیفه رحمه الله وايي: حج تر ځانګړي وخت پورې خاص دی او مرګ په یوه کال کې نادر او بعید نه دی، نو تعجیل(بیړه) پکې غوره ده او نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: په حج کې بیړه وکړئ ځکه هیڅوک د تاسو نه نه دی خبر چې څه ورته پیښیږي.
امام احمد او امام شافعي رحمهماالله وايي: حج په تراخي (ورووستوالي) سره واجب دی که څه هم تعجیل غوره دی ځکه حج د ټول عمر فریضه ده نو عمر په حج کې داسې دی لکه وخت په لمانځه کې، نو لمونځ که تر آخره وخته پورې اداء شي هم صحیح کیږي.
د حج سبب بیت الله ده کله چې په آخر وخت کې دغه بیته ونړیږي نو بیا حج هم نشته ځکه سبب یې له منځه ځي .او هرکله چې بیته یوه ده نو سبب یې هم یو دی .

**د عرفات د ورځې غوره والی:**

د عرفې ورځ ډیره لویه او مبارکه ورځ ده . نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: غوره د ورځو د عرفې ورځ ده او کله چې دغه ورځ د جمعې له ورځې سره موافقه شي نو دغه حج د نورو ورځو په پرتله له اویا حجونو څخه غوره دی.
ابن نجیم وايي: دعرفات په ورځ له جنګ، جګړې،شخړې او ناوړه وینا بلکې له مباح خبرو څخه هم ډډه وکړئ.
حضرت عائشه رضی الله عنها وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د عرفات په ورځ الله تعالی د اور څخه دومره ډیر بندګان آزادوي چې په بله یوه ورځ یې هم نه آزادوي، بیا الله ددنیا آسمان ته راکوزیږي او ملایکې په بندګانو فخر او ویاړ کوي، نو الله تعالی وايي دا کسان چې څه غواړي ما ورکړل.
حضرت طلحه بن عبیدالله چې د عشرمبشره وو له ډلې څخه دی روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د عرفات د ورځې په پرتله بله ورځ شیطان دومره خوار او ذلیل، تبنتیدونکی او ډیرپه غصه نه دی لیدل شوی ځکه په دې ورځ د الله رحمتونه راکوزیږي او دلویو ګناهونو څخه عفوه کوي .

دعرفات د ورځې مشهوره دعا« لا اله الا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو علی كل شئ قدير» بل د تلبيې او په نبي كريم صلی الله عليه وسلم باندی درود زيات ويل دي .

همدارنګه په دغه وخت « لا اله الا الله محمد رسول الله، الله اکبر، سبحان الله ، استغفار» بايد زيات وويل شي او په دې ورځ بايد ځان، مور او پلار، استاذانو او نور عامه مسلمانانو او همدارنګه په ځانګړې توګه د افغانستان لپاره د امن او سولې او آبادۍ او استقلال لپاره دعا وشي.

او تر ټولو غوره دعا: (اللهم ربنا آتنا فی الدنيا حسنة وفی الآخرة حسنة وقنا عذاب النار) ده

د سالم بن عبدالله بن عمر رضی الله عنهم په هکله ويل شوي چې ده يو درويزه ګر وليده چې د عرفات په ورځ يې له خلکو څخه درويزه کوله، ده ورته وويل اې عاجزه په نن ورځ هم د الله نه پرته د نورو څخه غوښتنه کوې؟

**د حج د فرضيت حکمتونه:**

1- روحي او ايماني حکمتونه:

الف ـ حج الله تعالی ته د بندګۍ، مينې او محبت څرګندونه ده له همدې کبله د انسان تر ټولو لوړ لقب عبدالله دی: سبحان الذي اسری بعبده ليلا .

يعنی پاکي ده هغه ذات لره چې خپل بنده يې په شپه کې بيت المقدس (او له هغه ځای څخه آسمانونو ته بوتلو).

او حضرت علي کرم الله وجهه به ويل: «کفی بي شرفا ان اکون لك عبدا وکفی بي عزا ان تکون لی ربا » .

يعنی ماته دا شرف کافي دی چې ستا بنده يم او دا عزت ماته کافي دی چې ته زما رب او پالونکی يې.

ب ـ د حج په مناسکو سره د حاجي د شوق او مينې بيماري تسکين مومي.

د وهبي سليمان غاوجي کتاب ليکلي چې يوه مسلمانه نيکه ښځه مکې ته راغله، نو ملګرو ته به يې ويل: أين بيت ربي؟ يعنی زما د رب (پالونکي ) کوټه کومه ده؟ ورته وويل شوه: اوس به يې ووينې.

کله چې بيته راښکاره شوه، ورته وويل شوه: «هذا بيت ربک» دغه ستا د رب بيته ده، نو د بيتې په لوري يې د مينې او شوق په قدمونو ورمنډه کړه، تر دې چې ور ورسيده، زړه، روح او بدن يې په بيته ور وچسپول، له لړ درنګ وروسته يې زړه ودريد، بدن يې آرام او روح يې په ډېر شوق سره الله ته والوته او مړه شوه، په داسې حال کې چې پر بيته پورې چسپيدلې وه، دا څومره ښايسته مرګ دی.

2ـ اخروي حکمت: کله چې د عرفات په میدان کې په ملیونونو حاجیان راټولیږي نو دغه ځمکه د حشر له ځمکې سره مشابهت پیدا کوي او حاجي ته د حشر، حساب او کتاب ورځ وریادوي چې انسانان، پیریان، حیوانات او الوتونکي مرغان به ټول راجمع کیږي.

3- فردي حکمتونه:

الف – د حج په اداء کولو کې د توان او وس مطابق د الله امر منلو ته منډه کول او دا چې د حج فرضیت په قران او سنت ثابت دی،نو ددې عقیدې له مخې د حج عملي ترسره کول دي.

ب – د حج اداء کول یو عملي دلیل دی په داسې توګه چې ټول ژوند باید د الله تعالی لپاره ځانګړی شي او د هغه د رضا لپاره هلې ځلې وشي. اوپه دې لار کې د هر شي (کورنی، مال، هیواد او عمل) ایثارول دي.

ج ـ په حج کې د ایمان پیاوړتیا، د نفس سپیځلتیا او د ګناهونو تکفیر دی، ځکه مومن په حج کې د عبادت، تفکر او د الله د ذکر لپاره وزګاریږي. حاجي د ژوند غمونه نه مشغولوي او نه یې د دنیا فاني ځیزونه په فتنه کې اچوي او د کعبې سره په داسې حال کې مخ کیږي چې د دنیوي ډول او سنګار څخه یې ځان بالکل خالي کړی وي او د کعبې د هیبت او عظمت له وجې یې له سترګو اوښکې بهیږي او د الله کور ته زاري کوونکی، توبه کوونکی او بخښنه غوښتونکی حاضریږي او د عرفات په میدان کې چې کله ټول حاجیان تلبیه ویونکي ویني نو دغه حالت د قیامت ورځ ورپه زړه کوي.

د – حاجي په حج کې ددې هیلمن وي چې د ګناهونو له ضرر څخه خلاصون ومومي او د ګناهونو او فتنو له تیارو څخه یې زړه نوراني وګرځي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې دالله لپاره حج کوي خو نه پکې جماع کوي نه پکې ګناهونه، نو داسې به له ګناه څخه پاک شي لکه د مور څخه چې نوی زیږیدلی وي.او بیا هیلمن وي چې تر قیامته د الله د پیروۍ په سیوري کې ژوند وکړي.

ه- د حاجي په روح او حس کې د دین نښې نښانې نوې کیږي او حقایق یې ځلا مومي، ځکه حاجي دغه پاکه ځمکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پکې زیږیدلی او دلته یې ژوند کړی او د ژوند خوږې ترخې یې پکې تیرې کړې او خلک یې اسلام ته رابللي او په دې لاره کې یې ځومره ستونزې ګاللي دي او څرنګه یې په حرم کې لمونځونه کړي او طوافونه یې اداء کړي او بیا په هجرت مجبور شوی او د خپل قوم څخه یې کومې ناخوالې لیدلې دي، حال دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه رښتینی امین او هغه اشرف المخلوقات دی چې د مولانا روم په ژبه یې د الله نه وروسته درجه ده.

او کله چې حاجي د مجاهدو صحابه وو حالات را یادوي چې د اسلام په لاره کې یې کومې ستونزې او کړاوونه زغملي دي نو د هغو له کړو وړو څخه د عبرت درسونه اخلي.

4- ټولنیز حکمتونه:

د حج په مناسکو او عبادتونو کې د انساني وروڼګلوۍ نښې نښانې څرګندیږي او د بشر د یووالي لپاره ډیر څرګند دلایل دي او دا یووالی د احرام په جامه کې راښکاره کیږي کله چې ټول په یو ډول جامه، په یوه ژبه تلبیه ویلو، په یو حالت سره عبادت کولو، په طواف، عرفات او د جمرو په ویشتلو کې په داسې حال کې لیده کیږي چې د سپین او تور، بډای او فقیر، آمر او مامور تر منځ هیڅ توپیر نه لیده کیږي.

لنډه دا چې حج یوه فریضه ده چې اداء کول یې لازم دي خو د الله تعالی دې احسان ته وګورئ چې نه یوازې فریضه زموږ له غاړې بیرته کیږي بلکې زموږ ګناهونه هم ورسره ښښل کیږي او د حدیث له مخې په خوښیو او خوشحالیو نازول کیږو او د جنت زیری هم راکول کیږي.

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ده چې حاجي ته د سپرلۍ پر هر ګام اویا نیکۍ لیکل کیږي او که پلی حج کوي پر هر قدم د حرم له نیکیو څخه اووه سوه نیکۍ ورته لیکل کیږي او د همده صلی الله علیه وسلم په وینا د حرم یوه نیکي له زرو نیکیو سره برابره ده.

حاجي باید حج ته له روانیدو مخکې د حج پوخ نیت وکړي او د الله تعالی سره ژمنه وکړي چې له حج وروسته به هم له ګناهونو څخه ځان ژغورم، ټول بد او ناوړه کارونه به پر ځان حراموم او له لوی الله پرته د هر شي سره به اړیکې شلوم.او کله چې لبیک وایي باید په ځواب کې لبیک تر لاسه کړي او کله چې په عرفات دریږي باید حق او حقیقت مشاهده کړي او حق ته تسلیم اوله ناحقو بیزار شي، په مزدلفه کې نفساني غوښتنې پریږدي، د جمرو د ویشتلو په مهال د بدو ملګرو او باطلو نظامونو او ناوړه هیلو څخه هم جدایي غوره کړي او د قربانۍ په کولو سره خپل نفس هم ووژني.

**د حج څه نورو حکمتونو ته دا ډول اشاره کوو:**

1- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امت لپاره بیت الله شریف د اسلام د لویو شعایرو څخه ده، د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه دغه ځای ته پوهان او علماء راټولیږي او یو د بل د حال احوال څخه خبریږي او یو د بل له تجربو څخه ګټه اخلي او د مسلمانانو د ستونزو او نورو چارو په هکله لازم تصمیمونه نیسي او ددې سپیڅلي کور د عظمت او عزت څرګندونه کوي، او مسلمانانو ته دا ښیي چې دوی ټول پرته له کوم توکمي، ژبني، کلتوري او ټولنیز توپیر او تعصب څخه له یو شان حقوقو څخه برخمن دي او یو پر بل لوړیتوب، د ژبې، رنګ او هیواد پر بنسټ نه، بلکې د پرهیزګارۍ او تقوی پر اساس دي.

2- حج د يو او بل د پېژندګلوۍ، اتحاد او اتفاق او د اسلام ددعوت لپاره تر ټولو غوره وسيله ده، د حج پر مهال د اسلامي امت يوه ستره او پرتمينه غونډه جوړيږي چې په اوسنۍ اصطلاح کې ورته نړيوال کانفرانس ويلی شو.

۳- د حج د ارکانو او افعالو د ترسره کيدو ټول ځايونه هغه مقدس ځايونه دي چې هلته د الله تعالی پر انبياوو او رسولانو باندې بې حسابه رحمتونه او فيوضات نازل شوي دي، اوس هم د چاسره چې ددوی د پيروۍ او متابعت مينه او ولوله شتون لري، پر هغوی د الله تعالی رحمتونه وريږي.

4- حج د نفس د تزکيې او د اخلاقو د سمون ډيره ښه ذريعه بلل کيږي.

5- حج د الله او رسول سره د مينې څرګندولو لپاره يو آزموينه ده، رښتيني مسلمانان او عاشقان تر هر څه تيريږي او د الله او رسول په لار کې د هيڅ ډول ستونزو او کړاوونو پروا نه ساتي، خو برعکس په نامه مسلمانان اود نفساني غوښتنو خاوندان ډول ډول پلمې جوړوي او ددې لويې فريضې څخه محروم پاتې کيږي.

6- د حج په سفر کې د مختلفو هيوادنو او ولسونو اخلاق او عادات څرګنديږي او ډول ډول تجربې، ديني او دنيوي ګټې ورڅخه لاس ته راځي.

7- د محمدي امت لپاره د کعبې شريفې په زيارت د الله تعالی رضا لاسته راځي او بل دا چې هغه مکان د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د زيږيدو او استوګنې ځای دی چې ددينې پلوه مرکزي حيثيت لري، د مسلمانانو قبله ده او هلته په طواف او لمانځه اداء کولو سره ګواکي د الله په دربار کې حاضري ورکول دي.

8- د حج سفر د آخرت يادونه ده کله چې حاجي د احرام لباس اغوندي، د کفن وخت وريادېږي، د عرفات په ميدان د مليونونو وګړو راټوليدل او ددغه ميدان ګرمي او تودوخه د محشر د ورځې بيلګه ده. همدارنګه نور افعال يې هم د آخرت نمونه ترسيموي.

د مثال په توګه حاجي د احرام په اغوستلو سره ځان د مړو په څير جوړوي او په دې لباس کې دا حکمت هم دی چې بډای، مسکين، فقيراو پاچا د الله دربار ته په يو ډول جامو کې حاضريږي او چاته د وياړ او فخر موقع نه وي.

دا هم پاتې نشي چې احرام په حج يا عمره کې داسې دی لکه په لمانځه کې تحريمه تکبير، هکذا څوک چې د حج يا عمرې نيت وکړي او تلبيه ووايي نو ډير حلال شيان پرې حراميږي چې هغو ته د احرام ممنوعات ويل کيږي.

د احرام سره انسان د بندګی او عاجزۍ تر ټولو لوړه مرتبه کې وي او د حال په ژبه خپل پروردګار ته په زارۍ وي چې ای الله! زه په دنيا کې له دغه دوه ټوټو رخت پرته چې يوازې خپل ستر مې پرې پوښلی بل څه نلرم او ته د هر څه مالک او خاوند يې، نو زما په حال رحم وکړه.

احرام په انسان کې خشوع او عاجزي پيدا کوي. او د مسلمانانو د يووالي ښه سمبول دی.

په احرام کې ديته هم اشاره کيږي چې په کوم حالت کې انسان دنيا ته راغلی وي چې په عامه توګه ماشوم په دوه ټوکرانو کې نغښتل کيږي په همغه حال به ددنيا نه بيرته ستنيږي.

۹- په حج سره د الله د توحيد او اطاعت څرګندونه کيږي څکه د حج د کړو وړو موخه او مقصد د رب البيت پيروي ده نه د دروازو، ديوالونو، عرفات او نورو عبادت، نو څکه حاجي يوازې الله ته د بشپړ غاړې ايښودلو په نيت لبيک وايي.

۱۰- حج د اسلام د خپرونې لپاره يوه ښه زمينه ده که د رسول الله صلی الله عليه وسلم ژوند ته ځير شو دا ورڅخه څرګنديږي چې دی له دې فرصت څخه د ګټې اخستلو پر مټ وتوانيد چې د خپل دعوت پر بنسټ يې يو اسلامي هيواد تشکيل کړ او ددغه دعوت پايلې په اسلامي تاريخ کې د عقبې لومړی او دوهم بيعت په نوم ياديږي.

۱۱- همدارنګه حج مسلمانان ديته هڅوي چې په خپل منځ کې ټولنيزې، کلتوري او اقتصادي اړيکې لا پياوړې او د دښمن پر ضد د يو ګوند دريځ غوره کړي .

۱۲- حج مسلمان ته د عزت تير تاريخ ورپه زړه کوي څو خپل راتلونکي ژوند کې د خپلو اسلافو پر پل پل کيږدي او دهغوی په څير په دواړو جهانونو کې له برياليتوب څخه برخمن شي.

۱۳- حج د توبې مرستندويه عبادت دی چې مسلمانان په خپلو ګناهونو پښيمانتيا او خفګان ته جوګه کوي او د الله جل جلاله څخه يې بخښنې ته اړ باسي.

۱٤- حج په انسان کې اخلاص پيدا کوي کوم چې د انسان د معنوياتو د لوړوالي يو ښه لامل دی.

۱۵- د حج سفر د نورو سفرونو په څير مسلمان صبر او زغم ته چمتو کوي او د اسلام لپاره هر ډول قرباني او فداکارۍ ته يې هڅوي.

۱٦- حج داسې عبادت دی چې د مسلمانانو د يووالي څرګندونې سره سره د هغو سپيڅلو ځايونو ليدنه پکې شتون لري څو د الله هغه کور(کعبه) په عبادت آباده کړي کوم چې د دوی ستر نيکه حضرت ابراهيم عليه السلام د وحي سره سم د حنيفي دين مرکز ټاکلی ؤ څو خپل تير تاريخي ياد په زړه کړي او د خپل ستر نيکه هغه سرښندنې چې د الله په لاره کې يې ورکړې وې هر کال ژوندۍ او هغه ته ښوول شوی عبادت ترسره کړي.

**آيا په حج او عمرې ټول ګناهونه ښښل کيږي؟**

ابن نجيم رحمه الله وايي: په حج سره واړه او لوی ګناهونه ټول ښښل کيږي ولو که حقوق العباد هم وي .

همدارنګه الاکمل په شرح المشارق کې فرمايي: (هدف دا چې) په اسلام، هجرت او حج سره پخواني ګناهونه ښښل کيږي، واړه وي يا لوی ان تر دې چې حقوق الله او حقوق العباد ته هم شامليږي.

البته د حربي په پرتله يعنى كه حربي څوك وژلي وي يا يې د چا مال اخستى وي او دار الحرب كې يې ساتلي وي، خو بيا ايمان راوړي هيڅ شى ورڅخه نه اخستل كيږي.

او دا ذكر شوى حديث د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په بيعت كولو بشارت او ترغيب دى.

اما نور علما وايي چې هجرت او حج د مظالمو كفاره نشي كيداى او نه كبائر ګناهونه پرې ښښل كيږي. بلكې واړه ګناهونه له منځه وړي.

او جواز لري وويل شي، لوى ګناهونه هم چې له حقوق العباد څخه نه وي، لكه اهل ذمه چې اسلام راوړي په دې سره هم هغه لوى ګناهونه چې د حقوق العباد له جملې څخه نه وي ښښل كيږي.

همدارنګه امام طيبي ددې حديث په شرح كې ذكر كړي دي وايي: ټولو شارحينو په دې اتفاق كړى دى.همدارنګه امام نووي او قرطبي هم د مسلم په شرح كې ذكر كړي دي.

قاضي عياض فرمايلي دي: ټولو اهل سنتو اجماع كړيده چې لوى ګناهونه له توبې پرته نه ښښل كيږي، نو د بحث پايله دا شوه چې مسئله ظني ده او په حج سره لوى ګناهونه، حقوق الله وي يا حقوق العباد نه ښښل كيږي. او څوك يې چې د ټولو وړو او لويو ګناهونو كفاره بولي، هم دا معنا نلري چې د چا دين او قرض ورڅخه ساقط شي، يا د لمونځونو، روژې او زكاتونو قضايي ورځنې ساقطه شي ځكه په دې توګه هيڅا وينا نده كړې بلكې مراد دا دى چې هغه د قرض د تاخير ګناه ساقطيږي كه له عرفات وروسته يې قرض معطل كړ او اداء يې نكړ نو ګنهګار دى.

همدارنګه په حج سره د لمانځه د تاخير ګناه له مينځه ځي خو قضايي يې بيا بايد راوړي.

همدارنګه بحر الرائق ج/۲ص ۳٦٤ كې ليكلي: وبالجملة فلم يقل احد بمقتضى عموم الاحاديث الواردة في الحج كما لايخفى. يعنى په حج كې د راغلو احاديثو د عموم له غوښتنې څخه معلوميږي چې هيڅا هم دا ندي ويلي چې په حج لوى ګناهونه ښښل كيږي (البته دا خبره پټه نده).

ابن عابدين رحمه الله وايي: دا چې د حج معطلولو او وروسته كولو ګناه پرې ساقطيږي، ددې وينا موخه دا ده چې چا لمونځ له خپل وخت څخه وروسته كړ نو دى د ګناه مرتكب شو او په ده باندې يې قضايي راوړل واجب دي.

همدارنګه كله چې څوك قرض معطل كړي او يا څوك ووژني نو دى د ګناه مرتكب شو او دا يو جنايت دى په بنده باندې، ځكه د الله د منع خلاف يې وكړ نو په ده باندې كه قصدي يې وژلى وي ځان قصاص ته سپارل دي او كه سهوا وي نو ديت وركولو ته ځان سپارل لازمي دي.همدارنګه نور مثالونه يې:

او دا چې حج د لويو ګناهونو لپاره كفاره ګڼي هدف دا دى چې دا د لويو ګناهونو كفاره ده لكه د لمانځه قضا كول، د قرض معطلول او بې ګناه بنده وژل. اما كوم واجبات چې په دې ګناهونو مرتب دي لكه د لمانځه قضايي راوړل، د قرض اداء كول او ځان قصاص يا ديت ته تسليمول پرې لازم دي، هغه نه ورباندې ساقطيږي.

همدارنګه په توبه هم اتفاقا ګناهونه ښنل کيږي، خو ددې نه دا ثابتيږي چې هغه مرتب واجبات په دې ګناهونو ساقط شي. مثلا که څوک يو شی غصب کړي بيا توبه وباسي نو دده توبه نه بشپړيږي مګر دا چې د غصب تاوان ورکړي. يعنی څو غصب شوی شی يا يې قيمت ورنکړي د آخرت له جزا څخه نه خلاصيږي. همدارنګه حکم دی په قرض معطلولو او لمانځه وروسته کولو کې.

لنډه دا چې حج د ګناه کفاره کيږي اما د الله او بنده حقوق پرې باقي دي، او دا چې ده د الله مخالفت کړی دی نو دغه مخالفت ورباندې ساقط شو.

**مراجع**:


۱- قرآن کريم

۲- احاديث نبوي صحيح مسلم کتاب الحج.

۳- حکمة التشريع وفلسفته.

٤- د حج او عمرې لارښود د حنفي عبدالحق ليکنه.

٥- سيرة النبي صلى الله عليه وسلم د شبلي نعماني تأليف.

٦- فقه علي مذاهب الاربعة.

۷- الموسوعة الکويتية الفقهية.

مؤلف عین الدین اسدی

# شناخت کتاب المعجم و واژهای تازه‌ی عربی در آن

بخش دوم:

"ومن چون ازفحوای کلام اوبوی امتحانی شنودم وازمذاق سخن اوطعم اختباری یافت اسعاف ملتمس اورا لازم شمردم واجابت دعوتش فریضه دانست"

ملک الشعرامی گوید که او به شیوهٔ متقدمان جزدرترکیبات معروف ماننداجزاء سالمه وکلمات ممدوده، مطابقهٔ صفت وموصوف را رعایت نکرده است: سعادات نفسانی، معانی لطیف، استعارات بعید،مجازات شاذ، الفاظ عربی، تشبیهات کاذب، تجنیس های متکرر.( وقتی به سیاق عربی صفت را جمع می آورد ه به لحاظ نثرفنی ضرورتی درکار باشند: ظل وارف عوارف و کنف عواطف لواطف).

ونیزمی نویسد که:" اگرچه بعضی جمع های مغلق وغریب عربی آورده است... اما بنای سبک اومانند متقدمان به آوردن جمع های فارسی است یعنی کلمات عربی را به فارسی جمع می بندد: متقدمان،استادان،متکلفان..." وحتا به جای متحرکات متحرکان آورده است.

اما به سیاق عربی صفت وموصوف مقلوب به کارمی برد: لطایف کتب... یکی ازمشخصات نثرفنی مترادف سازی است. او در این مورد گاهی برای لغت عربی مترادف فارسی می آورد:سرادق عظمت و

جلال و سراپردهٔ دولت واقبال و گاهی هردو واژه عربی است: وجه خلاصی و مناصی نمی دیدم، محلی مرقون و مکانی مغبوط.

یکی ازمختصات سبک او که به نظرحقیرمخل بلاغت است جملات بسیارطولانی با چندین جملهٔ معترضه است که باید بین دوخط تیره قرارگیرد تا معنی روشن شود والبته این مختصه دراکثرنثرهای فنی دیده می شود.

نثرشمس قیس درمقدمه باهمهٔ فنی بودن نثری است شیرین وموثرکه تعریف سخن بلیغ است. نثراو شور وحال و زیبایی خاصی می یابد. با توجه به این نکات است که ملک الشعراء بهارسبک شناس بزرگ معاصر، نثرشمس قیس را با دریغ آخرین نمونهٔ نثرفصیح و بلیغ زبان کهن فارسی خوانده است. " نثرشمس قیس به سلیقهٔ من بنده، یکی ازبهترین نثرهای زمان اوست واگراین مرد با این قدرت خامه وجودت ذهن وحدت ذوق وصفای قریحه، کتابی آزادتر از کتب علمی مانند {کتب} تاریخی یا حکایاتی می نوشت گنجی گرانبهابود. چنانچه همین کتاب او ذخیره یی کرانمند وگنجینه یی بی مانداست. (۱: ص ۳۰-۳۳)

**ارزش المعجم:**

ازکتب قدیم عروض وقافیه؛ازقبیل:کتب سرخسی بهرامی وبزرجمهرقسیمی وامثال ایشان امروزه چیزی به جای نمانده است. این کتب احتمالاً درحملهٔ مغول مانند بسیاری دیگرازکتب نفیس ازمیان رفته اند، چه نظامی عروضی درقرن ششم طالبان حرفهٔ شاعری را به خواندن آنها توصیه می کند.

اساساً ازکتب بلاغی قبل ازحملهٔ مغول فقط ترجمان البلاغه رادویانی وحدایق السحررشید وطواط باقی مانده است که فقط دربدیع هستند ودرمورد عروض وقافیه مطلبی ندارند. لذابایدالمعجم را دراین فنون کهن ترین وثانیاً ازمبسوط ترین کتب دانست که به لحاظ عذوبت نثروجاهت سبک ازذخایرگرانبهای ادب کهن فارسی است. علاوه براین ها نویسنده به منابع اصیل قبل ازمغول مثلاً مختصرامام حسن قطان(که دربحث شجرهٔ اخرب واخرم ازآن نقل می کند) وغایه العروضین بهرامی سرخسی( که درفصل بحورمستحدثه عجم ازآن نقل می کند)

المعجم ازشاعران کهن بسیاری نام می برد وشعرذکرمی کند که درمنابع دیگریاازآنها مطلقاً خبری نیست یابسیارکم است. درالمعجم به اسامی شاعرانی ازقبیل شاکربخاری،غزوانی لوکری،نطنزی، قاضی منصورفرغانی،عمیدکازرونی،آغاجی بخارایی،منطقی رازی،بنداررازی...وآثارشان برمی خوریم که دیوان آنان مثل صدها دیوان دیگردرتاخت وتازمغول نابودشد.

المعجم نسبت به بسیاری ازدواوین موجود حکم اقدام نسخ را دارد؛مثلاً: ازمنوچهری وانوری نسخی که تاریخشان قدیم ترازنسخ المعجم باشدنداریم وازاین روضبط های المعجم ازشعربسیاری ازشاعران باید مطمح نظرمصححان دیوان ها باشد.

ازشواهد بسیاری که ازرودکی نقل می کند کاملاً آشکاراست که این قدیم ترین دیوان شعرفارسی را- که ظاهراًدرهمین حمملۀ مغول کاملاً ازمیان رفته – دردست داشته است، چنانکه دیوان شاعرمعاصرخود کمال الدین اصفهانی را هم ظاهراً دردست داشته است. تاچنددهۀ قبل هرچه درعروض می نوشتند ازدوکتاب المعجم ومعیارالاشعاربوده است وازاین رو المعجم ازهمان آغازتألیف تا روزگارما همواره کتاب مطرحی بوده است. (۱: ص ۲۵-۲۷)

**واژه های تازۀ عربی درالمعجم:**

اِمحاضِ مَوَدت: به قرینۀ اخلاص محبت

مُحَبِراین تصنیف: به قرینۀ محرراین تألیف.

درسلک اِطراد منتظِم،وبروفق مراد ملتئم.

مأهول: ازمادۀ اهل اسم مفعول آباد وداری سکنه.

امثال وأضراب: همگنان.

مُوامَرَه: مصدربه معنای مشاوره است وشمس قیس به معنای مطالعه وتحقیق آورده است؛مثال: "التماس موامره کرد واقتراح تصنیفی نمود"ص ۳. امادرصفحۀ ۷۰ گزیدۀ المعجم فی معاییراشعارالعجم، انتخاب وتوضیح ازدکترسیروس شمیسا چنین آمده است:"دراین فن التماس موامره یی کرد تاغورمعرفت من درشرح غوامص آن بشناسدواقتراح تصنیفی نمود تااندازۀ شأومن ..."

شأو: مصدربه معنای"غایت" و"غور"(۱:۷۱)

قَوَمَه: برفرض صحت نسخۀ – جمع قایم،وبه معنای نگاهبانان ومستحفظین.

فروقه:به غایت جبان وبددل.

عادیه وعدوی:" عادیۀ عیث وفساد ایشان به سایراقالیم عالم عدوی کرد وازصواعق رعد وبرق آن اقطاروآفاق جهان درتشویش افتاد" (۱: ص ۷۳)

عادیه جماعتی که مستعدقتال باشند وبه معنای"بعد" وبه معنای شغلی که مرد را ازهرکاربازدارد،مونث عادی- "عدوی" به فتح،سرایت مرض جرب وغیره.

باقعۀ فضیع: قرینۀ (واقعۀ شنیع)ص ۳۹ ج ۳ سبک شناسی بهار. واما درگزیدۀ المعجم فی معاییراشعارالعجم،انتخاب وتوضیح، دکترسیروس شمیسا، باقعۀ فظیع آمده است.

غارت شعواء: غارت متفرق که به هرجای برسد.

محیص: مترادف با"مفر" وازآن اذیت وبلیت مفرومحیصی نمی دانست.

(۱:ص ۷۴ )

محلی مرقوق ومکانی مغبوط: مرقوق"محسود" ومترادف یامغبوط.

ظل وارف: سایۀ گسترده. "تاقریب پنج سال درظل وارف"(۱:ص ۷۴ )

غلاءسعر: گرانی قیمت که به پارسی"گرانی" گویند.

معاقل شِعاف: قرینهٔ"مضایق شعاب" الشَعَفَه سرکوه ها جمع شعاف و شعاب: دره های کوه.
مثاقَبت صلحا: قرینه با"مجالَسَت ارباب ورع" گویا مراد گرم گرفتن باشد.
مَعازف: مرادف"مناکر" اسباب موسیقی وملاهی.
طیارات دیوان: قرینهٔ"توفیرات خزانه" ظاهراً به همان معنی که امروز"طیـاری" گوینـد؛یعنی اسـباب چینی های دیوان برای جلب مالیات تازه.
اسباب مُتَقَوم: قیمتی وتقویم شونده.
مزارع مغل: غله باآورنده.
اربِطه: جمع رباط.
مبتلات: مرادف"موقوفات" ماتبتل بسببه،ای: اِنقَطَعَ عن الدنیا الی الله.
تبتَلُ: انقطاع ازدنیا وتوجه به خداوند[ج]
استیجاب: قرینهٔ مصارف استحقاق ومحال استیجاب، ازواجب ووجوب اعطاء.
ارزاقِ داره: ارزاقی که برسم ادرار ومستمربه فقرا بخشند.
طاری: ضد"موطن"
تحریش: تحریک.
حفیظه: غضب.
نهزه الذیب: فرصت جویی گرگ.
ازعُرض مال دیوان: ازجانب مال دیوان.
موبقات خشم: مهلکات خشم- کین های کُشنده.
لائمه خلق: قرینهٔ"گفتگوی لشکر" یعنیآن جسارت... المغبه العاقبه.
بحسن المس: مرادف" به لطف تدبیر".
حالات حفیظت: حالت تحرز ومواظبت ومراقبت.
طینت طیبه: مرادف" طینت پاک" یعنی: ضمیرپاک.
غیرحَدَثان: قرینهٔ" فِتن آخرزمان" تغییرهای وارده ازحوادث جهان.
مبتر: جزوی چند مبتز: به معنای جزوی چند ناقص وناتمام وابترمانده.
مَلسُون: ازمادهٔ لسان(به زبان شناعت ملسون نشوم) یعنی زبانزد.
اطلاب سوال: مرادف بااسعاف مسوول،یعنی: اعطاء مطلوب.
سَکَرطبع: سکربند وسدی سات که پیش آب رود بندند.
متکسر: برابر"صحیح" درمورد وزن شعر.
تخَطرُفات: ازتخطرفات شعرااست،یعنی ازتند رفتن آنها.
ثقُلاء: جمع ثقیل(یکی ازثقلاء عروضیان عجم)

مُستعذَب: مقبول طباع ومستعذب نفوس- ازمادۀ عذب وگوارابودن.

مفکوک: اسم مفعول از"فک" به معنای جدامانده.

تخریج: به معنای استخراج وبیرون آوردن.

سیروامتحان: سیربه معنای "تتبع" وکنجکاوی.

مستهجن: عامیانۀ از"هجان" که مردمان دورگ نیمی عرب نیمی عجم را گفتندی واین قوم به زعم عرب نافصیح بوده اند.

متحول: مرادف"متبدل" ازمصدر"تحول"

مستثقل: مفعول ازمادۀ ثلاثی"ثقل" صفت وزن شعروازباب استفعال.

تسمیات: ازمادۀ"اسم" تسمیات بحور، جمع"تسمیت" نامگذاری.

مفترعات: امروزمتفرعات گویند. مرادف "منشعبات"آورده شده است.

تعدید: شماره کردن.

اَعنی: که امروز"یعنی" گویند. ازمادۀ "عنی یعنی" وعنایت واعتناء.

مستلذ: مفعول ازمادۀ لذت وازقبیل مستعذَب.

شطارت:"شطارت جوانان شاعروبطالت شاعران شاطر" الشاطر: من اِتصف بالدهاء والخباثه ومن اعجَزَاَهلَه بخبثه(القاموس).

لباقت خلق: مرادف با"ذلاقت نطق" لباقت خلق: ظرافت ولینت خُلق.

ذلاقت: تیزی

اساجیع: جمع اسجاع جمع سجع.

منتمی: مترقی ومتشخص. ضدمنتهی.

تسخی: ازسخاوت وبه معنای سخاوت نمودن بدون سخا.

مستَمَع: به صیغۀ مفعول یعنی (شنونده شده)

اطلاقات: به معنای گشاده دستی ها.

منتبه: به جای متنبه که امروزگویند.

منساق: به معنای کشانیده شده.

عشقیات وتشوقات:" تا هر وصف که خواهند از فنون عشقیات و انواع تشوقات تقدیم کنند"(ص ۳۸۵).

تصابی: مرادف"عشق" از"صبا صبواً" به معنای لهوجستن وفریفتن زنان.

اغزال: جمع غَزَل.

اعاریض: جمع عروض، دانشی است که به بررسیی ازوان شعر می پردازد.

اِدمان فکر:مرادف(امعان نظر)یعنی: دیربرگماشتن فکربه چیزی تابه حدی که عادت شود.

افحام: اسکات خصم به حجه.

حروف عَطِل: حروف بی نقطه.

بحث واستقراء: جستجو وکنجکاوی وقریه به قریه شتافتن.

تعلیق:"قصیده را برسبیل مُسَوَده تعلیق زند" یعنی درجایی به ضبط آورد.

تجاوُب:" تناسب لفظ و تجاوب معنی" یعنی معانی بایکدیگرمجاوَبه کنند وبرابرومتناسب افتند.

افانین سخن: مرادف با" اسالیب شعر" جمع الجمع"فن" یعنی اسلوبها.

غزارت:"غزارت علم.نزهت عرض. نباهت قدر"(غزارت) یعنی: عمق(نزاهت): پاکی(نباهت): بلندی.

قرابین: جمع قربان مصدربه معنای جلیس ونديم ونزدیکان پادشاه وقربان به این معنا به جمع ومفرد هردواطلاق می شود(اقرب الموارد).

ضَغاِین: کینه ها- جمع ضغینه.

اثارت فتنها: قرینۀ"اِراقت خونها" اثارت فتنه: شورش وبرآشوفتن فتنه ها واراقت:ریختن وبه هدررفتن خون‌هاست.

مستحقرتر: ازحقارت (درنسخۀ طبع تهران مستخف تر) وباید این دومی درست باشد.

حراره: به معنی تصنیف های عامیانه که درموسیقی سازند.

وَهلَت: آنچه"وهله" گویند: اول وهلت، یعنی اولین بار.

استرشاد: طلب رشاد ورهنمایی.

منَصَۀ عَرض: به کسراول کرسی که عروس را برآن نشانند واینجا به معنای کرسی که جواری را برای فروش بران برآرند.

فراهت: نشاط وخفت،درصفت اسپ.

دربَت: خُبرگی.

مزاولت: معالَجَت وچاره گری واستادی.

آرِقا: جمع رقیق بنده وبُرده به قاف مشدد.

رکیک ورصین وغث وسمین: صفات شعرازسست واستوارولاغروفربه.

قرارگفتۀ ملک الشعرا بهاریک سری لغاتی که درکلیله دمنه استعمال شده است ازآنها صرف نظرکرده،ورنه این فهرست ده چندان می شد.

**فهرست مآخذ:**

۱- شمیسا،سیروس.۱۳۷۴. چاپ اول،درمعرفت شعر(گزیدۀ المعجم فی معاییراشعارالعجم)انتشارات سخن،ص ۴۰- ۴۱

همان اثر،ص ۱۲- ۱۹

همان اثر،ص ۲۳- ۲۵

همان اثر،ص ۲۳- ۳۳

همان اثرص ۳۵- ۳۷

همان اثر،ص ۳۰ ۳۳

همان اثر،ص ۲۵- ۲۷

۲- عمید،حسن.۱۳۸۲. چاپ بیست وهشتم، فرهنگ فارسی،انتشارات امیرکبیر، تهران،ایران

۳- ملک الشعرا بهار، محمد تقی.۱۳۸۶. چاپ دوم،سبک شناسی یاتاریخ تطور نثر فارسی، جلدسوم، انتشارات زوار، ص ۳۸- ۴۳

همان اثر،ص ۳۷-۳۸

د سرمؤلف مرستیال استاذ عنایت الله عادل

# احوال الشخصیه
# د نکاح بیان

**دوهمه برخه:**

**مهر:**

څرنګه چې په نکاح کې خاوند ته د طلاق حق ورکړل شوی او ښځې ته د مهر حق، او د مسلمانانو نکاح بې مهره نه وي، که مسلمان سړی په شرابو یا خنزیر باندې نکاح وکړي نکاح صحیح کیږي او دې لره مهر مثل دی.

که مېرمن يې د مهر له تعیین پرته په نکاح کړه، وروسته دواړو په یو مهر موافقه سره وکړه که کوروالی یې ورسره وکړ او یا ورڅخه مړ شو هماغه (ټاکلی) مهر یې کیږي، او که له کوروالي څخه مخکې يې طلاقه کړي متعه به ورکوي.

که د نکاح له تړلو څخه وروسته مهر ورته زیات کړي پر خاوند باندې لازمیږي، خو که له کوروالي څخه مخکې طلاقه شي زیادت ساقطیږي، اوکه مېرمن خاوند ته په مهر کې کمښت راولي کمښت صحیح کیږي.

که خاوند له مېرمنې سره خلوت وکړي او د کور والي مانع شتون ونلري، بیا هغه طلاقه کړي هغې ته به کامل مهر ورکوي، او ښځه به عدت تیروي، که له دوی څخه کوم یو ناروغ او یاپه رمضان کې روژه وي او یا خو د فرض یا نفل حج او یا د عمرې د احرام په حالت کې وي، او یا مېرمن حایضه

وي دغه ډول خلوت ته صحیح خلوت نه ویل کیږي، که مجبوب (چې تناسلي آله یې پرې شوې وي) له خپلې مېرمنې سره خلوت وکړي او بیا هغه طلاقه کړي د امام ابوحنیفه په نزد به پوره مهر ورکوي.

ټولو طلاقو شویو مېرمنو لپاره متعه ورکول مستحب کار دی، مګر یوې طلاقې شوې ښځې ته چې مهر ورته نه وي ټاکل شوی او له دخول څخه پخوا طلاقه شي (ددې لپاره متعه واجب ده).

که سړي خپله لور پدې باندې په نکاح ورکړه چې هغه به ده ته خپله خور او یا لور په نکاح ورکوي او یو عقد (تړون) به د بل لپاره عوض شي دواړه عقدونه روا دي او د هرې یوې لپاره مهر مثل لازمیږي.

ازاد سړي یوه ښځه د یو کال خدمت (چې سړی به یې دې ته تر سره کوي) او یا د قرآن د تعلیم په مقابل کې په نکاح کړه، نو دې لره مهر مثل دی. که غلام له اصیلې سره د خپل بادار په اجازه د هغې د یو کال د خدمت په مقابل کې نکاح وکړي، روا ده.

**شرح:**

**حرام توکي که مهر وټاکل شي نو مهر مثل لازمیږي**

حرام شیان، لکه: شراب او خنزیرکه مهر وټاکل شي، نکاح صحیح کیږي، خو مهر مثل لازمیږي. ځکه د مسلمان لپاره دا ناروا دي چې حرام توکي د مهر په توګه مېرمنې ته وسپاري.

**له عقد وروسته په مهر کې زیادت او کمښت راوستل**

د مهر په ټاکنه کې د طرفینو رضایت او موافقه د موضوع اساس جوړوي، خاوند او مېرمن کولای شي وروسته له تړون نه مهر زیات او یا هم کم کړي او پخپله وعده مکلف ګڼل کیږي، دا په هغه صورت کې چې نکاح په خپل حال دوام وکړي، دخول راشي او یا سړی ورڅخه مړ شي، خو که له دخول څخه مخکې طلاق راشي، نو بیا وروستی زیاتوالی ساقطیږي او د حط (کموالي) په صورت کې حط اعتبار لري او دغه به نیمایي کیږي.

**خلوت صحیحه**

ښځه او خاوند چې د زواج له عقد څخه وروسته په داسې ځای کې چې د کوروالي ممانعت شتون ونلري سره یوځای شي خلوت صحیحه بلل کیږي، او د کوروالي په څیر شمیرل کیږي، خو هغه خلوت کې چې شرعي یا طبیعي عذرونه د کوروالي لپاره شتون ولري بیا کوروالی نه بلل کیږي او دا عذرونه عبارت دي له:

۱- ناروغتیا.

۲- د رمضان میاشت روژه.

۳- د فرضي یا نفلي حج احرام.

۴- حیض.

**استحبابي متعه**

ټولو هغو مېرمنو لپاره چې د مهر له ټاکلو وروسته طلاقې شي د متعې ورکول مستحب دي، خو هغه مېرمنې چې مهر ورته نه وي ټاکل شوی او د کوروالي وړاندې طلاقې شي، دوی ته متعه ورکول واجب دي.

**شغار (بدل)**

يوه نجلۍ د بلې په مقابل کې ودول پداسې ډول چې يوه د بلې مهر شي بدل بلل کيږي.

**د بدل حکم**

د اسلام له نظره اصيله مېرمن بايد د مهر په توګه د بلې مېرمنې سره تبادله نه شي، کوم اولياء چې لورګانې له نورو مېرمنو سره تبادله کوي (بدل کوي)، دغه کار سم نه دی، که چېرې کوم ځای کې داسې ترون ترسره شي نکاح سمه ده خو مهر مثل به دواړو مېرمنو ته ورکول کيږي. ځکه مهر د مېرمنې حق دی نه دا چې له دوی نه يوه د بلې لپاره مهر شي.

**منافع (ګټې) په مهر کې ورکول**

د قرآن او دين زده کړه يا ښځې ته ځان د معلوم وخت لپاره په مزدوری ورسپارل ددې لپاره چې همدا مهر وګڼل شي سم نه دي، او ښځې ته مهر مثل لازميږي.

کله چې د ليونۍ ښځې پلار او زوی دواړه وي، نو د نکاح ولي يې د ابوحنيفه او ابويوسف په نزد زوی دی، امام محمد وايي د نکاح ولي يې پلار دی.

که په زر درهمه ښځه پدې شرط په نکاح کړي چې هغه به له دې ښاره نه باسي او يا به پر هغې باندې بله مېرمن نه کوي، خاوند که په شرط وفادار پاتې شي د هغې مهر هماغه ټاکل شوی دی او که وفادار پاتې نه شي نو مهر مثل ورباندې لازميږي.

که ښځه د يوه غير موصوف حيوان (لکه يو غويی) په بدل کې په نکاح کړي، نکاح درسته ده متوسط حيوان به ورکوي، خاوند اختيار لري چې حيوان ورکوي او که د هغه قيمت.

که مېرمن د غير موصوفې جامې (لکه يوه جوړه جامې) په بدل کې په نکاح کړي بيا به هغې ته مهر مثل ورکوي.

موقته او د متعې نکاح باطله ده.

د مريي او مينځې نکاح د بادار له اجازې پرته موقوفه ده: که بادار يې اجازه وکړه جايزه ده او که يې رد کړه باطله ده، په همدې ډول کومه مېرمن چې د هغې له اجازې پرته په نکاح ورکول شي او يا کوم سړي ته د هغه له اجازې پرته واده وکړل شي( نکاح موقوفه ګرځي).

د تره زوی (چې کله ولي وي) کولای شي چې د تره لور ځان ته په نکاح کړي، که کومه ښځه نارينه ته اختيار ورکړي چې هغه ځان ته په نکاح کړي او هغه د دوه شاهدانو په حضورکې دغه مېرمن ځان ته په نکاح کړي (نکاح) سمه ده.

که (د ښځې) ولي د مهر ضامن شي ضمانت یې صحیح دی، مېرمن اختیار لري چې مهر له خاوند او یا له ولي څخه وغواړي.

که په فاسده نکاح کې مخکې له کوروالي څخه قاضي مېرمن او خاوند سره جلا کړي، د هغې لپاره هیڅ مهر نشته، همدا راز د خلوت څخه وروسته هم (مهر ورته نشته)، که کور والی یې ورسره کړی وي بیا ورته مهر مثل دی، خو د تعیین شوي څخه به نه زیاتیږي، مېرمن به عدت تیروي او د اولاد نسب یې ثابتیږي.

په مهر مثل کې خویندو، عمه ګانو او د تره لورانو ته کتل کیږي، مور او خاله ګانې چې د دې له قوم څخه نه وي نو د هغو مهر ته نه کتل کیږي، په مهر مثل کې اعتبار: د دوو مېرمنو مساوات په عمر، ښایست، پاک لمنی، مال، عقل، دین، ښار او زمانې ته ورکول کیږي.

**شرح**

**د لیونی د نکاح ولي څوک دی؟**

هغه لیونی مېرمن چې زوی او پلار دواړه ولري د نکاح د سرپرست په اړه ز مونږ د مذهب امامان دوه نظره لري، امام محمد وایي: پلار یي سرپرست دی، ځکه د پلار شفقت د زوی په نسبت زیات دی او دا ولایت په همدې بناء دی. امام ابوحنیفه او امام ابو یوسف یې سرپرست زوی بولي، ځکه د نکاح ولایت پر عصوبت بنا دی او په پورتني صورت کې زوی عصبه دی، نه پلار.

**په مهر باندې د مېرمنې د شرطونو اثر**

کومه مېرمن چې په خپل خاوند باندې څه داسې شرطونه کیږدي چې هغه د عقد د غوښتنو سره برابر وي او خاوند پرې عمل وکړي یوډول مهر، او که ورسره د شروطو سره سم و نه چلیږي بیا بل ډول مهر لازمیږي، چې تفصیل یې داسې دی:

مېرمن کولای شي د نکاح پر مهال داسې شرطونه کیږدي چې هغه د نکاح د غوښتنو سره برابر وي لکه ښځه ووایي: ما به له دې ښار څخه نه وباسې او یا به بله مېرمن نه په نکاح کوئ، که ددې شرطونو په مقابل کې مهر کم تعین شي او خاوند پر شرط وفا وکړي ټاکلی (مسمی) مهر به ورکوي او که وفا ونکړي بیا به مهر مثل ورکوي.

**هر مال مهر کیدای شي**

ضروري نده چې مهر به نقدې پیسې وي، کیدای شي چې بل ډول منقول مال لکه حیوانات... او یا غیرمنقول اموال د مهر په توګه وټاکل شي. که په مهر کې غیر معین او غیر موصوف حیوان کیږدي، دا مهر سم دی، او د هغه حیوان له جنسه متوسط ورکول کیږي، دا ځکه چې مهر په نکاح کې له یو پلوه ثانوي درجه لري، او د هغې رشتې په مقابل کې چې له نکاح څخه منځته راځي، اهمیت یې کم دی. او بل دا چې د مېرمنې او خاوند ترمنځ لوریینې وي، نو منازعې او جنجالونه نه را منځته کوي. خو که کومه ښځه په غیر موصوفه جامه په نکاح شي بیا مهر مثل لازمیږي. ځکه چې په جامو کې

توپیر زیات دی، نو د اعلی، اوسط او ادنی معلوموول پکې ګران دي، خو د حیواناتو تر منځ دومره توپیر نه لیدل کېږي چې شخړه ترې راپیدا شي، نو په دې خاطر د هغوی له جنسه متوسط حیوان لازمېږي.

**مهر د چا حق دی؟ او له چا څخه یې غوښتلای شي؟**

دا خبره باید معلومه وي چې مهر یوازې د مېرمنې حق دی، ولي یې یواځې ضمانت کولای شي، نه دا چې په خپله ګټه یې استعمال کړي، نو هغه یې له خپل سرپرست او یا خاوند څخه په هر وخت کې مطالبه کولای شي.

**په فاسده نکاح کې د قاضي تفریق**

په فاسده نکاح کې چې کله قاضي د ښځې او خاوند ترمنځ جلا والی راولي، که کوروالی یې سره نه وي کړی، که څه هم خلوت یې سره کړی وي، د هغې لپاره هیڅ مهر نشته.

خو که کوروالی یې سره کړی وي په دې صورت کې به دومره مهر مثل ورکول کېږي چې له تعیین شوي څخه زیات نه شي.

**مهر مثل څنګه معلومیدای شي؟**

د مهر مثل معلوموول به د خویندو، عمه ګانو او د تره لورګانو له مهرونو څخه معلومېږي، او په دې اړه به عمر، ښایست، دین، پاک لمني، مال، عقل، ښار او زمانه په نظر کې نیول کېږي.

مېرمن د خپلې نکاح اختیار بل چاته ورکولای شي که کومه مېرمن د ځان د نکاح اختیار بل شخص ته سپاري، هغه کولای شي دغه کار ترسره کړي، که د پیغلې د تره زوی د هغې ولي و، وروڼه او پلار یې نه وو، نو د تره زوی د دوو شاهدانو په حضور سره هغه ځان ته په نکاح کولای شي.

**د متعې نکاح**

**تعریف:** هغه نکاح چې د متعې په لفظ د ناټاکلې مودې لپاره د ټاکلي مال په مقابل کې تړل شوې وي د متعې نکاح بلل کېږي.

صورت یې دا دی چې سړی داسې ښځې ته چې نکاح کول ورسره روا وي ووایي: زه د دومره مال په مقابل کې یوه موده له تا څخه ګټه اخلم.

**حکم**

د متعې نکاح د اهل سنتو په نزد باطله ده.

**موقته نکاح**

**تعریف:** د ټاکلې مودې لپاره (لکه لس ورځې یا میاشت) د ګواهانو په وړاندې مېرمن په نکاح کول موقته نکاح بلل کېږي.

صورت یې دا دی چې سړی داسې ښځې ته چې نکاح کول ورسره روا وي د ګواهانو په وړاندې ووایي: ما سره د دوه میاشتو یا د یوې ټاکلې مودې لپاره واده وکړه، او هغه یې قبوله کړي، داعیناً د متعې نکاح ده.

**حکم**

موقته نکاح د جمهورو علماؤو په نزد پرته له زفر څخه باطله ده، ځکه دا هم د متعې په معنا ده، نو څنګه چې د متعې نکاح باطله ده همداشان دا هم باطله شمیرل کیږي. امام زفر وایي: نکاح صحیح خو شرط باطل دی، ځکه نکاح په باطلو شرطونو باندې نه باطلیږي.

**د متعې او موقتې نکاح ترمنځ توپیر**

۱- موقته نکاح که د نکاح یا په هغه الفاظو چې نکاح تړل ورباندې جواز لري وتړل شي موقته ده، خو د متعې نکاح فقط د متعې په لفظ تړل کیږي.

۲- په موقته نکاح کې ګواهان وي خو په متعه کې نه وي.

**موقوفه نکاح**

که څوک ناپوښتل شوي بالغ شخص ته هلک وي او که نجلۍ، نکاح وکړي دا نکاح موقوفه تړل کیږي.

**د موقوفې نکاح حکم:** موقوفه نکاح د ناپوښتل شوي شخص په اجازې پورې تړلې ده که اجازه یې ورکړه، نکاح نافذه ګرځي، او که رد یې کړه، نکاح له منځه ځي.

**نافذه نکاح**

د بالغ شخص د ځان لپاره نکاح، د موکل لپاره د وکیل نکاح او د ماشوم لپاره د ولي نکاح نافذه ده. خو که د ماشومتوب په صورت کې ولي پلار نه وي نو ماشوم ته د بلوغ خیار ثابتیږي چې تفصیل یې راروان دی.

## اخځلیکونه

**ددې موضوع د لیکلو لپاره له لاندې ماخذونو څخه استفاده شوې ده:**

۱. قرآن کریم، تنزیل من الرب العلمین او د هغه ځینې تفاسیر.

۲. د احادیثو کتابونه او ځینې شرحې.

۳. الهدایة شرح البدایة، د امام برهان الدین ابوبکر المرغیناني تصنیف.

٤. البحر الرائق د امام ابو البرکات عبدالله بن احمد بن محمد نسفي تصنیف.

۵. بدائع الصنائع د امام محمد بن علي بن محمد بن عبدالله الشوکاني الیمني تصنیف.

٦. الأوزان الشرعیة، د مفتي محمد شفیع تصنیف.

۷. الفقه الاسلامي و أدلته، د دکتور وهبة زحیلي تصنیف.

۸. فقه الزکاة، د دکتور یوسف القرضاوي تصنیف.

۹. الموسوعة الفقهیة الکویتیة د کویت د ارشاد، حج او اوقافو د علماوو د ټولګې تصنیف.

۱۰. فتاوی هندیة د لشیخ نظام وجماعة من علماء الهند تصنیف.

۱۱. القاموس الفقهي د سعدي أبو جیب تصنیف.

۱۲. مختار الصحاح د محمد بن أبي بکر بن عبدالقادر الرازي تصنیف.

۱۳. الاختیار لتعلیل المختار د ابن مودود الموصلي تصنیف.

۱٤. البحر الرائق شرح کنز الدقائق د زین الدین ابن نجیم الحنفي تصنیف.

۱۵. تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق

۱٦. فقه السنة د الدکتور محمد ضیاء الرحمن الأعظمي تصنیف.

۱۷. الفقه المیسر د صالح بن غانم السدلان تصنیف.

۱۸. مجلة الأحكام العدلية د عثماني خلافت د دورې د علماوو او فقهاوو څخه د ترکيب شوې ډلې تصنيف.

۱۹. تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق د فخر الدين عثماني بن علي الزيلعي تصنيف.

۲۰. الفتاوي البزازية بهامش د محمد ابن البزاز الكردري تصنيف.

۲۱. العناية بشرح الهداية د محمد بن محمود البابرتي تصنيف.

۲۲. رد المحتار – (۹ / ۱۷۸). الاختيار لتعليل المختار – (۳ / ۹۳)، الفقه الحنفى و آدلته:۱۴۸.

۲۳. رد المحتار – (۹ / ۲۱۷)

۲٤. الدر المختار – (۳ / ۲۲).

۲۵. الفقه الاسلامى و ادلته:۷\۶۴.

۲۶. الجوهرة النيرة – (۳ / ٤۸۰).

۲۷. الفقه الحنفى و ادلته:۱۷۵، بحواله اعلاء السنن: ۱۳۶/۱۱. البحر الرائق – (۳ / ۱۰۷)، رد المحتار – (۹ / ۲۷۱). الاختيار لتعليل المختار – (۳ / ۱۰۱).

۲۸. الفقه الحنفي في ثوبه الجديد:۷۵، بحواله:حاشيه ابن عابدين.

۲۹. الصبح النوري: مولانا محمد حنيف ګنګوهي.

۳۰. النتف في الفتاوى – (۱ / ۲۷۰).

۳۱. رد المحتار – (۹ / ۳۵۸)– البحر الرائق – (۳ / ۱۱۸). الفقه الحنفى وادلته:۱۶۲.

۳۲. البحر الرائق – (۳ / ۱۱۷) – المعجم الوسيط (۲ / ۱۰۵۸) – الاختي.

معاون سرمؤلف عبدالسلام تائب

# جایگاه اخلاق در اسلام

**بخش اول:**

تعریف: اخلاق جمع خُلق است، به معنی خوش رفتاری، خوبی، طبیعت، سرشت، که معمولاً بر شیوه های نیکو اطلاق می‌گردد. و در اصطلاح اخلاق مجموعۀ صفات روحی و باطنی انسان است. به عبارت دیگر اخلاق عبارت است از آن اوصافی که انسان ها با یک دیگر معامله می‌کنند که شامل خوب و بد می‌شود.

**ارزش اخلاق در اسلام:**

نظام اخلاقی اسلامی، متکی بر وحی است و این ویژگی باعث می‌شود راهنمایی‌های اخلاقی آن مصئون از خطا باشد و احکام اخلاقی آن در حقیقت راه‌های تحقق کمال انسان را تبیین می‌کند.

دین اسلام مجموعه‌ای از عقاید و دستورات عملی است که نزول آن در قالب تعالیم وحی از سوی آفریدگار جهان می‌باشد، و نظام اخلاقی را در آن به عنوان مجموعه آموزه‌هایی که راه و رسم زندگی کردن به نحو شایسته و بایسته را ترسیم کرده، بایدها و نبایدهای ارزشی حاکم بر رفتار آدمی را تبیین می‌کند، ودر نتیجه بخوبی به رابطه تنگاتنگ دین اسلام و اخلاق پی خواهیم برد و اخلاق را پاره‌ای ناگسستنی از دین به شمارخواهیم آورد. مرجع اصلی نیروی ضمانت اجرای قوانین اخلاقی تنها خداوند(ج) است و بس .

سیستم اخلاقی که بر پایه‌ی نظریات اسلامی به وجود می‌آید، سیستمی است دامنه‌دار که تمام سیستم‌های مختلف اخلاقی که دانشمندان اخلاق به آنها اشاره کرده‌اند، تحت این نظریه اسلامی مندرج و هریک از آنها در محل مناسبی برای خود جا باز می‌کند. اسلام در پی پایه‌ریزی جامعه‌ای

پارسا و با تقوا است که حرکات و سکنات آن برای رسیدن به اوج ارزشهای اخلاقی است. جامعه‌ای که بشریت می‌تواند با دیدن آن پروردگار و خالق خود را بشناسد.

هر جامعه‌ای برای برقراری استقرار و ثبات نیاز به برخی ضوابط و قوانین اخلاقی دارد که ضایع شدن آنها باعث پاره شدن نخی می‌گردد که افراد جامعه را بهم پیوسته، قرآن کریم مجموعه‌ای از قواعد و اصول اخلاقی را در این زمینه وضع کرده که هر فطرت و سرشت پاک در مقابل آنها به احترام خواهد ایستاد.

نظام اخلاقی اسلام همه عرصه‌های حیات انسان را در بر می‌گیرد. برخی از ادیان جهان نظام اخلاقی خود را به تنظیم بخشی از روابط انسان محدود کرده‌اند این ویژگی تکلیف اخلاقی افراد را در عرصه‌های دیگر نامعلوم می‌گذارد. در حالی که اسلام به همه ابعاد وجودی انسان توجه دارد و تمامی روابط انسان را تحت پوشش هدایت اخلاقی خود قرار می‌دهد.

**فلسفه و فایدۀ علم اخلاق:**

علم اخلاق در بارۀ خیر و شر، نیکی و بدی بحث می‌کند، و بیان می‌دارد که انسان ها چگونه باید با هم رفتار نمایند، فایده و برخورد آنان را مشخص می‌سازد و نشان می‌دهد که به چه شیوۀ به سعادت و خوشبختی می‌رسند.

تردیدی نیست که اخلاق اولین پایه و اساس هستی هر ملتی است، به همین خاطر است که دانشمندان و فلاسفه اتفاق نظر دارند که اخلاق برای هرفرد از افراد جامعه و اجب و ضروری است، تا بتواند برای خود و جامعه‌اش مفید باشد؛ زیرا همان گونه که دروغ، حسادت و ریا به شخصیت انسان لطمه می‌زند و آن را نابود می‌سازد، جامعه‌ای که این گونه صفات ناپسند در بین افراد آن شیوع یافته باشد، در حقیقت جامعه‌ای فاسد و ناتوان به حساب می‌آید.

به همین جهت اولین چیزی که توجه فلاسفه، قانون‌گذاران و تمام کسانی را به خود جلب می‌کند، که می‌خواهند جوامع بشری را به سوی خوشبختی سوق دهند؛ همانا دعوت مردم به فضایل اخلاقی و پرهیز از اخلاق ناپسند می‌باشد، چرا که اخلاق فاضله و پسندیده پایه و اساس هر جامعه‌ای سالمی به شمار می‌آید.

به همین خاطر است که رسالت همه پیغمبران علیهم السلام بر تشویق و ترغیب بر اخلاق پسندیده تأکید فراوان دارد و قرآن هم بر رعایت اخلاق حسنه و انصاف مؤمنان به آن بسیار تأکید می‌ورزد؛ زیرا اخلاق حسنه است که باعث دست‌یابی به نعمت‌ها خداوند در آخرت می‌گردد.(طباره:۱۳۸۸، ۴۳۴-۴۳۵)

**اخلاق قرآنی:**

یکی از روش‌های که در زندگی مسلمانان – به جز عدۀ اندکی که مشمول رحمت پروردگار اند- مورد بی توجهی قرار گرفته است، اخلاق قرآنی است. اخلاقی که ام المؤمنین عائشه (رض) آن را به عنوان

توصیفی برای رسول (ص) بیان فرمود: اخلاق رسول خدا، اخلاق قرآنی بود. هر کسی که می‌خواهد اخلاق رسول خدا (ج) را در زندگی خصوصی و اجتماعی و رفتار او با خانواده و اصحاب، و نیز با دشمنان، در صلح و جنگ بشناسد، قرآن را باز کند، و اوصاف متّقین، مؤمنین، محسنین، اولی الالباب و عبادالرحمن را مطالعه نماید و اوامر و نواهی خداوند متعال را در سراسر قرآن ملاحظه نماید، تا از لابلای همه‌ای این‌ها در یابد که محمدص چگونه شخصیتی بوده است.

به همین خاطر است در بارهٔ خود، هدف و رسالت خویش می‌فرماید:« إنمابعثت معلما لأتمم مكارم الأخلاق».

اینجاست که خداوند متعال او را اسوه و امام اهل ایمان می‌گرداند تا به او اقتدا کنند و هدایت بیابند: [الأحزاب: ٢١] ترجمه:

به راستی رسول خدا(در رفتار و کردار) برای شما بهترین سرمشق است، برای کسی که به(ملاقات) خداوند و روز آخرت ایمان دارد و خداوند را بسیار یاد می‌نماید.

الله متعال در جای دیگری می‌فرماید:

(**القلم: ۴**) ترجمه: و راستی که تو را خویی والاست.

اخلاق عظیم رسول الله – صلی الله علیه و سلم-

حضرت ابن عباس (رض) فرموده است که مراد از ( خلق عظیم) دین عظیم است، که نزد خداوند هیچ دینی محبوب تر از دین اسلام نیست.

حضرت علی – کرم الله وجهه- فرموده است: مقصود از: ﴿ **خُلُقٍ عَظِيمٍ** ﴾ آداب القرآن است، یعنی آدابی که قرآن نشان داده است، حاصل همه‌ی این اقوال یکی است، حق تعالی در وجود آن حضرت (صلی الله علیه و سلم) تمام اخلاق فاضله را به درجه‌ی کمال ، جمع نموده بود.

حضرت انس می‌فرماید: که من ده سال خدمتگزار آن جناب – صلی الله علیه و سلم- بودم، در تمام این مدت هر کاری را که می‌کردم آن حضرت ص نمی فرمود که چرا این کار را چنین انجام دادی، و چیزی را که انجام نمی‌دادم نیز نمی‌فرمود که چرا آن را انجام ندادی، در حالی که ظاهر است که بسیار کار در مدت ده سال خلاف طبع می‌باشد.

حضرت عایشه رض می‌فرماید: که هیچ گاه آن حضرت به دست مبارک خویش کسی را نزده است، غیر از جهاد فی سبیل الله که در آن زدن و کشتن ثابت است، و آن حضرت ص هیچ زن یا خدمتگزاری را نزده است و اگر یکی از آنها اشتباه و لغزشی سر می‌زد، انتقام نگرفته است، جز این که کسی از فرمان خدا سر می‌تابید که مجازات شرعی در حق او اعمال می‌داشت.

حضرت جابر رض می‌فرماید: که هیچ گاهی از آن حضرت ص سوال نشده که او در جواب نه، بفرماید.

حضرت عایشه رض می‌فرماید که: رسول الله – صلی الله علیه و سلم- نه فحش مـی‌داد و نـه بـه آن نزدیک می‌شد و نه در بازارها شور و غوغا می‌نمود، و بدی را هرگز به بدی پاسخ نـداده اسـت، بلکـه عفو و گذشت می‌نمود.

حضرت ابو الدرداء می‌فرماید که رسول اکرم – صلی الله علیه و سلم- فرموده است: در ترازوی عمـل، هیچ عملی با خلق نیکو برابر نخواهد شد، و خداوند فحّاش و بد زبان را مبغوض می‌دارد.

حضرت عایشه رض می فرماید که رسول الله – صلی الله علیه و سلم- فرموده است: مسـلمان در اثـر حسن خلق خود، درجهٔ را حاصل می‌کند که تمام شب در عبادت بیدار باشد و تمام روز، روزه بگیرد.

حضرت معاذ فرموده است: آخرین وصیتی که آن حضرت ص با هنگام فرستادن من به یمـن نمـود، درست موقعی که پایم در رکاب بود فرمود، این بودکه«یا معاذ احسن خلقک للناس» ای معاذ با مردم با حسن خلق برخورد داشته باش. (عثمانی۱۳۸۸،ج ۱۴، ۱۵۸، ۱۵۹، ۱۶۰)

نمونه هایی از روش تربیتی رسول اکرم – صلی الله علیه و سلم-

رسول اکرم ص در تعلیم و تربیت و اخلاق اصحاب و شاگردانش از فرضـیات و تخمینـات اسـتفاده نکرده ، بلکه بر روش عملی که پروردگار دانا پیش روی او گذاشته بود، تکیه نمود. که اینک به برخی از روش های آنحضرت ذیلاً اشاره می‌گردد:

۱- تکیه برحالت ظاهری برای تثبیت یک حقیقت معنوی: رسـول اکـرم ( صـلی الله علیـه و سـلم) همیشه سعی می‌کرد تا به شاگردان خود بیاموزد که در بارهٔ افراد بر اساس فضایل نفسی شـان داوری کنند نه بر مبنای صورت ظاهری شان. این اصل را به روش های عملی در دل‌ها جایگزین می‌کرد. به گونهٔ مثال، یک روز با کسی نشسته بود که یـک نفـر از پـیش روی آنهـا گذشـت از همنشـین خـود پرسید: در بارهٔ این شخص چه نظر داری؟ وی پاسـخ داد: ایـن از تـوانگران و اشـراف جامعـه اسـت و شایستهٔ آن است که اگر بـه خواسـتگاری رود بـرایش زن دهنـد و چـون در امـری وسـاطت کنـد و ساطتش را بپذیرند. رسول اکرم – صلی الله علیه و سلم- سکوت کرد. سـپس مـرد دیگـری گذشـت. رسول گرامی اسلام – صلی الله علیه و سلم- پرسید: در بارهٔ وی چـه نظـر داری؟ گفـت: ای رسـول خدا! این شخصی از فقرای مسلمانان است و شایستهٔ آن است که اگر به خواسـتگاری رود بـرایش زن ندهند، و اگر وساطت کند وساطتش قبول نگردد، و چون سخنی گوید کسی اعتنـا نکنـد. بعـد از آن رسول اکرم – صلی الله علیه و سلم- فرمود:

**ترجمه:** ( صحیح البخاری)

این(فقیر) به پری زمین از آن(توانگر) بهتر است.

۲- توضیح مفاهیم غیر محسوس از طریق عطف توجه به آثار محسوس آنها: وقتـی از رسـول اکـرم – صلی الله علیه و سلم- پرسیده شد که گناه چیست؟ ایمان چیست؟ نیکـویی چیسـت؟ وی همچـون

یک فیلسوف به تعریف تجریدی و انتزاعی این مفاهیم نپرداخت، بلکه از راه عملی و محسوس به توضیح و تبیین آنها اقدام نمود. آن حضرت – صلی الله علیه و سلم- در بارۀ گناه فرمود:

**ترجمه:** ( مسند امام احمد و الدارمی)

گناه آن چیزی است که در قلبت تردد می‌کند و خوش نداری که مردم از آن آگاه شوند.

در بارۀ ایمان پاسخ داد:

**ترجمه:** ( مسند امام احمد)

هرگاه کار بدت ترا ناخورسند و کار خوبت ترا خورسندکرد، تو مؤمن هستی.

و در بارۀ نیکویی، راوی حدیث(وابصه) می‌گوید: رسول اکرم ص به من گفت: نزدیک شو، و من به اندازه‌یی خود را به ایشان نزدیک کردم که زانو هایم به زانو هایش تماس پیدا کرد. بعد در حالی که به سه پنجه اش در سینه ام می‌زد فرمود:

**ترجمه:** ( صحیح مسلم)

ای وابصه! از قلبت بپرس، نیکویی آن است که نفست به آن آرام گیرد و قلبت به آن مطمئن شود.

۳- توصیف مفاهیم ذهنی با نزدیک ترین آثار عملی آنها: این نوع توصیف حقیقت را بیشتر را روشن می‌کند، و در مخاطب رغبت یا نفرت ایجاد می‌کند. به طور مثال، گدایی و سوال کردن از مردم باعث ریختن آبرو می‌گردد. رسول اکرم – صلی الله علیه و سلم- این حقیقت را طوری بیان می‌کند که در قلب آدمی نسبت به گدایی نفرت عمیق ایجاد می‌کند. و می‌فرماید:

**ترجمه:** ( صحیح مسلم)

گدایی(چنان صاحبش را خوار و ذلیل و بی آبرو می‌کند) که وقتی (در جهان آخرت) با خدا روبرو می‌شود، در رویش قطعه‌یی از گوشت باقی نمی‌ماند.

همچنان در حدیث دیگری می‌فرماید:

**ترجمه:** ( سنن ابی داود)

بی گمان گدایی مشقت آور است و انسان با آن آبرو خود را به دشواری مواجه می‌کند، پس هر کی خواست(با اجتناب از گدایی) آبروی خود را نگه می‌دارد و هر کی خواست(با اقدام به گدایی) آن را می‌ریزاند. (غزالی مصری ۱۳۹۲، ۱۵۳، ۱۵۵،۱۵۶)

## تأثیر اخلاق قرآنی بر مردم عرب:

مردم عرب پیش از اسلام در جهالتی همه جانبه و گمراهی کورکورانه قرار داشتند. عقل و خردها و اندیشه‌های شان تباه شده بود. به عبادت خدایان و بت‌های که هیچ گونه سود و زیانی به آنها در بر نداشتند؛ می‌پرداختند. عواطف شان به حدی رنگ باخته بود که برای دچار نشدن به تنگ دستی یا

از ترس فقر و ناداری فرزندان خود را می کشتند. اما پس از آن که رسول گرامی اسلام (ص) مبعوث شد قرآن برای شان نازل گردید، تحولی همه جانبه در زندگی ایشان به وجود آورد، و تغییری ریشه‌ای در هویت و شخصیت شان حاصل نمود، و آنان را به انسان‌های دیگری مبدل گردانید.

قرآن در اندیشه و تصور ، وجدان و شعور، کردار و سلوک ایشان انقلابی عظیم ایجاد نمود. این بدان خاطر بود که ایشان درهای عقل و قلب خود را برای رسالت قرآن باز نمودند، و در واقع سیستم دریافت ایشان سالم و آمادهٔ دریافت فراگیری بود، و امواج وحی و ایمان نیز به بهترین صورت به سوی ایشان فرستاده می‌شد. آن گونه بودند که خداوند در مورد تأثیر کتابش در روح و روان ایشان می‌فرماید:

**ترجمه:** [الزمر: ۲۳]

خداوند بهترین سخن را(در قرآن) فرو فرستاده است؛ کتابی که همگون و متشابه از(شنیدن آیات) آن لرزه بر اندام کسانی می‌افتد که از پروردگار می‌ترسند، و از آن پس جسم‌ها و دل‌های شان نرم و آمادهٔ پذیرش قرآن می‌گردد. این کتاب (مشتمل بر) رهنمود الهی است و خدا هر که را بخواهد در پرتو آن راهیاب می‌نماید.(قرضاوی:۱۳۸۲، ۶۶۷-۶۶۹)

**ضرورت تربیت دینی:**

ما از داشتن یک پالیسی دینی روشن برای تربیت دینی محروم می‌باشیم. صرف یک مقدار معلومات اسلامی درست یا نادرست به صورت غیر منظم از طریق درس‌های گذرا یا مطالعات سرسری، در میان مردم رد و بدل می‌شود.

برای یک تربیت دینی ایده آل، باید از تقویت عقائد آغاز کنیم؛ زیرا ایمان به خدا و روز آخرت و اطمینان قلبی به از آنچه جانب خدا و پیامبر آمده، پایه های محکم یک تربیت کامل را تشکیل می‌دهد، بلکه همهٔ انواع سلوک انسانی به نحوی با عقاید ارتباط و پیوستگی گسست ناپذیر دارد، مانند ارتباط تایر های موتر با خود آن. ایمان تحرکات و فعالیت‌های شخص را کنترول می‌کند، اگر ایمان وجود نداشته باشد، کنترول آن به دست امیال و شهوات خواهد افتاد.

**خود محوری میوهٔ تلخ بی تربیتی:**

یک از میوه‌های تلخ این تربیت ناقص، شیوع خود خواهی است که به عنوان یک خصلت زشت اخلاقی در میان مسلمانان ریشه دوانیده است. خصلتی که در وجود آن، شخص جز خودش کسی دیگر را احساس نمی‌کند، و هیچگاه از لاک شخصی خودش بیرون برآمده نمی‌تواند.

ما در قریه ها به وضوح می‌بینیم که چگونه مردم، در زباله دان جهل و کوتاه فکری دست و پا می‌زنند و جز تلاش شباروزی برای ما یحتاج زندگی مادی، آرزوی دیگری در سر ندارند. آدم وقتی می‌تواند پیرامون خود را به صورت درست درک کند که با علوم و معارف بیرونی آشنا باشد، اما در صورت محروم بودن از آن جز سعی در به دست آوردن آب و نان و جنس مخالف و اظهار غریزهٔ

خودخواهی و برتری جویی، کاری دیگری از آن ساخته نیست. از همین جهت در جوامع عقب مانده فعالیت‌ها بیشتر در همین خواسته‌های ابتدایی و حیوانی – که ریشه در خود خواهی دارد- خلاصه می‌شود.

غیبت و بدگویی که در محافل و مجالس مردم مثل آب خوردن شده و رواج تام پیدا کرده است، سنت‌ها و رسم و رواج‌ها و دشمنی‌هایی که خون‌های شان را ارزان و اعصاب شان را داغان می‌کند و اموال شان را به هدر می‌دهد، همه یک عامل دارد و آن عبارت است از خود خواهی در چهارچوب روش‌هایی برخاسته از ضعف و معرفت و کمبود آگاهی.

یک زن بیوه وقتی طفل یتیم خود را در قریه بزرگ می‌کند، سال‌های طولانی به او می‌آموزد که پدرش را کی کشته و بدین ترتیب آتش کینه انتقام جویی را در قلب او زنده نگه می‌دارد، تا این که روزی فرا برسد که انتقام خون شوهرش را گرفته، به لرزه در می‌آید و از خوشی فریاد شوق سر می‌دهد و فرزندش را همچون یک قهرمان تا دروازۀ زندان بدرقه می‌کند. محال است این خصوصیات امتی باشد که از درجۀ آگاهی بلند و پخته‌گی شعور اجتماعی برخوردار است، و یا امتی که قرآن کریم و سنت نبوی را خوانده و درک کرده و زندگی‌اش را با نور اسلام روشن کرده است. اینها همه خصوصیات و اخلاق همان دورۀ جاهلیت است، البته با این فرق که افراد جاهلیت گذشته خردمندتر و با غیرت‌تر از افراد جاهلیت امروزی بودند.

به همین منوال وقتی به شهرها پا می‌گذاری، به خصوص پس از تأثیر پذیری از فرهنگ غربی، در آنجا هم عین همین خودخواهی و خود محوری به چشم می‌خورد. و اگر مظاهری هم از تمدن جدید در لباس و رفتار و سلوک مردم مشاهده می‌شود، در جایگاه مناسبش قرار ندارد، مانند این که دروازۀ قصر بزرگ و پرشکوهی را کنده در یک خانۀ خسی نصب کرده باشی.

انجنير سوله نسيمي سادات

# سوله او امن

**دوهمه برخه:**

زما په ګومان په دې ډول به يو شمېر داسې شرايط رامنځته شي چې پر فردي زور د غلبې امکان به يوې سترې مجموعې ته د قدرت د انتقال له لارې مهيا کړای شي؛ هغه مجموعه چې د غړيو احساسي تړون به يې د بقا او دوام ضمانت کوي. يوازې هغه څه چې پاتې کېږي، هغه د اجراء کولو او دوام ورکولو مرحله ده. اما موجوده اړيکې به تر هغې ساده اړيکې وي چې ټولنه له هغو وګړيو څخه تشکيل شوي وي چې قدرت او وسايل يې سره برابر وي. د دغې مجموعې قوانين، فردي ازادۍ او له قدرت څخه استفاده ټاکي او تحديدوي يې چې له دې لارې په ټولنه کې د افرادو تر منځ اوسېدنه تضمين او امکان پيدا کړي.

اما داسې يوه ارامي يوازې د نظر تر بريده تصور کېدای شي او په عمل کې يو پيچلی وضعيت خپلوي، ځکه چې ټولنه په پيل کې له هغو قدرتمندو وګړيو جوړه وي چې نابرابر امکانات لري، نران او ښځې، پلرونه، ميندې او اولادونه، دومره وخت لا نه وي تېر شوی چې له يو بل سره د جګړې او غاړه اېښودلو له لارې فاتحين او مغلوبين رامنځته کيږي او په ارباب او بنده بدليږي. نو په دې ډول ټولنيز حقوق د قدرت پر نسبي نابرابرۍ بدليږي .قوانين د حاکم قدرت په وسيله پلان کيږي او تر لاس لاندې کسان به د کمو حقونو څخه برخمن کيږي. له دې وروسته په ټولنه کې د سر غړونې

تحول دوه حقوقي حوزې رامنځته کيږي. په يوه کې هغه څواکمنه ډله شامليږي چې ټول هغه قانوني محدوديتونه چې د ټولو لپاره معتبر دي، ناليدلي نيسي او د قانون له حاکميت څخه د زور نوي حاکميت ته ورګرځي او بل د ټولنې د محرومو وګړيو مدام کوښښ دی چې د ډېر قدرت او د موجودو قوانينو تغير او سر بېره پر دې، د قانون اصلې برابرئ ته لاسرسی. دويم جريان په ځانګړي ډول هغه وخت اهميت او معنا پيدا کوي چې د ټولنې په بنسټ کې په واقعي ډول د قدرت ځای پر ځای کېدل او د مناسباتو تغير رامنځته شي. دغه کار د يو شمېر ګڼو تاريخي عواملو په پايله کې تر سره کېدای شي. په دې حالت کې، حقوق په تدريجي ډول ځان د نوي قدرت له مناسباتو سره تطبيقوي يا هغه ډول چې حاکمه طبقه هغه ډول چې رامنځته کيږي دغه بدلون ته ځان نه ورکوي او د طرفينو له فشار سره، د کورنئ جګړې بلوا او انقلاب سره نښلي او له دې سره د يو څه وخت لپاره قوانين ملغا او نوې زور ازمايي پيليږي چې د نوي حقوقي نظام په رامنځته کېدو سره پای ته رسيږي. البته حقوقي تحولات له سوله ييزو لارو چارو هم ترلاسه کېدای شي چې د ټولنې په غړيو کې له فرهنګي بدلون سره مله وي. دغه فرهنګي بدلونونه له يو شمېر عواملو سره تړلي دي چې وروسته به ورته کتنه وشي.

نو په دې اساس ګورو چې د يوې ټولنې په محدوده کې هم د منافعو پر سر تضاد د زور په مرسته اجتناب ناپذير دی. اما اړتياوې او مشترک اړخونه چې په دې خاورينه کره کې له ګډ ژوند څخه را زيږېدلي دي د اختلافاتو او نښتو د ژر تر ژره له منځه وړلو لپاره امکان ډېروي او د همدې شان شرايطو تر چتر لاندې د يو سوله ايز حل احتمال ډېريږي. د بشر د تاريخ تر يوې ځغلنده کتنې وروسته را معلوميږي چې تل د يو يا څو ټولنيزو موجوداتو ترمنځ، د کوچنيو او سترو واحدونو تر منځ، ښاري محدوديتونه، مختلفې سيمې، د قبايلو، ملتونو او امپراتوريو تر منځ پای ته نه رسېدونکي اختلافات موجود وو چې بالاخره د جنګ او د زور د استعمال له لارې پای ته رسيدلي دي. دا ډول جګړې د لوټ او يا د يو لوري پر بشپړې غاړې ايښودنې سره پای ته رسيږي. البته د جنګي فتوحاتو په اړه نه شو کولای يو شان قضاوت وکړو. ځينو لکه مغولانو او ترکانو يوازې بدبختي او تورې ورځې راوړې .ولې په مقابل کې يې ځينو نورو د سترو ټولنيزو واحدونو د رامنځته کولو له لارې د زور د حقوقو د بدلولو او انتقال کې مرسته وکړه او له زور څخه د کار اخيستنې امکان يې له منځه يووړ او د يو نوي حقوقي نظام د اساس پر ايښودولو يې اختلافات ختم کړل. د بېلګې په ډول د مديترانې د ساحلي هېوادونو لپاره د روميانو فتوحات، «رومي سوله» وزېروله او د فرانسوي پاچاهانو هېواد د غوړونې هوس يو مستعد او سوله ييز هېواد را منځته کړ.

که څه هم دا خبره به سره تناقص ولري، ولې بايد وويل شي چې جنګ يوې «پايدارې» سولې ته رسيدو لپاره چې موږ ټول يې په لټه کې يو، نامناسبه وسيله نه ده ځکه چې د دې وړتيا لري چې ستر واحدونه رامنځته کړي او د هغوی په محدوده کې به د مقتدر مرکزي قدرت له لارې، د نويو جنګونو

رامنځته کېدل غير ممکن وي. اما په واقعيت کې د دې کار قابليت هم نه لري ځکه چې د فتوحاتو پايلې معمولاً زيات دوام نه کوي او په اغلب ډول نوي واحدونه د مختلفو برخو د اجباري يووالي له وجې ډېر ژر سره پاشل کيږي. له دې ټولو ور وړاندې، تر نن پورې فتوحاتو يوازې دومره کړي دي چې جزيي اتحادونه که هر څو هم پراخ وي رامنځته کړي دي چې په پای کې يې اختلافات د زور پر کارونې فيصله شوي دي. يوازينۍ پايله چې د دې جنګ غوښتنې له هڅو څخه ترلاسه شوې ده، بشريت ګڼې کوچنۍ جګړې، پرله پسې جګړې پر کمو سترو جګړو، ويجاړونکو جګړو بدلې کړې دي.

په اوس مهال کې هم، لکه تاسو چې هم ورته لنډه اشاره کړې وه، تر لاسه شوې نتيجه او استعمال هم د پخوا په شان دی. په واقعيت کې د جګړې له پېښېدو څخه قطعي مخنيوی هغه وخت ممکن دی چې انسانان د مرکزي قدرت د ځای پر ځای کولو او د هغه د احکامو د رعايتولو پر سر د اختلاف په هر يو مورد کې، اصولي توافق ته ورسيږي. د دې امر د پر ځای کولو لپاره دوه شرطه لازم دي: لومړی شرط د همدې ډول سترو مراجعو تشکيلول او دويم شرط دا دی چې هغوی ته بايد کافي واکونه ورکړل شي. يو عامل خاص څه نه شي تر سره کولای. په اوس مهال کې «نړيواله ټولنه» د همدې ډول مرکزي قدرت د سرپرست په حيث په نظر کې نيول شوې ده ولې دويم شرط ته لا د عمل جامه نده ور اغوستل شوې. نړيواله ټولنه ناتوانه ده او يوازې هغه مهال د دې وړتيا لري چې لازم امکانات او قدرت تر لاسه کړي چې د نوې اتحاديې غړي، يعنې يو يو غړی هېواد، همدا ډول اقتدار ورته ورکړي. اما په اوسني حالت کې د داسې يو امر د تحقق کومه خاصه هيله نشته. د نړيوالې ټولنې تشکيلات زموږ لپاره د درک وړ نه و، او نه پوهېدو چې دلته د بشر د تاريخ يو نادرترين کوښښ او يا حتی لومړی کوښښ، په دومره ستره پراختيا رامنځته شوی دی. «نړيواله ټولنه» هغه هڅه ده چې اقتدار يا په بل عبارت مطلق نفوذ کول چې معمولاً د قدرت پر ملکيت ولاړ دی، د ځانګړو معنوي ليد لورو له لارې ځان ته انتقال کړي.

وړاندې مو وويل چې دوه عوامل د ټولنې د يووالي باعث ګرځي: يو د زور فشار او بل د غړيو احساسي تړون – په فني اصطلاح کې ورته يو کول وايي. په موقتي ډول د يو د له منځه تللو سره به، احتمالاً دويمه ټولنه همداسې پر پښو ودروي. البته څرګنده ده چې يوازې هغه نظرونه د اهميت وړ دي چې د ټولنې د غړيو د ونډې د مهمو اړخونو ښودونکي وي. ښه، اوس دا پوښتنه مخې ته راځي چې دا نظرونه او فکرونه تر کومه بريده کولای شي چې د ټولنې د غړيو پر احساسي تړون تاثير ولري؟ تاريخ موږ ته را زده کوي چې دې فکرونو عملاً خپل تاثير پرې ايښی دی. د بېلګې په ډول د يونان د يووالي فکر چې د ګڼو ښارونو په کلتوري سياسي مرکزونو معبدونو، په مذهبي مراسمو او په لمانځغونډو کې به په يو تاکيدي قالب کې پر بربري ګاونډي د يونان سترو والی بيانيده، له داسې يو تاثير او قدرت څخه به برخمن و چې يونانيان له خپل منځي جنګ غوښتنې وساتي، اما دومره قوي نه

و چې د یوناني ملت تر منځ د سترو او مخربو جګړو مخه ونیسي او حتی ونه توانید چې یو ښار یا د ځو متحدو ښارونو مجموعه، پر خپل کورني رقیب د زیانونو د اړولو سره، له خپل ایراني دښمن سره یو ځای نه شي. همدا ډول د کلتوري رنسانس پر مهال د مسیحي یووالي احساس هم د زیات او ژور قدرت با وجود ونه توانید چې هغه مسیحي کوچني او ستر هېوادونه چې له یو او بل سره به په جنګ و، د خپل کورني رقیب د ځپلو لپاره د مسلمانو سلاطینو له مرستې او یارانې را وګرځوي. په اوسني عصر کې هم داسې یو فکر چې وتوانیږي د ټولنې کامل اقتدار او اعتبار ولري، نشته .اوس د ملتونو پر خپلو ملي ایدیالونو او ارمانونو ټینګار سرچپه نتیجه لري، داسې ځرګنده ده چې هېڅ شرحې او توضیح ته اړتیا نه لري. یو شمېر بیا وړاندوینه کوي چې یوازې د بلشویکي افکارو ته وسعت او پراختیا ورکول، کولای شي چې جنګ ته د پای ټکی کېږدي، اما اوس داسې یوې موخې ته د رسېدلو لپاره لوی واټن پاتې دی، او ورته رسېدل تر یو کورني وحشتناک جنګ وروسته امکان پیدا کوي. په هر حال اوس خو داسې ښکاري چې په اوسنیو شرایطو کې د موجود واقعي قدرت پر ځای د نظرونو د قدرت ځای پر ځای کول، له ماتې سره مخ دی .دا لویه تېروتنه ده چې په خپلو محساباتو کې دا له یاده وباسو چې په لومړي سر کې د حقونو اصلي منشاء یوازې زور و؛ لکه څرنګه چې اوس هم حقوق یوازې پر زور تر اتکاء سترګې نه شي پټولی.

اوس کوښښ کوم چې تاسوته یوه بله جمله تفسیر کړم. تاسو د جنګ لپاره د انسانانو د خپلې خوښونې له هڅې حیرانتیا ښودلې ده او ګومان مو کړی چې د انسان په داخل کې یو شی، پر دې هر څه اثر پرېباسي او وروسته مو د نفرت او نابودۍ له غریزې یادونه کړې ده چې دا هر څه اسانوي .دا ځل هم ستاسو نظر پرته له کومې لاسوهنې تاییدوم. موږ د داسې یوې غریزې په شته والي باور لرو او په دې وروستیو کلونو کې مو هڅه هم کړې ده چې د نښو او کړنو له لارې یې وڅېړو. اجازه لرم چې د دې برخې په حواله په روانکاوی کې د غریزې پر کړنو چې موږ ورته د زیاتو څېړنو او ارزونو وروسته رسیدلي یو، له تاسو سره شریک کړم؟ زموږ باور دا دی چې انساني غریزې په دوه ډوله دي:

۱. هغه غریزې چې د انساني نفس د ساتنې (صیانت/ بقاء) او له ژوند سره سروکار لري – موږ دا غریزې «عشقي» بولو، کاملاً د عشق هغه مفهوم چې د افلاطون په «میلمستیا» نومې کتاب کې راغلی دی، یا «جنسي» د عامه منل شویو جنسي تمایلاتو د مفهوم په شعوري پراختیا سره.

۲. هغه غریزې چې د ویجاړتیا او مرګ غوښتونکي دي. موږ هغه غریزې د ویجاړتیا او تخریب د غریزو په نامه یادوو.

ګورئ چې زموږ نظریې په واقعیت کې یوازې د عشق او نفرت د نظري تقابل بدلون دی او شاید لومړنی نسبت یې د «جاذبې» او »دافعې» قطبونو ته ورسیږي چې ستاسو په تخصصي څانګه کې هم ونډه لري. اوس مه پرېږدئ چې موږ دومره ژر د ښه او بد له ارزونې څخه تېر شو. یادې دواړه غریزې مهمې دي او د ژوند روښانتیا د همدې دواړو غریزو د مشترکو کړنو او متقابلو تاثیراتو پایله ده.

داسې معلومېږي چې يوه غريزه هم نه شي کولای چې له بلې پرته او يوازې فعاليت وکړي او تل هره يوه له بلې سره تر يو ځانګړي حده ملګرې ده. په هغه ډول چې وايو: دا په يو او بل کې نغښتي دي چې موخه تعديلوي او هم د ځينو شرايطو په نظر کې نيولو سره ورته رسيږي. د بېلګې په ډول د نفس صيانت مسلماً د عشق له غريزې سرچينه اخلي، که چېرې غواړې ستا منظور او مقصود تر لاسه کړي، قهر او غوصې ته اړتيا لري. همدا ډول د عشق غريزه، په هر ډول چې وي، د معشوق د تر لاسه کولو لپاره د تصاحب غريزې ته اړتيا لري. د يادو دواړو غريزو د تاثيراتو د جلاکولو ستونزې، تر ډېره موږ د دوی له پېژندګلوۍ لرې کړي يو.

که چېرې لږ نور هم را سره اوسئ، نو وبه ګورئ چې د انسان کړه وړه يوه ځانګړې پېچلتيا لري. په ډېرو کمو او استثنايي حالاتو کې به د دې شاهدان اوسو چې يوه انساني کړنه دې له يوې غريزې سرچينه اخيستي وي. ځکه هره کړنه په خپل سر تحريک شوي ډول، بايد د عشق او نفرت د غريزې ګډ شکل و اوسي. قاعدتاً ډېرې انګيزې بايد په يو بل کې سره ګډې جبران شي چې د انسان کړنه امکان ولري. ستاسو يو همکار، پروفيسور «ګيورګ کرستف ليشتنبرګ» چې د ګوتنګن په پوهنتون کې د فيزيک يو پياوړی استاد و، تر ډېره پر دې مسله واقف و، شايد هغه د يو اروپوه پر ځای نه شوای کولائ چې د يو فيزيک پوه په کچه اعتبار خپل کړي. په هر حال هغه د «انګيزو د ګلباد» کاشف و چې وايي ((د ټولو هغه کړنو علت چې موږ يې په اساس کوم کار تر سره کوو ((موږ ورته نن «انګيزې» وايو)) کولای شو چې د قطب نما د پاڼې په څېر يې په ۳۲ برخو وويشو او تنظيم يې کړو او نومونه هم په مشابه ډول له يو بل سره ښه کېږدو. د بېلګې په ډول «کتاب – کتاب، کباب – کباب، کباب – کتاب». په دې ډول، کله چې انسانان جنګ ته بلل کېږي ډېرې انګېزې يې بايد د جنګ لپاره د خوښۍ او شور ځواب ووايي او له جنګ سره موافقت ولري، سترې او ټيټې ښې او بدې انګېزې، هغه انګيزې چې په لوړ غږ وړاندې کيږي او هغه انګيزې چې په سکوت سره ښکاره کيږي او پر ژبه نه راوړل کيږي. اړتيا نه لري چې موږ هغه ټولې ښکاره او راوباسو، اما تاوتريخوالي او تخريب ته ميل يقيناً چې په دوی کې شته. ډېر وحشتونه چې د تاريخ په لړ او په ورځني ژوند کې ترسره کيږي، د هغوی وجود او قدرت تاييدوي. مسلماً د تخريبي تمايلاتو او له نورو شهواني او معنوي غرايزو نغښتل او ترکيب د هغوی ارضاء ساده کوي. کله چې د تاريخ ناورينونه او شخړې ګورو، کله داسې ښکاري چې اصلي او معنوي انګيزې يوازې د تخريبي ميل د ارضاء لپاره بهانه وه. بل دا چې موږ باور لرو چې د مذهبي عقايدو د تفتيش محکمو د ظالمانه اعمالو او د وحشتونو د واقع کېدو پر وخت، معنوي انګيزو په شعور کې ځای ونيوه او د ځان په لوري يې د نظرياتو د جلب باعث شول او تخريبي انګيزو په لاشعوري ډول هغوی تقويه کړل. دواړه ياد شوي موارد د امکان وړ دي.

تصور کوم چې نه به مې ستاسو د علاقې وړ موضوع څخه چې له «جنګه مخنيوی» دی او نه مې له خپلو نظريو څخه سوء استفاده کړې وي، ولې پر دې ټولو سربېره، تمايل لرم چې لږ څه نور هم د تخريب پر غريزې وغږېږم، هغه غريزه چې محبوبيت يې په هېڅ وجه تر اهميته نه رسيږي. موږ په خپلو څېړنو کې تر زياتې ارزونې او تامل وروسته دې پايلې ته رسيدلي يو چې دا غريزه د هر ژوندي موجود په داخل کې فعاله ده او هڅه کوي چې ژوندی موجود په تدريجي ډول له پښو وغورځوي او ژوند پر يو غيرژوندي حالت واړوي .ياده غريزه په رښتيا هم د دې وړ ده چې «د مرګ غريزه» يې ونوموو، په داسې حال کې چې د عشق غريزه او شهواني غرايز د ژوند له کوښښونو او هڅو را زېږي. د مرګ غريزه هغه مهال د تخريب پر غريزې اوړي او بدليږي چې د يو ځانګړي غړي (عضو) په مرسته د يو بهرني شي په مقابل کې ترې ګټه واخيستل شي. يا په بل عبارت، ژوندی موجود له خپل ژوند څخه د يو پردي د له منځه وړلو په موخه ترې ساتنه کوي. اما د مرګ د غريزې يوه برخه د ژوندي موجود په داخل کې فعاله کيږي. موږ کوښښ کړی دی چې يو شمېر ناروغ ډوله او عادي پديدې د مرګ په غريزه کې له ننوتو څخه پايلې تر لاسه کړو. موږ حتی خپله پښه د عقايدو له محدودې بېرون ايښې ده او هڅه مو کړې چې د وجدان پيدايښت د همدې ډول تاوتريخوالي په ګردش کې توضيح کړو. وګورئ چې د دې ډول جرياناتو لمنه له حد څخه زياته پراخه شوې او د تخريب غريزه په پراخه پيمانه د ننني شي، په هيڅ وجه له ستونزو خالي نه ده او له يوې مخې زيان اړونکې او ګڼ عواقب به له ځانه سره ولري. په داسې حال کې چې د دغې غريزې د قواوو څرخيدنه په بېرون کې او د تخريب او ورانۍ په ډول د ژوندي موجود بار سپکوي او ممکن يو مطبوع تاثير پرې ولري .په واقعيت کې دغه جريانات د بيولوژيکي عذر د ټولو خطرناکو او بدو کوښښونو په خدمت کې دي چې موږ يې پر وړاندې د مبارزې هوډ لرو. بايد وويل شي چې هغه د انسان طبعيت ته د هغوی پر وړاندې زموږ د مبارزې په نسبت ډېر نژدې دي چې حتی توجيه او توضيح هم ورته پيدا کړو. شايد تصور وکړئ چې زموږ نظريات يو ډول اسطوره پوهنه ده چې زړه وړونکې او خوښوونکې هم نه ده. پوښتنه کوم، ايا ټول طبعيي علوم په يو ډول اسطوره پوهنې ته نه رسيږي؟ ايا فيزيک د دې يوه برخه نه ده؟

د بحث د دوام لپاره، له پورتنيو مطالبو څخه همدومره پوهېدای شو چې د انسانانو د تاوتريخوالي ډکو تمايلاتو د له منځه وړلو هېڅ اميد نه شو درلودلای. وايي چې د خاورينې کرې په ښې او خوشحاله سيمه کې داسې قومونه موندل کيږي چې طبيعت ټول هغه څه چې انسان ورته اړتيا لري، په ښه پرېمانه اندازه ورته برابر کړي دي او ژوند يې په ډېره مينه او مهربانۍ او له جنګ، زور او تشدد څخه پرته تېريږي. زه په ډېره سختۍ پرې باور کولای شم، اما غواړم چې زيات د دې ډول نيکمرغه انسانانو له ژوند څخه خبر شم. بلشويکان هيله مند دي چې د ټولنې د غړو تر منځ د برابرۍ پيدا کولو او د مادي اړتياوو د تضمين او ارضاء کولو له لارې به تاوتريخوالی د انسانانو له منځه ورک کړي. زما په

نظر یوه باطله او هسې غولونکې هیله ده .په اوسني حالت کې ښه ډېره وسله لري او حتی ځان ته د دې زحمت هم نه ورکوي چې خپل پلویان د نورو پر وړاندې له نفرت او کینې څخه را وګرځوي. له دې هر څه وړاندې، هماغه ډول چې تاسو هم ورته اشاره کړې ده، زموږ موخه په کامل ډول د انسانانو له تاوتریخوالي ډکو تمایلاتو له منځه وړل نه دي. یوازې باید کوښښ وکړو چې دا تمایل داسې رهبري شي چې د جګړې په ډول سر راپورته نه کړي.

په دې ترتیب، د غریزې د اسطوریي زده کړې له لارې له جنګ څخه د غیر مستقیم مخنیوي اسانه لاره پیدا کولای شو. که چېرې جګړې ته تیاری د تخریب د غریزې د بلافاصله اثراتو پایله وي، داسې معلومېږي چې د همدې غریزې رقیب، یعنې د عشق له غریزې څخه مرسته غوښتلی شو. هر هغه څه چې د انسانانو تر منځ د احساسي/ عاطفي تړون موجب ګرځي، کولای شو چې د جګړې پر وړاندې ترې کار واخیستل شي او په سوله کې ژوند وکړو.

سوله ډېرتعریفونه لري. کیدای شي چې ځینو خلکو ته سوله د ډلو او دولتونو تر منځ د جګړو، شخړو او اخ او ډب د نه شتون یا په بل عبارت د ډز بندۍ په معنا ګنې. خو که چیرې په یو هیواد کې پورته یادې شوې ستونزې شتون هم و نه لري او خلک خپلو روا حقوقو ته لاسرسی و نه لري عدالت شتون و نه لري او په یوه ټولنه کې عدالت حاکم نه وي، نو د خلکو حق به خوړل کیږي چې په دې صورت کې به خلک بیا هم اړ شي چې د خپلو حقوقو د تر لاسه کولو لپاره لومړی د قانون په چوکاټ کې خپلې غوښتنې مطرح کړي او که چیرې له قانوني لارې دا کار عملي نه شي نو د حقوقو څخه محروم خلک به په هره لاره چې وي د خپلو روا حقوقود تر لاسه کولو لپاره به بله لاره چاره غوره کړي که هغه لاره نرمه وي او یا ګرمه .داسې باور کیږي چې سوله هغه مهال **شتون لري چې په ټولنه کې لاندینی حالت حاکم وي:**

خلک د ډار او یا تاوتریخوالي د ګواښ پرته په خوندیتوب کې ژوند وکړي، یعنې د ټولنې هر غړی کولای شي چې په ډېر ډاډ سره د ژوند ټولې چارې له هر ډول ډار پرته سرته ورسوي. د تاوتریخوالي او ظلم هیڅ ډول په قانون کې د منلو وړ نه وي یا هیڅ ناروا عمل د بخښنې وړ نه وي.

قانون د ټولو پر وړاندې یو ډول پلی شي، خلک په قضایي سیستم باندې باور ولري، او د خلکو حقونه په عادلانه او اغیزمنه توګه د قصایي/عدلي او امنیتي ادارو له لورې په خوندي توګه وساتل شي.

هر څوک کولای شي چې په سیاسي او سیاسي پریکړو لکه د قوانینو، مقرراتو او پالیسیو جوړولو کې ګډون وکړي. حکومت خلکو ته حساب ورکړي او د ملت د یو خدمتګار په توګه عمل وکړي نه د یو حاکم په توګه. البته په ټوټالیتر نظامونو او سیسټمونو کې حکومت هیڅ چا ته ځواب ویونکی نه وي، خو برخلاف جمهوري نظامونه د پورته یادو ځانګړنو درلودونکی وي.

هر څوک بنسټیزو اړتیاو لکه خوړو، پاکو اوبو، سرپناه، ښوونې او روزنې، روغتیا پاملرنې او د ژوند سپیڅلي چاپیریال ته د جنس، قوم، ژبې، ملت، مذهب او نژاد له په پام کې نیولو پرته یو ډول لاسرسی

ولري. له شک پرته دا کار هغه مهال شونی دی چې په ټولنه کې یو عادلانه نظام حاکم وي. ټولې فیصلې د قانون له مخې او د خلکو له خوا مطرح شوي قانون په چوکاټ کې تر سره کیږي. خلک د هغوی د ځانګړي هویت په پام کې نیولو پرته د کار او ژوند، یو ډول فرصتونه لري. هغوی ته د هغوی د وړتیا سره سم د کار شرایط برابریږي او د هیواد په هره برخه یا سیمه کې یې چې خوښه وي سکونت اختیارولای شي او د هر ډول ګواښ پرته خپل عادي ژوند ته ادامه ورکولای شي.

د پورته یادو شوو حالاتو شتون د عدالت په رڼا کې شونی دی کوم چې په خپل وار د رښتوني سولې ضمانت کوي او لاره ور ته هواروي.

سوله د مثبت او منفي حالت په بڼه را څرګندیږي: لکه چې پورته ورته اشاره وشوه ځینې خلک په ساده باور د تاوتریخوالي او جګړې نه شتون ته سوله وايي. د سولې دې ډول ته منفي سوله وايي. منفي سوله د هغه نامطلوب حالت ښکارندویي کوي چې نه واقع کیږي، لکه د بیلګې په توګه د اوربند له امله جګړه درول شوې ده، حتی که چیرې د نورتاوتریخوالي د خپریدو امکان لا تر اوسه هم شتون ولري.

کله چې د تاوتریخوالي او بې عدالتۍ هره بڼه که هغه مستقیمه وي یا کلتوري شتون و نه لري، نو دې حالت ته مثبته سوله وايي. د مثبتې سولې موخه د ټولنې د بیلا بیلو ډلو، لکه ښځو او نارینه وو، ځوانانو او سپین ږیرو، تر منځ او همدارنګه د ښاري او کلیوالي سیمو د خلکو ترمنځ د واک توازن رامنځته کول دي. مثبته سوله د هغې ټولنیزې سولې په معنا ده چې د ټولنې ټول غړي سرچینو ته لاسرسي و لري او و کولای شي چې خپلې لومړنی بشري اړتیاوې پوره کړي. سوله د هر ډول جګړې یا شخړې د بشپړ نشتون په معنا نه ده، ځکه چې جګړه یا شخړه زموږ د ژوند یوه طبیعي او اړینه برخه ده. د هغې سمه معنا دا ده چې جګړې یا شخړې، خپل ځای سوله ایزو لارو چارو ته پریږدي او د درناوي له لارې د ټولو ښکیلو وګړو روا (قانوني) اړتیاوو او ګټو ته د عدالت په رڼا کې پاملرنه و شي. له همدې امله، سوله هغه بهیر ته ویل کیږي چې شخړې (جګړې) د سوله ایزو لارو له لارې د خلکو تر منځ اړیکې بیا رامنځته کړي، د خلکو دردونو ته مرهم وګرځي، پخلاینې ته پاملرنه وکړي او داسې ټولنیز سیستمونه رامنځته کړي چې د ټول نفوس اړتیاوې پوره او د شخړو د حل لپاره رغنده کار تر سره کړي. دا یو اوږد بهیر دی چې پای ته نه رسیږي.

څرنګه سوله راوستل کیږي؟

د سولې راوستل یو مفهوم دی چې په هغه کې بیلابیل بهیرونه، کړنلارې او پړاوونو چې ویجاړونکي شخړې په پایښت لرونکو اړیکو بدلې کړي، اړین په کې شامل او تلپاته و ساتي. دا اصطلاح په همدې توګه په پراخه کچه یو لړ فعالیتونو ته وايي چې د سولې د رسمي تړونونو څخه د مخه او وروسته تر سره کیږي. د دې پوهې په رڼا کې، سولې ته نه

يوازې د يو پړاو يا حالت، بلكه د بهير په سترګه كتل كيږي. سوله داسې يو بهير دی چې بايد يو څوك په كې بوخت شي، نه دا چې يو داسې موخه و ګڼل شي چې يو څوك ورته و رسيږي.

د سولې راوستل د ډيرو بيلابيلو ښكيلو اړخونو لكه حكومتونو، مذهبي سازمانونو، مدني ټولنو، دوديزو مشرانو او جوړښتونو، رسنيو، او سوداګريزو ټولنو دنده ګڼل كيږي: دا د ټولنې په ټولو بنسټونو لكه علمي بنسټونه او حكومت، په ښوونځيو او سوداګريزو مركزونو او هر كلي او ښار كې د ټولنيزو مركزونو په كچه كار غواړي. د سولې راوستل د ارزښتونو، د اړيكو د مهارتونو، تحليلي چوكاټونو، او ټولنيزو بهيرونو يوه ټولګه ده.

د سولې د راوستلو لپاره د خلكو او د هغوی د چاپيريال تر منځ د رغنده اړيكو جوړولو مهارتونو ته اړتيا لري. په داسې حال كې چې جګړې د ټولو اړيكو يوه طبيعي برخه جوړوي، خلك كولای شي هغه مهارتونو سره ځان بلد او باور پرې پيدا كړي د كومو لارو څخه په استفاده له نورو سره اړيكه جوړه كړي تر څو د ژوند په ځرنګوالي كې ښه والی راولي. اړيكې او پوهاوی، پوښتنې او ځوابونه، منځګړيتوب او خبرو اترو مهارتونه د سولې د راوستلو لپاره د بهيرونو اصلي برخه جوړوي.

د سولې راوستل په جګړه ځپلو هيوادونو كې د پايښت لرونكي بشري امنيت او عادلانه پرمختګ د رامنځته كولو بنسټ ګڼل كيږي.

**د سولې د راوستلو بهيرونه:**

د تاوتريخوالي پرته د شخړو سمبالول: د داسې يو ملاتړ اړتيا شته چې د يوې ډلې د ځواك د زياتولو له لارې د هغوی د ستونزو د حل لاره پيدا شي، او د اړينو شرايطو له لارې اړيكو ته بدلون ور كړل شي.

د مستقيم تاوتريخوالي كمول: بايد هڅې و شي ترڅو مستقيم تاوتريخوالي لږ شي. دا كار بايد عدالت ته د سرغړونكو (عاملينو) د را كش كولو، قربانيانو ته د هوساينې برابرولو، تاوتريخوالي د مخنيوي، د سولې د راوستلو فعاليتونو ته يو خوندي چاپيريال برابرولو، هغه چې د تاوتريخوالي اصلي لاملونه ګڼل كيږي، د پام كولو له لارې تر سره شي.

په اړيكو كې بدلون راوستل: داسې هڅو ته اړتيا ده چې موخه يې د داسې بهيرونو رامنځته كول وي چې دردونو ته درمل وګرځي، شخړو ته د پاې ټكی كيږدي او عدالت رامنځته كړي، تر څو د خلكو او هغوی په اړيكو كې بدلون راولي. دا بهيرونه خلكو ته فرصتونه وركوي چې د اوږدې مودې لپاره، پايښت لرونكې حل لارې رامنځته او د هغوی اړتياوو ته پاملرنه وكړي.

د وړتیا لوړول: هغه فعالیتونه، چې موخه یې یوازې د داسې جوړښتونو رامنځته کول وي چې د سولې د یوه پایښت لرونکي کلتور مخکښ جوړ شي، باید پلان یې جوړ او پلي شي.
نو دا بیا پر دې سربیره د خلکو لپاره ممکنه ده چې د اوږد مهالې سولې راوستلو د هڅو په اړه فکر و کړي تر څو اړتیاوو او حقونو ته ځواب و وایي، د ښوونې او روزنې، پرمختګ، پوځي بدلون او تحول، څېړنې او ارزونې له لارې د تاوتریخوالي د مخنیوي شته وړتیا لوړې کړي.

**د سولې د راوستلو لپاره غوره او بنسټیز اصول:**

ارزښتونو ته پام کول: رواني، شخصي او سازماني غبرګون ته پام کول چې د سولې د راوستلو پروګرامونه د هغوی د ارزښتونو سره څه ډول تړاو لري.
بنسټیزو اړتیاوو او حقونو ته پام کول: د سولې راوستل د خلکو سره مرسته کوي تر څو هغوی لومړنیو اړتیاوو او حقوقو ته لاسرسی ولري په داسې حال کې چې د نورو اړتیا او حقونه هم ومني.
د جګړې او تاوتریخوالي شننه (تحلیل): د جګړې او تاوتریخوالي د لاملونو او ریښو دوامداره تحلیل ته اړتیا ده، تر څو د سولې لپاره مناسبې لارې چارې او منابع په ګوته شي.
د اوږده مهال پلان جوړول: د سولې راوستل کیدای شي د لنډې مودې د پلانونو او یا فعالیتونو له لارې تر سره شي، خو ټولنیز بدلون راوستل ښایي کلونو او لسیزې ونیسي.
د ټولو سیستمونو بدلون: د سولې راوستل د شخصي اړیکو، کلتوري او جوړښتیزو سطحو او د نظام او سیستم بڼې ته بدلون ورکوي.
د همغږۍ کړنلارې او ښکیل اړخونه: بیلابیل ښکیل اړخونه باید خپلې کړنلارې د خپل مسئولیت، حساب ورکولو، د مقابل لوري معقولو او روا غوښتنو، ځان تیریدنې او انعطاف او هر اخیز ګډون له پلوه د سولې راوستلو په لار کې همغږي وکړي.
پیژندل او د ځواک جوړول: خلک باید د نورو سره د ګډو هلو ځلو او همکاریو پر بنسټ د خپلو انساني اړتیاوو د پوره کولو لپاره د نه تاوتریخوالي ځواک څخه ښه پوهاوی و لري.
ښکیلو اړخونو او خلکو ته مناسب واک ور کول: د سولې راوستل باید په مشارکت او خپل ځاني ټینګ هوډ ولاړې وي چې کولای شي پیاوړې او پراخه شي او نورې مناسبې هڅې باید تر سره شي چې د نورو د نظر اوریدلو او ځواکمن کولو پر بنسټ ولاړې وي.

**اخځلیکونه**:

۱. انګلیسي لیکوال ، اسکرین (Eskrine) کتاب نوم، (دیانت په محبت قیمت دی)

۲. مولف ، بنجامین جوټ (Benjamin Jewett) د اکسفورډ د پوهنتون استاد او د افلاطون د کتاب ژباړن ، کتاب نوم، (غیرتي ژوند )، د چاپ کال ۲۰۰۱.

۳. مولف ، کانوی هندرسون ، کتاب نوم، (سوله د بشریت ساه) ، د چاپ کال ۲۰۰۷

٤. مولف شمسزی عزت الله ، کتاب نوم، ( پرپښتو شعر د جنګ اغیزې) ، چاپ ځای ، د افغانستان د حقونو خپلواک کمیسیون، د چاپ کال ، ۱۳۹۱ .

٥. مولف ، شرف الدین اعظیمي ، کتاب نوم ، (انسان او جګړه )، په کابل کې د اکسوس کتاب پلورنځي لخوا چاپ شوي د چاپ کال ۲۰۱۵

٦. لیکوال ، ملا عبدالسلام ضیعیف، کتاب نوم، ( دبنسټیزو ستونزو د حل لارې) ، چاپ ځای ، لاهور، چاپ کال، ۱۳۹۰.

۷. لیکوال ، لیف نیکولایوویچ تولستوی ، ژباړن: دوکتور لطیف بهاند، کتاب نوم ، (جګړه او سوله )

۸. (رواه النسایی صفحه ۳٥۲ جلد ۱ ابوداود صفحه ۲۳۷ جلد۱ )

۹. (رواه الترمذي صفحه ۲۲۰ جلد ۱ ریاض الصالحین صفحه ۱٥٦ )

۱۰. (رواه البیهقي في شعب الایمان مشکوة صفحه ۲٦۸ )